
پلوشی

ژورلیدونه

امین الله دریځ



PROPERTY OF
ACKU
8636

نوم : پلوشې (ژورلیدونه)

لیکوال : امین الله دریځ

خپرندوی : دانش خپرندویه ټولنه - پېښور - ۲۵۶۴۵۱۳

کال : فبروری / ۲۰۰۰

شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوزر : نجیب الله وصال

Download from; aghalibrary.com

سریزه

ژوند یو ستر ښوونځی دی. انسان په دغه ښوونځي کې هم زده کوونکی دی. هم ښوونکی. دلته د لوړتیا او پرمختګ لارلټول کېږي چې موخه او غوښتنه یې د پوهې او پېژندنې بشپړتیا او د ژوندانه نویوالی دی. انسان له ډېرې اوږدې مودې راهیسې پر دغه لار یونې او تر دې شېبې یې غوره او پر زړه پورې بریاوې هم ګټلې دي. د دغه بهیر په ترڅ کې هرځای او مهال داسې ژوراندې څېړې راپېښېدلي چې د ژوندانه هر اړخ یې ځیرلی او د چاپېریال لوښې او ځانګړتیاوې یې څېړلې دي. سربېره پر دې، دوی د خپلو ځیرنو او څېړنو پایلې د ځانګړیو فلسفو او نړۍ لیدونو په چوکاټ کې د نورو د لارښوونې له پاره نړیوال فکري بهیر ته وړاندې کړي او په دې توګه یې د انسانیت پر وړاندې خپله نه هېرېدونکې دنده سرته رسولې ده. ننني نړیوال تمدن د همدغو اندونو له اوډنې رغېدلی او دا دی لا د ناټاکلي بشپړتیایي پراو پر لوري، لودن، لاروهي.

دا به د هرچا له پاره یو ګټور کار وي، که واوري او پوه شي چې چا، چېرته او کله څه ویلي او دا وینا یې د انساني ژوندانه د سوکالۍ او لوړ انساني رغښت په لار کې څومره پرځای او ارزښتمنه ښکاري؟

دا دي د همدغه ار له مخې مې د نړۍ د ځینو نومیالیو د اند پلوشې او زما د خپلو ازمېښتونو او لیدونو لنډې بېلګې چې د ځینو برخو په پای کې راغلي؛ ګرانو لوستونکیو ته ډالۍ کړې، هیله ده چې له یوې خوا یې له نړیوال فکري، فرهنګي غورځنګ سره روږدي کړای شي او له بلې خوا یې د سترو انساني ارمانونو په بشپړېدو کې مرستندوی وي.

د همدې سپېڅلې غوښتنې د سرته رسېدلو په هیله، له دانش خپرندویې ټولنې. په ځانګړې توګه د هغې له مشر "ګران فرهنګپال اسدالله سایې" نه مننه کوم چې له یوې خوایې زه ددغه زیار ګالو ته وهڅولم او له بل لورې یې د چاپ هر لګښت و کړاو ته هم په خوږه موسکا اوږه ورکړه.

مننه

۱. دریځ

نیولیک

کنه	سرلیک	مخکنه
۱.	ژوند	۱
۲.	روغتیا	۹
۳.	پوهه	۱۳
۴.	هیله	۲۱
۵.	هود	۲۵
٦.	دنده او کار	۳۳
۷.	تمدن	۳۹
۸.	اخلاق	۴۲
۹.	ملګرتیا	۵۰
۱۰.	تیتال	۵۷
۱۱.	شتمني	٦۰
۱۲.	هېواد، ملت و ټولنه	٦٦
۱۳.	خدای	۷۲
۱۴.	بشر پالنه	۷۵
۱۵.	حق و قانون	۷۸
۱٦.	سیاست و واکمنی	۸٦
۱۷.	ځواني	۹۳
۱۸.	زړورتیا او سرتیري	۹٦
۱۹.	خپلواکي	۱۰۱
۲۰.	جګړه او سوله	۱۰۸

۲۱	لويوالي او ويار	۱۱۴
۲۲	تاريخ	۱۱۷
۲۳	سوكالي	۱۲۱
۲۴	بدمرغي	۱۲۴
۲۵	بنكلا	۱۳۰
۲۶	مينه	۱۳۴
۲۷	مور	۱۴۱
۲۸	موسكا	۱۴۴
۲۹	كورنى ژوند	۱۴۶
۳۰	هنر	۱۵۸
۳۱	شعر و موسيكي	۱۶۱
۳۲	ليكوالي	۱۶۵
۳۳	وينا	۱۷۰
۳۴	مرګ	۱۷۵

PROPERTY OF
ACKU
8636

ژوند

چوپه نـړۍ هديـرې تـه ورتـه وي او د ژوندانـه غـږ تـرې نـه اوربدل کـېږي.

"حضرت علي ک"

❁❁❁

که هوا ناپاکه ده، نـو څه وکـړو؟ آيـا اسـوبلی پـربږدو؟

کانت

❁❁❁

که راته وويل شي چـې نـن شـپه مـرې! وبـه وايم چـې د خـدای بـه همداسې خوښه وي! خـو خـدای مـه کـړه چـې څوک راتـه ووايـي: "سـتا له لاسه يوه چاتـه بدمرغـي ورپـښه شـوې ده"

"کانت"

❁❁❁

د ژوندانـه د کړکـېچونـو د لـرې کولـو لپـاره بنايـي د لنـډې لارې د لټولو پر ځای سـمه لار ولـټول شـي.

"ډاکټر شريعتي"

❁❁❁

د ژوندانه پر سـتونزو بـری مونـدل ربښتينـې زړورتيـا ده.

"ناپليون"

ما يو کتـــاب او يـــو ښوونکـــی لاره. کتـــاب مـــې ژونـــد و. ښوونکـــی مـــې ازمېښتونـــه دي.

"موسولیني"

❁❁❁

ژوند تر هغـــې پـــورې تـــر مرينـــې ښه دی چې وېره او دار پـــه کـــې نـــه وي؛ ښوزلـــی او لـــوږې نـــه وي تريـــخ کـــړی او تـــبري او تـــادا نـــه وي تيـــاره کـــړی.

"محمد مسعود"

❁❁❁

زمـــا د ژوندانـــه منـــی راورسـېد، غـــوارم د هغـــې ونـــې غونـــدې شـــم چې په يوه ټکـــان دخـــوږو مـــيوو بـــاران تـــرې ووري.

"بتهون"

❁❁❁

کـــه د ژوندانـــه د کلـــک بنســـټ پـــه جوړولـــو کـــې د مـــودې لـــه اوږدوالي څخـــه ونـــه ډار شـــوئ، د ژوندانـــه لوړتيـــا بـــه مـــو لـــه وړېځو ســـره سيالي وکـــړي.

❁❁❁

ژونـــد د بخـــت د لاس لانڅکـــه نـــه ده، دا يـــــوه ارزښتمنـــــه شـــــيبه ده چې ښايي کتـــه تـــرې واخيســـتل شـــي.

"ډاکټر ماردن"

❁❁❁

د انســـان ژونـــد د کړنـــو لـــه مخـــې شـــمېرل کـــېږي، نـــــه د کلونـــــو لـــــه مخـــې.

"اسمايلز"

❁❁❁

ناهيلی ژوند و مـــرګ يـــو شـــان دي.

"اعتصام الملک"

❁❁❁

د عادت ښکـــېل د ژونـــد وړ نـــه دی.

"تازی متل"

د تاکلې ټوخې له لرلـو پرتـه ژونـد بـې خونـده دی.

کولانې

❁❁❁

هـر لاروی د خپـل يـا نـه پـای تـه تلوسـه لـرې، خـو د ژونـــد هغـه (لاروی) نه! حکه چـې پـای يـې د مرينـې ګرنـګ دی.

"پوهاند داکټر زيار"

❁❁❁

زمـا د ژوندانـه وروسـتی هيلـه دا ده چـې تـر مرينـې وروسـته مـې د ډبرو او پولادو پرځای په غوښينـو زړونـو کـې نـوم وکـښل شـي.

"پوهاند داکټر زيار"

❁❁❁

انسـاني پرمختګونـه د هغـو زبـر و ګړيـو د انـد و ژونـــد زيږنـــده دي چـې تـر خپـل مـهال، پـيړۍ پـيړۍ لـه مخـه زيږي او لـه همـــدې کبلـــه څوک ورتـه د همزولـو او هممـهالو په سترګه نـه ګوري او لا ليونـي يـــې بـولی.

"پوهاند داکټر زيار"

❁❁❁

د خوړلو له پاره ژوند مه کـــوه، وخـوره چـې ژونـد وکـړې.

"امريکايي متل"

❁❁❁

ژوند لوبـه ده او لوبـه زده کـول غـواړي.

"حجازي"

❁❁❁

ژوند ته که لـه هـرې خـوا نـه وګورې، ښکلـی دی.

"ګوټه"

❁❁❁

ژوند سـرتر پايـه زده کـړه او پرمختـګ دی.

"لابولايد"

❁❁❁

ژوند پرله پسـې پلـټون دی.

"لامارتين"

هغه چې زړه سوی زېږوي. ژوند زېږوي.

"وان ګوک"

❁❁❁

خلک د خپل ژوندانه تېروتنې سرپرسر کړي او چې یوه لویه بلا ترې جوړه شوه، بیا د تقدیر نوم پرې کېږدي.

"جان او لیودهاینو"

❁❁❁

که ژوند ډېر څه نه درکوي، مانایې دا ده چې ډېر څه مو تري نه دي غوښتي.

"مارسل پیره وو"

❁❁❁

د ننني هنر موخه ژوند ده، نه ښکلا.

"ویکتور هوګو"

❁❁❁

هغه له ژوندانه نه ګیله من دی چې ناشوني غوښتنې لري.

"رنان"

❁❁❁

هرځای ښه ژوند جوړېدلی شي.

"مارک اورل"

❁❁❁

له ورکې مینې سره ژوند کول، تر بې مینې ژوند ښه دی.

"رابیندرانات ټاګور"

❁❁❁

ننني نړۍ هغه چا ته د ژوندانه لار ورکوي چې پر خپلو پښو دربدلی شي او تل د هرچا پربکړې ته سر نه ټیټوي.

"امرسن"

❁❁❁

دا نړۍ یو موټی خاورې نه دي، دا د وسپنې یوه ټوټه ده چې انسان ته ښایي پرله پسې یې په څټک ووهي او په کلکو ګوزارونو ځان ته ځای په کې جوړ کړي.

"ډاکټر ماردن"

د هرې ورځې تېرېدل مورږ ته د نبو او بدو يو لوست و زده کړه ده او هره کړنه مو که کوچنۍ او بابېزه هم وي: ځانګړې نښې او پايلې لري، ځکه وايي چې: نړی وېښته هم بې سيوري نه وي.

"اسمايلز"

❁❁❁

تر دې لويه بدمرغي نه شته چې په ناخوالو کې د خوښيو شېبې رايادوو.

"دانته"

❁❁❁

د ژوند مانا د هغه په ښکلا او ځواک کې ده.

"ماکسيم ګورکي"

❁❁❁

ځومره چې د ژوندانه لمر لويديځ ته نيژدې کېږو، هيلې مود سيوري غوندې اوږدېږي.

"ډاکټر يانګ"

❁❁❁

تر هغه ژوند چې ښځه او شراب په کې نه وي، غوره ده چې شيطان مو له ځان سره بوځي.

"ګوېته"

❁❁❁

هره ورځ ځان نوی کوه، بيا هم ځان نوی کوه، تل ځان نوی او تازه ساته.

"کنفوسيوس"

❁❁❁

ژوند يو ښکلی کتاب دی، خو نالوستو ته ګټه نه لري.

"کارلوګد لدونی"

❁❁❁

هيله د ژوندانه ولې (جړۍ) ده، سره له دې چې دا ولې سوکه، سوکه ژوند سپږي، خو د ژوندانه ونه هم پرې ولاړه ده.

"نيل"

هرڅومره مې چې ژوند ښوروي، لانبه پوهېږم چې هغه څه چې زموږ پلرونو ته ښه وو، موږ ته ښه نه دي.

"سکار وايلډ"

❁❁❁

آيا ژوند دومره ښاغلی او سوله دومره خوږه ده چې د ښکپلاک و زنځير په بيه وپېرودل شي؟

"پاتريک هانري"

❁❁❁

راځئ شتمن ژوند وکړو، نه دا چې شتمن مړه شو.

"ډاکټر جانسن"

❁❁❁

زما د ژوندانه تر ټولو خوږې شېبې هماغه وې چې په خوب کې تېرې شوې.

"بتهوون"

❁❁❁

هغه څوک د ژوندانه دبري راز پېژنې چې نه دي بريالي شوي.

"جان کولينس"

❁❁❁

يوازې هغه څوک ماتې خوري چې هڅه او مبارزه نه کوي.

تامس بيلي الډريچ

❁❁❁

له زوکړې او مړينې تېښته نه شته، يوازېنی چاره دا ده چې د دغو دواړو تر منځ له واټن نه ګټه واخلو.

"ژرژسانتايانا"

❁❁❁

په ژوندانه کې تر ټولو بريالی هغه دی چې نه ژوند يې کړی، دېر يې خندلي او دېره مينه يې کړې.

"سن آندرسن"

❁❁❁

ژوند به مو هله ښکلی او روښانه وي چې نه وکنئ، نه وکړئ او نه ووايئ

"زردشت"

د ژوندانه د ستونزو د زغملو لپاره له کار، ښځې او ارمان سره
مینه ولرئ

"مارکوس آنا"

•••

ویده وم. خوب مې ولید چې ژوند ښکلا ده. راویښ شوم
وپوهېدم چې ژوند دنده ده.

"آلن هوپر"

•••

د خپل زړه پر سر ولیکئ چې هره ورځ د کال تر ټولو ښه ورځ ده.

"امرسن"

•••

د ژوند مانا د ستونزو کالل دي، نه سرې له خپل نفس سره
جنګېږي چې پرې واکمن شي.

"ناپیلیون"

•••

ژوند د زغملو نه دی، خو دا ټکی مه څرګندوئ.

"نیچه"

•••

د ژوندانه د لوبې په پیل کې انسان تېروتونکي او په پای کې
یې تېرویستونکی دی، یا په بله وینا د وري غوندې زېږي او د کیدړ
غوندې مري.

"ولتر"

•••

زه د خوښۍ لپاره نړۍ ته نه یم راغلی، زه راغلی یم چې لوی
کارونه سرته ورسوم.

"بتهوون"

•••

د باد بهیر ته مخامخ لاړې مه توکوده.

"نیچه"

•••

له ډار نه وېرېدل د ژوندانه لوړنی لوست دی.

"امرسن"

کاندې (راتلونکي) د هغه چا ده چې هیله یې لري.


"مصطفی کمال اتاترک"

د انسان ژوند هغه هنداره ده چې کتوري زده کړې پرې لیدلی شو

"ناپلیون"

د نبه ژوند کولو لپاره بنایي د ژوندانه د پاسه اوسې، نو زده کړه چې تل پورته لاړ شې، زده کړه چې تل کښته وګورې.

"نیچه"



روغتيا

تر هغې چې درد زغملی شـــې، درمـل مـه خـوره.

(حضرت محمدﷺ)

❁❁❁

کـه څوک روغ ژونـد غـواړي سـهار دې ژر لـه خوبـه پـــاڅي، ســپک کالي دې واغوندي او پـــه جنســي اړيکيـو کـې دې منځلاری اوســي.

"حضرت علي ک"

❁❁❁

د نړۍ لومړنی بـــې ســاري ښځنه روغتيـا، ورپســې ښکـلا ده، بيـا هغـه شـتمني چـې پـه ربنتينولـی او ښه نامـه لاس تـه راشـي، او همـدا راز لـــه څو منليو دوستانو سره د ځوانـــی لـه شـيبو نـه خونـد اخيسـتل دي.

"سيموند"

❁❁❁

که اروايي هوســاينه غـواړې ژوي مـه وژنـه.

"د چين و هندو فلسفه"

❁❁❁

لږخوره چې ناروغ نـــه شـې.

"جالينوس"

❁❁❁

چې سپورت کوي درملو تـه اړتيـا نـه لـري.

"ابن سينا"

سپښلی سړی لږ خوري. لږ څښي او لږ ویدېږي.

"مهاویرا"

❁❁❁

لږ خوړل خوندور او ډېر خوړل بې خونده وي.

"چيني متل"

❁❁❁

ناروغ بدن د روغو ماغزو ځای نه دی.

❁❁❁

پرله پسې جنسي اړيکې روغتيا له منځه وړي.

"خوشال خان خټک"

❁❁❁

روغتيا نعمت دی.

"دري متل"

❁❁❁

د روغتيا خاوند هيلې لري، د هيلو خاوند هرڅه لري.

"عربي متل"

❁❁❁

په روغتيا کې د خوړو په خوند نه پوهېږو.

"ارستو"

❁❁❁

روغتيا ساتنه تر کار ارزښتمنه ده.

"پوشه"

❁❁❁

کلک خواړه مه خورئ.

❁❁❁

هره ورځ يوه مڼه خوره، ډاکټر ته به دې اړتيا نه وي.

"انګريزي متل"

❁❁❁

چې ډېر خورې، لږ خوړلو ته به اړ شې.

"اسپانوي متل"

❁❁❁

سږيو ته لوګی تېرول، په خپله خوښه زهر خوړل دي.

"ډاکټر کروليخ"

❁❁❁

ایرانیان زړورتیا او د غړیو روغوالی د زلمیانو ښکلا ګڼي او هڅه کوي چې د سپورت له لارې لاپسې ښکلي شي.

"پلوتارک"

❁❁❁

هغه څه چې د مزو، چرچو، بوختیاوو، هوا او هوسونو په ترڅ کې د هیڅا ورته پام نه دی، خو همدا چې لاړه او لرې شوه ارزښت یې څرګندیږي؛ پېژنئ؟ روغتیا ده!

"فریدریک"

❁❁❁

کلادستون وپوښتل شو: روغتیا مو څنګه ده؟ ویې ویل: دوه دېرش غاښونه لرم او هره ګوله دوه دېرش ځله جویم، لاغواړئ چې روغ نه اوسم؟

❁❁❁

خلک د نړۍ د ښپګنو د ناسم و نابرابره وېش په اړه دېرې ګیلې کوي خو له بنه مرغه د ژوندانه د ښپګنو او د هغه د سترو ښښنو په اړه هیڅډول توپیر نه شته او د پنځ (طبیعت) ورکړه ټولو ته یو شان ده چې تر ټولو ستره یې روغتیا او وخت دی.

حضرت علي ک

❁❁❁

د انسان روغتیا ته بل هیڅه دومره تاوان نه پېښوي، لکه په ګډه کې سرپرسر شوي خواړه.

"ابن سینا"

❁❁❁

چې اروا کمزورې شي جسم هم نیمګړی کېږي او که جسمي ځواک ګډود شي اروا اغېزمنوي، نو هڅه وکړئ چې دواړه روغ وپیاوړي وي.

"زرتشت"

❁❁❁

هرو، مرو به سپورت کوم که نه عقل به مې تباه شي.

"تولستوی"

په ذهني بوختياوو کې د بري لاس ته راوړلو او د اوږدې مودې کار کولو له پاره بنايي بدن غښتلی وي.

"آليوت"

چې روغتيا نه وي، د نړۍ ټول خوندونه هغو خوږو څښاک اوبو ته ورته دی چې په زهر لړلې خوله کې تويږي.

"شوپنهاور"

روغ عقل په روغ بدن کې وي.

پوهه

له زانکو نه تر کوره د پوهې پـه لـته کـې اوسـئ.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

هغه پوهه چې کته ونـه لـري، هغـه خزانـه ده چـې لـکښت تـرې ونـه شي.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

د ازمېښت ربښتينولي تـر ټولـو اندونـو او فلسـفه پېيلـو اوچتـه ده.

"موسوليني"

❁❁❁

انسان په بنوونـــه او روزنـه انسـان دی.

"سید جمال الدین افغان"

❁❁❁

هر بنوونځی مو چې پرانيســت د زنـدان يـو ور مـو وتـاړه.

"وينکتورهوګو"

❁❁❁

رانده تـه شـپه او ورځ يـوه ده.

پښتو متل

❁❁❁

ناپوه مه وژنئ، ناپوهي يې ووژنئ.

"سید جمال الدین افغان"

پوهــه خواک دی.

❁❁❁

هغه څه چې د هـر څه تـر ټوسـتلو او هېرولـو وروسـته پـه مـاغزو کـې پاتې کېږي. پــېژندنـه (معرفـت) دی.

"ادوارد هريو"

❁❁❁

تر نه پوهېدو، بــې ارتيـا پوهـېدل هـم ښه دي.

"سندکا"

❁❁❁

له هغه ناپوه نه تښته چــې ځانتـه پـوه وايـي.

❁❁❁

پـاکلان بـې ګټې بـوتي دي چـې پـه خپـل سـر اتو کېږي او کرلوتــه ارتيا نه لــري.

"چکي متل"

❁❁❁

تر ټولو هوښيار هغه دی چې له نــاپـوه نـه تښتـي.

(حضرت محمدص)

❁❁❁

پوهـېدل ښه دي، کــول لانبه.

"کايبل"

❁❁❁

مړ پوه ژوندی، او ژونـدی نـاپـوه مـړ دی.

"حضرت علي ک"

❁❁❁

هوښيار دا تمه نه لــري چـې څوک يـې وسـتايي.

"لاووځه"

❁❁❁

هوښيار جګړه نــه کـوي.

"مهاويرا"

❁❁❁

ناپوهــي لـوی درد دی.

"کارلايل"

یوازې همدومره پوهیږم چې هیڅ نه پوهیږم.

"سوکرات"

بنایي پوهه او ادب تل سره ملګري وي. بې پوهې ادب او هغه لیکنه چې پر پوهنیزو بنسټونو ولاړه نه وي. تش دول دی. له بلې خوا هغه پوهنیزه لیکنه چې ادبي بڼکلا ونه لري، وچه، ترخه او بې خونده وي.

"اناتول فرانس"

د پوهې ور دې د هرچا پر مخ پرانیستی وي، هر چېرته چې انسان دی، هلته دې کتاب هم وي.

"ویکتورهوګو"

که مسیح یو مړی را ژوندی کاوه، بنوونکی یو ملت را ژوندی کوي.

❁❁❁

د ماشوم روزنه تر زیږېدو شل کاله مخکې پیل کړئ.

"ناپلیون"

❁❁❁

بې غوښتلو پوهېدل ناشوني دي.

"کوستاولوبون"

❁❁❁

تمرین د زده کړې مور ده.

❁❁❁

پوهه نه تېروځي، خو پوهان تل تېروځي.

"اناتول فرانس"

❁❁❁

هر مهال خپلې غوښتنې لري چې په پوهه بشېړ ای شي.

"شیخ محمد خیابانې"

❁❁❁

هر کتاب په یو ځل لوستلو ارزي.

"ماکسیم ګورکي"

❁❁❁

کتاب هغه ښوونکی دی چې بې دارولو مو روزي

"بریتانوي پوه"

❁❁❁

پوهې ته وزرونه مه ورکوئ، یو څه سرپ ورپورې وترئ

"بیکن"

❁❁❁

له هغو لویانو سره چې څو پیړۍ پخوا له نړۍ نه تللي او اوس تر خاورو لاندې دي؛ د غږیدو او پیژندګلوی لنډه لارَ لوستل دي.

"دیکارت"

❁❁❁

چې پوهیږي هغه ځوریږي.

"پښتو مل"

❁❁❁

هغه چې یو کتاب له منځه وړي، لکه یو انسان چې وژني او هغه چې یو انسان وژني، لکه ټوله نړۍ چې ووژني.

"مسولي"

❁❁❁

د شلمې پیړۍ د تمدن ملا تیر، چاپ و کتاب دی.

"روزوبلت"

❁❁❁

ځینې کتابونه د څکلو، ځینې د خوړلو او ځینې د ورو، ورو ژویلو دي.

"فرانسیس بیکن"

❁❁❁

کتاب ښکلی ګلبڼ دی چې ګلان یې د لویانو له سینې نه راتوکیږي؛ د مړیو خبرې کوي او د ژوندیو ژبه ژباړي.

"جاحظ"

❁❁❁

هسکې او پرتمینې مانۍ او اوچت واک لرل چې د لوستلو خوند په کې نه وي، تر یوې وړې جونګړې چې کتابونه او ورځپاڼې لري؛ دیر تیټ دي.

"ماکولي"

❁❁❁

کتاب په خپل هېواد کې نېه يار او په پردي ښار کې نېه ملګری دی.
"جاحظ"

❁❁❁

چې زمونږ تر شاوخوا شيان له کتې نه ولوېږي او بې ارزښته شي، بيا به نو د کتابونو ارزښت لانېه وځلېږي.
"واشنګټون ايرونک"

❁❁❁

د يوه ملت د ارواوو، پوهې او اخلاقو د پېژندلو لپاره ټول هغه کتابونه چې په دغه ملت کې دود او خپاره دي؛ تر څېړنه لاندې ونيسئ.
"اسمايلز"

❁❁❁

د لويانو او اتلانو د ژوند پېښو لوستل مو په يوه پټ ځواک د پرمختګ و اخلاقي بشپړتيا پر لوري هڅوي.
"ديزراييلي"

❁❁❁

دومره ببوزلي شوي وو چې په کور کې مو يوه کاچوغه او کاسه هم نه لرله، يوازېنی بخت مو دا و چې د پلار تر مړينې وروسته مو له هغه نه دوه کتابونه راته پاتې شول چې يو "اسمان ته د غوره سړي د رسېدو لار" او بل "پرهيزکاري او سپېڅلتيا" نومېده.
"يونيان"

❁❁❁

که يوه ورځ کتاب راسره نه وي، له مينې نه به مې لېونتوب جوړ شي.
"فريدرېک"

❁❁❁

خوار و بې وزلي انسانان هم بې له کوم خنډه د لويانو له فکرونو سره غږېدای شي، ځکه ددغه مانيز بن د پرانيستلو کيلي "لوستل" دي، هر څوک چې لوستلای شي بې له دې چې دوره له لارښود څخه مرسته وغواړي؛ هلته ورننوتلای شي.
"اسمايلز"

❁❁❁

بې لوستلو دمه داسې مرګ دی، لکه انسان چې ژوندی ښخ شي.

"ماکسیم ګورکي"

❁❁❁

هېڅکله داسې غم نه دی راغلی چې یوې ګړۍ لوستلو نه وي شړلی.

"مونتسکیو"

❁❁❁

هغه څه چې تر شل کاله ازمېښت وروسته زده کېږي، سمه لوستنه یې په یوه کال کې رازده کوي.

"بریتانوي پوه"

❁❁❁

هغه ځوانان چې ناڅاپي یې یو کتاب لوستلی وي، کېدای شي چې همغه یو کتاب یې بې لارې کړي، بیا نو د هغوی په اړه د یوه پوه دا وینا چې: "له هغه چا نه وېرېږم چې یو کتاب یې لوستلی وي" رښتینې کېږي.

❁❁❁

که زمونږ په هېواد کې هرې کورنۍ یو کوچنۍ کتابتون لرلای شوای، هرو، مرو به مو تولنیز ژوند پر بل مخ اوښتی وای او ملي هیلې او غوښتنې به مو خورا پورته لاړې وای.

"ډاکټر ماردن"

❁❁❁

لوستل او نه کول، یوې کول او نه کړل دي.

"توله"

❁❁❁

ته په یوه شپه کې دا کتاب لولې او ما یې په لیکلو کې د خپل سر وېښته سپین کړل.

"وتە"

❁❁❁

هر کتاب یا لیکنه چې د ژر پای ته رسېدو په هیله په بیړه ولوستل شي، پوهې او اخلاقو ته تاوان پېښولای شي.

"ډاکټر ماردن"

که غواړئ چې له کتاب نه ګټورې خبرې لاس ته راوړئ. د یوې کړې څلورمه برخه لوستلو او درې نورې یې د هغه په اړه فکر کولو ته ورکړئ.

"ریچارد لوژالین"

❁❁❁

کتابونه پر نړۍ یا لږ تر لږه پر هغو قامونو چې لیک، لوست یې زده وي: واکمني کوي؛ نور قامونه ارزښت نه لري.

"وېلتر"

❁❁❁

ناپوه ته چوپتیا ډېره غوره ده، خو که په دې پوهېدلای، ناپوه به نه و.

"سعدي"

❁❁❁

کتاب د انسان د سوکالۍ کلکه ستن ده.

"فریدریک"

❁❁❁

ستر کتاب هغه دی چې لوستونکي ستر کړي.

"ادوار دلوروا"

❁❁❁

ډېر ولولئ چې وپوهېږئ، چې هېڅ نه پوهېږئ.

"مونتسکیو"

❁❁❁

کتاب لوستل د غم شېبې په خوښۍ بدلوي.

"مونتسکیو"

❁❁❁

لوستل د ماغزو سپورت دی.

"ریشارد ستیل"

❁❁❁

د کتاب پاڼې داسې وازره دي چې اروا مو د رڼا پر لوري الوزوي.

"وېلتر"

❁❁❁

ځینې کتابونه ژور فکر نه غواړي، ځکه چې لیکوال یې په لیکلو کې ژور فکر نه دی کړی.

کولتون

هغه کتاب چې د لوستلو وړ دی. د رانیولو هم دی.

"جان راسکن"

❁❁❁

د لوستلو په ترڅ کې له پوهانو سره غږېږم، خو چې لوستل نه وي، له ناپوهو او شدلو څخه ډډه نه کېږي.

"والو"

❁❁❁

له یوه کتاب پلورونکي نه چا وپوښتل: له کتاب پلورنې نه دې څه زده کړل؟هغه وویل: هوا! چې کتاب غواړي، پیسې نه لري، او چې پیسې لري کتاب نه غواړي.

❁❁❁

دومره چې خلک په خپله شتمنی او پوهه ټینګار کوي که همدومره یې د شتمنی او پوهې له پاره هڅه هم کولای، په نړۍ کې به وړی او ناپوه نه وپاتې.

❁❁❁

فلسفه، ربنتیا پالنه ده، نه له یوې ځانګړې اند پوهې او تګلارې سره مینه.



هيله

ناهيلی کړه مـه، کـډای شـي هغـه وروسـتی کيلـي چـې پـه جـيب کې دې ده، کـو لـپ وارنـځي.

"تروتي ويک"

❁❁❁

هيلـه د هغـو بدمرغـو ملـګرې ده چـې د زمـاني د سـاقي لـه لاسـه يـې د کرکـې ګوټ څښلـی دی.

"اعتصام الملک"

❁❁❁

هغه چـې د پـېښو نبه ارخ تـه پـه کتلـو روږدی شـوی، دارويدتيا يـې په کال کـې تـر زرولـېرو ګټې غـوره او ارزښتمنـه ده.

"ډاکټر جانسون"

❁❁❁

که د هيلـو سـراب هرڅومـره غولوونکـی وي، لـږ تـر لـږه خـو مـو د ژوندانه پراوهم په خوښی سـره پـای تـه رسـوي.

❁❁❁

که دنن له غوسې سـره د پـرون رنـځ او د سـبا غـم يـوځای نـه کـړو، هغه که هرڅومـره وي، وبـه زغمـل شـي.

"هامرلينګ"

هرڅه ته مخکې ترپښېدو کتل او لرليدلرل ښه کار دی. خو راتلونکيو بدمرغيو ته نن ورځ غمجنېدل ښه نه دي. په هوا کې تر زندان جوړولو ولې ښکلې مانۍ نه جوړوئ.

"ديل کارنګي"

❁❁❁

وړتيا لرل او نه رسېدل تر هغو رسېدو ښه دي چې وړتيا يې نه لرو

❁❁❁

همماغه هيله پر ځای اوسمه ده چې له لاسه مو پوره وي.

"حجازي"

❁❁❁

هغه چې هيله له لاسه ورکوي، ډېر څه بايلي.

"اسپانوي متل"

❁❁❁

د تشې او بې ځايه هيلې له لاسه ورکول، لوی بری دی.

"کسپير"

❁❁❁

که له انسان نه هيله او خوب واخيستل شي، د نړۍ پرمخ به تر هغه بل بدمرغه نه وي.

"کانت"

❁❁❁

هيله هغه سراب دی چې که ورک شي، ټول به له تندې مړه شو.

"حجازي"

❁❁❁

هيله د ښوزلو ورځنۍ خواړه دي.

"هرشل"

❁❁❁

تر وروستۍ سلګۍ پورې هيله من اوسه.

"انګريزي متل"

PROPERTY OF ACKU 8636

د انسان هيلې برید نــه لـرې.

"کندورسه"

ولې ژاړئ؟ بــرى وغـواړئ!

"ستيفان ګرين"

هغه چې وړاندې نه ګوري، شاته پاتې کېږي.

نهيلى ژونــد د مـرګ همـلارى دى.

"اعتصام الملک"

هيله نيمــه ســوکالي ده.

"تورکي متل"

هيله روغتيا نــه رابــښي، خــو درد ســړوي.

"مارسل آشار"

بنايــي لــه پوهــې او ځيرتيــا نــه کــار واخلــو، هغــه څه چــې پــرون ناشوني وو او نن ستونزمن دي، ســبا بــه پــه خــوښى ومنــل شــئ.

"ژول کامبون"

هغه چې غواړي په هيلو ژوندى پاتې شــي، لــه لــورې بــه مــړ شــي.

"فرانکلن"

آه، په د ژوندانــه هيلــو!
که تاسې نه واى او دغــه غمځپلــي ژونــد تــه مــو نــه خــاندلاى، بشــر به ځنګه ژونــدى پــاتې واى.

"دشتي"

انسان په ناهيلى کــې هيلــه مــن دى.

اعتصام الملک

په اسمان کې د يوې توتې وربځ په ليدو. هرځه ته تيارد او تورتم ويل نه دي په کار. نايي د دغو لند مهالو وربځو تر شا مو هاغه رانه لمر ورنا ته هم پام وي.

"اسمايلز"

❁❁❁

سکندر چې د يونان پاچا شو، خپله ټوله پلرنۍ شتمني يې د دوستانو تر منځ ووېشله. "پرديکاس" وپوښته: ځان ته دې څه پرېښودل؟ هغه ځواب ورکړ: هيله! چې د انسان تر ټولو ستره شتمني ده!

❁❁❁

د لښکر د بري تر ټولو ښه وسله ډاډ دی.

"کيخسرو"

❁❁❁

هوډ

هوډ د بـــري لومـړی آړ دی.

"د افغانستان پخوانی ولسمشر محمد داود"

❁❁❁

انساني هـوډ د هغـه د برخليکونـو تـر څنـګ ولاړ دی او د بشـپړتيا څرخ يې تـــاووي.

"فيساغورس"

❁❁❁

د دوه زړيو بری نه وي.

"ناپيليون"

❁❁❁

که هوډمن يې چې يو څوک شي، يوه ځای ته به ورسېږي.

❁❁❁

ما غوښتي وو چې يو څوک شم، دا دي نن مې ټول پېژني.

"آدولف هيتلر"

❁❁❁

لـه بـده مرغـه، اوس يـوازې بـد چـاري اوټيـــټ خلـک پـــه خپلـــو کارونو کې له کلک هـوډ نـه کـار اخلـي.

"الفرد کاپو"

❁❁❁

لا ماشوم وم چې د لويوالي هوډ راسره و.

"ويکتور هوګو"

په ختو کې لوبدل ننګ نه دی. ننګ دا دی چې په کې پاتې شي

"آلماني متل"

❁❁❁

د پياوړي هوډ په لرلو، د هرڅه خاوندان ياست.

"کوټه"

❁❁❁

د هوډ خاوند ته هېڅ ناشوني نه دي.

"ميرابو"

❁❁❁

د هوډ په مرسته له بدبختۍ او سستۍ سره وجنګېږئ.

"حضرت امير ع"

❁❁❁

بې پروايي کمزوري ده.

"کولرل"

❁❁❁

پرله پسې والی، موخه رالندوي.

"شيللر"

❁❁❁

بری د هغوی وي چې تر نورو کلک دريځ لري.

"ناپيليون"

❁❁❁

هوډ نيول تر هرڅه سخت دي.

"ناپيليون"

❁❁❁

که د نياو (عدالت) پلي کولو پر لار وکنځل شوئ يا مو تاوان وليد،
خدای ته وګورئ مه ځورېږئ؛ وخاندئ او خوښ اوسئ.

"ډاکټر ماردن"

❁❁❁

يوازې لوی رنځ دی چې لويوي مو.

"حضرت علي ک"

ـه به لومړي کام کې بری لاس ته راتللای. هڅې نه به ارتیا نه وه.

"موریس میترلینک"

❁❁❁

پربردئ! هره سختي چې غواړي يې، پر مور دې يې راولي، که مور د کلک غبرګون د نبودلو ورتیا ولرو نو دا سختي راته ګټوره ده.

"هرمز"

❁❁❁

هود مارماهي دی، نیول يې آسان دي، خو ساتل يې ډېر ګران.

"الکساندر دوماپر"

❁❁❁

هغه چا ته چې نه غواړي يو کار پای ته ورسوي، پیلول يې څه ګټه ورته لري؟!

"آمیل"

❁❁❁

زه به برخلیک له ګرابوانه ونیسم، پرې به نه ږدم چې هغه د ژوندانه پر وړاندې زما سر ټیټ کړي.

"بتهوون"

❁❁❁

هغه څوک چې هره ورځ پر یوه ډار برلاسي نه شي، د ژوندانه لوست يې نه دی زده کړی.

"امرسون"

❁❁❁

لوی سړی چې هر کله وغواړي د خپلو احساساتو او افکارو تر منځ پوله جوړولای شي.

"ناپلیون"

❁❁❁

کلک هود زمانه اړولای شي.

"شاتوبریان"

❁❁❁

هغه زلمی چې ورتیا يې کمزورې او هود يې پیاوړی وي تر هغه چې ډېره ورتیا او کمزوری هود لري، بري ته نږدې دی.

"ډاکټر ماردن"

د سيند د بهبدو مخالف لوري ته لامبو کول زړد او خواک غواړي. که نه د سيند له بهير سره سم خو مړه کبان هم تللی شي.

"اسمايلز"

❁❁❁

د هوډ سستي مو د کمزورۍ لامل دی، که نه انسان تل د هغه څه له پاره چې په کلکه يې وغواړي، پوره ځواک لري.

"ژان ژاک روسو"

❁❁❁

ستر هوډ په پيل کې ناشونی ښکاري.

"کارلايل"

❁❁❁

هوډ داسې ځواک دی چې پر تولو ځواکونو واکمني لري، خو چې د پوهې له ځواک سره ملګری وي.

"بوفون"

❁❁❁

د هوډ په سينه کې بې شمېره مرغلرې شته، هغه چې غواړي د ژوندانه ربښتينې مانا وپېژني، دا مرغلرې دې راوباسي او ودې يې کاروي.

ژان فينو

❁❁❁

زه د لتی له لارې دغه مقام ته نه يم رسېدلی، زما د ژوندانه تګلار تل دا وه چې له ستونزو او خندونو سره وجنګېږم او پرې بريالی شم.

بورک

❁❁❁

هوډ مو هرڅای ته رسولای شي.

لافونتن

❁❁❁

بې هيلې بلهاري، سترې انساني ښېګڼه ده.

"لوفري"

د انساني اروا له پاره شک تر ټولو کړاوونو دردوونکی دی، ناهیلی او ماتې که هرڅومره ترخې او دردوونکې وي تر شکمن ژوندانه ښې دي.

"دشتي"

❁❁❁

هوډ چې غښتلی وي، نور نو شرایط دومره ارزښت نه لري.

"کوښته"

❁❁❁

د انسان د ستاینې وړ لویوالی یوازې په بلهارۍ کې دی. بلهاري د هر لویوالي بنسټ دی.

"وه یو"

❁❁❁

نیمګړی هوډ تل د غورو او ویناوو په ښه ځان څرګندوي، او غښتلي هوډونه د کړنې په ډګر کې څرګندېږي.

"ګوستاولوبون"

❁❁❁

ولې هوډ دومره سخت او هیله دومره اسانه ده؟ ځکه چې په هوډ کې ځواک نغښتی او په هیله کې کمزوري.

"لیندنر"

❁❁❁

ویکتورهوګو لا پینځلس کلن و چې په خپلو یادښتونو کې یې لیکلي وو: "زه غواړم [شاتوبریان] واوسم یا هیڅ نه اوسم" همدا وو چې تر هاغه نومیالي لیکوال هم ښه وځلېد.

❁❁❁

پس له بنده دی دا عزم　　د خوشال د خاطر جزم
یا نیولی مخ مکې ته　　یا مغولو سره رزم

"خشال خان خټک"

❁❁❁

چې نیولی مې دا هوډ د ننګ و نام دی
که له خپله هوډه واوړم کنیزک یم

"خوشال خان خټک"

د انسان وژوي ترمنځ ستر توپير به پوهه او فکر کې نه دی، د هوډ و اختيار په لرلو کې دی.

"ژان ژاک روسو"

❁❁❁

د هوډ په مرسته هرڅه لاس ته راوړلای شو، خو د هوډ د خوځولو له پاره يوې متروکې ته اړتيا ده چې کار ترې وانه خيستل شي ترڅو پتو ځواکونو به ژر پخ شي.

"لابوله"

❁❁❁

په ټولو هغو ځانګړتياوو کې چې له ځان روزنې سره مرسته کوي، يوه هم د هوډ په پرتله کټوره نه ده.

"پوشه"

❁❁❁

ځواک و هوډ د لوړو اخلاقو بنسټ دی.

"اسمايلز"

❁❁❁

هوډ، تر هغې چې ونه کارول شي، وده نه مومي.

"اسمايلز"

❁❁❁

د هوډ روزنې تر ټولو غوره شېبې د ځوانۍ ورځې دي.

"لاک"

❁❁❁

زما هوډ په کار کې هېڅډول خنډ وګرځنګ نه پېژني.

"موسوليني"

❁❁❁

کلک ګامونه د بريالیتوب لار ژر لنډوي.

"ديسراييلي"

❁❁❁

که په خپل بري ډاډ لرئ، بريالي به شئ.

"ډاکټر شوارتز"

همدا چې د يوې هيلې د لاس ته راوړلو هوډ وکړو، يو اوچت کام مو پورته کړ.

"سرفوستر"

❁❁❁

د لوړتيا لار ډېرې لوړې ژورې لري.

"سنه کا"

❁❁❁

زمونږ په کار کې د "خو" ټکی نه شته، ځکه مونږ ډاډ لرو چې هرو، مرو بری مومو.

"نلسن"

❁❁❁

ترهغې چې د لوړ همت خاوند، لوړ ځای ته نه وي رسېدلی، له هڅو لاس نه اخلي.

"کليله و دمنه"

❁❁❁

په ځوانۍ کې مې وغوښتل چې نړۍ مې وپېژني او ورته ګران واوسم، همدا چې نوم مې ياد شي پر ټولو اغېز وکړي او نړيوال تر ما راچاپېر وي او د يوخه لــه املــه مې وستايي.

"تولستوی"

❁❁❁

نهيلي د ګور پر لوري لومړنی ګام دی.

"ناپليون"

❁❁❁

هغه څوک چې مهال ته انتظار باسي، له لاسه به يې ورکړي.

"اېټاليايی متل"

❁❁❁

ډېر کلک باد هم د څا اوبه نبوروﻟی نه شي.

"جاپاني متل"

❁❁❁

پوهان د زده کړې ستونزې او مينډې د لنګېدو درد نه پېژني.

"سنسکريت متل"

چې پښې لري او ګدايي کوي. پښې يې تېرې دي

"عربي متل"

❁❁❁

هوډمن له خپلې خونبې سره سمه نړۍ اړولی شي

"کوښته"

❁❁❁

په خدای لوړه کوم، که ټول عرب راته يوه خوا شي، زه به هېڅکله شاورونه ګرځوم

(حضرت علي ک)

دنده او کار

په هر کار کې فکر وکړه که پای يې نه درته ښکاره شو کوه يې، که نه
ډډه ترې وکړه.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

دنده پېژندنه هغه سيمټ دي چې د انسان اخلاقي وډانۍ رنګېدو ته
نه پرېږدي.

"مېرمن جيمسون"

❁❁❁

تر وزګاره بېکار ښه دی.

"پښتو متل"

❁❁❁

چې هره ورځ لار بدلوې، هېڅکله به ځای ته ونه رسېږې.

"بالانش"

❁❁❁

انسان د خپل کار وزيار زوی دی.

"داروين"

کار د ژوندانه مالګه ده.

"دري متل"

انسان تر خپله کاره د بل په کار نه پوهېږي.

ناپوه د هرچا په کار کې کوتې وهي

"آلماني متل"

په کوچنيو کارونو بوختېدل له لويو کارونو نه پاتې کېدل دي.

"کنفوشيوس"

بې کاره ژوند فاسدېږي.

"کاموس"

د نړۍ په ودانولو کې داسې هڅه کوه، لکه تل چې په کې ژوندی يې.

حضرت امیرع

شيخ دې لمونځ روژه کا زه به دکې پيالې اخلمَ

هر سړی پيدا دی خپل، خپل کار له که نه

"خوشال خان خټک"

هرچا ته هغه کار وسپارئ چې دی ورته جوړ وي، په دې توګه به هغه له خپل کار نه خوند واخلي اود ګل غوندې به وغوړېږي.

"جورون روسکين"

د وجدان خوښي د دندې تر سرته رسولو وروسته لاس ته راځي.

"اسمايلز"

هېڅوک دومره ناکاره نه دي چې د يوې دندې وړتيا ونه لري.

"ناپليون"

کار اسان دی، پيل يې ګران.

"پښتو متل"

دنده د خدای پر لوري غرنی لار ده.

"لاید ژونس

❁❁❁

اخلاقي ارزښت د هغو دندو پر شمېر پورې تړلی چې انسان يې سرته رسوي.

"موریس میترلینک"

❁❁❁

په نړۍ کې داسې هېڅ څه نه شته چې انسان دې د هغه له پاره ژوندی وي، پرته له خدمت کولو او دندې.

"ولینګټون"

❁❁❁

که دنده پېژندنې له یوه ملت نه کډه وکړه او خپل ځای یې ځانځانی او عیاشی ته پرېښود، د هغه بدبخته ملت په ورځ ژړا په کار ده، ځکه چې د طبیعت له پرېکړې سره سم به یې نن یا سبا د ماتې او له منځه تګ فرمان لاسلیک شي.

"اسمایلز"

❁❁❁

دنده هغه څه ده چې له نورو نه یې د ترسره کولو هیله لرو.

"سکاروایلډ"

❁❁❁

لومړی دې بشر د دندو په موندلو سرلوړی شي، بیا دې د بشري حقونو چیغې وهل کېږي.

"جنرال کنیزنو"

❁❁❁

چې د ملا تیر یې کلک وي، لویه دنده به ونه مومي.

"روسي متل"

❁❁❁

که زه یوه ځای ته رسېدلی یم، نو خپل کار و هڅې رسولی یم.

"نیوټن"

❁❁❁

اس خپلې وربشې خپله ډبروي.

"پښتو متل"

نرمېږه په کار نه بنکاريږي.

"پښتو متل"

❁❁❁

که يوه ښځه يا نر له کاره لاس واخلي، په هېواد کې به هرو، مرو يو تن له سرو او لورې سره مخامخ شي.

"چيني امپراتور"

❁❁❁

پرمختګ د پرله پسې کار زېږنده دی، ځکه چې دمه له کښته تګ پرته بل څه نه دي.

"ګوستاولوبون"

❁❁❁

ناروغ انسان چې کار کوي تر هغه ښه دی چې روغ وي خو وزګار ناست وي.

"ګازوبون"

❁❁❁

وزګارتيا تر هرڅه بده ده، ځکه چې وزګار انسان خپل ماغزه خوري او دا ډېره بده انساني ناروغي ده.

"چارلزلمب"

❁❁❁

کار چې هرڅومره ستونزور و سخت وي، انسان نه کړوي،خو چې يو رنګی، زړه ماتوونکي او نهيلی شي، بيا نو تر ټولو بدکړاو دی.

"اسمايلز"

❁❁❁

درهباني ژوندانه لپونتوب او ګوښې اوسېدل ماغزو ته دګوي (چيچک) ناروغي ده.

"دسنپير کليسا مشر"

❁❁❁

لورې د کارګر کور ته ګوري، خو د ورننوتلو زړه نه کوي.

"فرانکلين"

❁❁❁

بې کاري لنګېږي، خواري زېږوي.

"پښتو متل"

چې خولې وچې شي د کار ستړیا هېرېږي.

"بیلژیکي متل"

❁❁❁

هغه کار کې چې تل یوې کوي، ډېره ځلېږي.

"یوناني متل"

❁❁❁

یوه ډله مې په دې رتې چې زه ګنډونکي وم، خو زه په ګنډنه کې هیڅ ننګ و شرم نه وینم، ځکه هغه وخت چې ګنډونکی وم د ربنتینولې او کارپوهې له امله ستایل کېدم، د مشتریانو کالي مې پر تاکلي وخت ورکول او تول یې له پرې کولو او ګنډلو نه خوښ وو.

د امریکا جمهوري رئیس "آندروجکسن"

❁❁❁

وزګارتیا او مرګ یو دي.

"ویلتر"

❁❁❁

د کار یوه ګټه دا ده چې ورځ لنډوي او عمر اوږدوي.

"دیدرو"

❁❁❁

هرڅای چې یاست، بوخت اوسئ.

"هانري فوزد"

❁❁❁

کار، انسان له دغو دربیو سترو بلاوو څخه ژغوري: سستي، بې لارې، ارتیا.

"ویلتر"

❁❁❁

بې دمې کار غمجنې ده او بې کاره دمه تنبلي.

❁❁❁

هلته چې هاندو هڅه نه وي، بنه والی او سپېڅلتیا نه شته.

"برناردن"

❁❁❁

هغومره چې طبیعي لاملونه انسان دمې ته راکاږي، همدومره بنایي اخلاقي لاملونه هغه له دمې لرې وساتي.

"مونتسکیو"

د ټولو بدیو سر بیکاري ده. هر حکومت و دولت چې غواړي ټولنه له بدیو وژغوري د هغې وکړیو ته دې کار پیدا کړي.

"پاسکال"

❁❁❁

د هنرمن لویه کټه له خپل بري نه خوند اخیستل دي.

"اګوست ردن"

❁❁❁

هغه لویان چې لویو بریاوو ته رسېدلي، تل یې په خپلو ماغزو کې د ناڅاپي پېښو له پاره ځانګړی ځای پرې ابنی و.

"موریس میترلینګ"

❁❁❁

په کلکه کار او په کلکه لوبه کوه.

"فرانکلین روز ویلټ"

❁❁❁

همدا چې انسان پرمختګ ته نوره اړتیا نه لیده، ځان ته دې تابوت جوړ کړي.

ډاکټر ماردن

❁❁❁

که په بېړاوو دې دښمن راپرځي، نو ورته ووایه چې خدای دې وزګار کړه!

تمدن

د غـــورې و کچکـــول مې واچاوه پر غـــاړه دښار هر کور ته شوم ستړی په ولاړه
ما ویل خیر به په کې ترنګ د رباب راوړم چا ویل کډه د رباب خو پرون لاړه

"محمد آصف صمیم"

❁❁❁

آیا ټول ورونه نه یو؟! بشر ته بنایي چې یو، بل ورور وګڼي.

"شکسپیر"

❁❁❁

انسان ټولنیز ژوی دی.

"سرنک"

❁❁❁

انسان چې د ژوندانه موخه او مانا وپېژنده، نه یوازې دا چې ځان به د خپل ملت له وګړیو سره برابر وګڼي، لا چې د نورو ملتو سره به هم څه توپیر په کې ونه وینې.

"تولستوی"

❁❁❁

چې ځلوېښت ورځې له نورو سره ژوند وکړې یا به د هغوی غوندې شې، یا به یې خوشې کړې.

"عربي متل"

❁❁❁

د وګړیو ترمنځ له هغو دېوالونو پرته چې دوی په خپله جوړ کړي؛ بل هیڅ توپیر نه شته.

"تولستوی"

تولنيزې ښېګنې تر خانګړيو هغو اوچتې دي.

"اپلاتون"

❁❁❁

د جاپان يوه وزير ويلي وو: "تر هغې چې روغ و بې آزاره ملت وو، د يوه ماشي وينه مو نه تويوله او يوازې مو بنه او ښکلي کارونه کول، نو اروپايانو نيم ځناور باللو، خو وروسته تر هغې چې له روس سره وجنګېدو او نيم ميليون انسانان مو په وينو او خاورو ولړل؛ ويې ويل چې اوس متمدن شوئ.

❁❁❁

يو ملت د شتمنۍ په ډېرښت او د کلکو مورچلو او ښکليو ودانيو په جوړولو تمدن و سوکالۍ ته نه رسېږي، دا کار هله کېدای شي چې روزلي، پوه او د اخلاقو خاوند وګړي يې ډېر شي، ځکه د ملت د لويوالي رښتينې ځواک همدوی دي.

"مارتين لوتين"

❁❁❁

په ځنګله کې يې وزېږوه، په ښار کې يې لوی کړه.

"پښتو متل"

❁❁❁

يوه ورځ به د جګړې دا تپه تيارە شپه پای ته ورسېږي؛ په بشري تمدن کې به توپ و تانګ ته ځای پاتې نه شي او په موزيمونو کې به يې ښلکې د دې له پاره ساتل کېږي چې د تاريخ استادان يې شاګردانو ته وښيي او ورته ووايي چې پخوا بشر په دغو وسلو خپل ورور واژه.

"فتحی الرملي"

❁❁❁

يو شمېر لاملونه چې د تمدن په ځينو پراوونو کې بې ګټې ښکاري، په ځينو نورو پراوونو کې چې د تمدن پرمختګ د نويو شرايطو غوښتنه کوي؛ يوه ملت ته لويوالی وربښلای شي.

"ګوستاولوبون"

نوی تمدن هماغه پخوانی وحشت دی، خو نوم و ټالي يې بدل کړي دي.

❁❁❁

د اروپايي تمدن بنسټ هڅه او مبارزه ده، د آسيايي تمدن بنسټ څه دی؟ ځانسپارنه او انتظار!

"ويکتوربرار"

❁❁❁

اروپا مسيحي نه ده، ابليس لمانځي.

"مهاتماګاندي"

❁❁❁

ربنتينی تمدن پرمينه ولاړ وي.

❁❁❁

نړۍ د تمدن په هيله زړه شوه، دا غولوونکی او بې مانا نوم تل د يوه ټک له ستوني راوځي او يوه ناپوهه او ساده زړې ډله د خپلې تکی په اور سبزي.

❁❁❁

بشر د تمدن و آزادی له خوارۍ نامه نه بنکېلاک، غلا، مرګ ساندو، سرشکونې او ژړا پرته بل يادګار نه لري؛ خواشيني ده چې د دغو لېونيو د زړه سترګې ړندې دي او هره شېبه په يوه نوې تکی غولېږي.

★★★

اخلاق

زه د اخلاقي لوړتيا د بشپړاوي له پاره رالېږل شوی يم.

"حضرت محمدﷺ"

❁❁❁

بحر ډک له مرغلرو چوپ روان وي

د بې ابه خلکو خوی لکه د چړ وي

"کل پاچا الفت"

❁❁❁

د ښېګڼې بنسټ له انسان سره مينه او د پوهې بنسټ د انسان پېژندل دي.

"کنفوشيوس"

❁❁❁

اخلاق پانګه ده، اخلاق زمور تر ټولو ښه او اوچته شتمني ده.

"اسمايلز"

❁❁❁

غوره اخلاق د اوبو غوندې بهېږي او د ژوندانه کرونده خړوبوي.

"لاووخه"

❁❁❁

اخلاق تر سوکالۍ غوره دي.

"حضرت محمدﷺ"

پاک اوسئ.

"مهاویرا"

❁❁❁

که انسان د کوچنیوګناهونو پروا ونه کړه، پر لویو ګناهونو به واوړي.

"حضرت عیسی ع"

❁❁❁

اخلاقي ماتې د تمدن ماتې ده.

"کاظم زاده ایرانشهر"

❁❁❁

نېغه کرښه یوازې په هندسه کې نه، لا چې په اخلاقو کې هم لندنی لاړ ده.

"راحل"

❁❁❁

بې اخلاقو ملت، بې ګروهې اخلاق او بې پوهې ګروهه ناشوني دي.

"سید جمال الدین افغان"

❁❁❁

زه تل غواړم چې د سپېځلیو خلکو پلوی اوسم او څه ترې زده کړم.

"شکسپیر"

❁❁❁

که د یوه چا په اخلاقو نه پوهېږې، دوستانو ته یې وګوره.

"جاپاني متل"

❁❁❁

همدا چې یوسړی له خپل برید نه واوړي او هغه ځای ته ورسېږي چې دی یې وړ نه وي، اخلاق یې ورانېږي.

"اپلاتون"

❁❁❁

هرڅوک د خپلې سپېځلتیا ساتونکی دی.

"هندي متل"

❁❁❁

د ښځو دنده ده چې د نرو اخلاق وروزي.

"وېلتر"

❁❁❁

ښه سړی هغه دی چې پرځان واکمن وي.

"هندي فلسفه"

له انسانانو سره د انسانانو د انسانیت نشتوالی زړګونه تنه په غم اخته کوي.

"وابرت برنز"

❁❁❁

غوره اخلاقو ته تر پوهې او صنایعو ډېر اړ یو.

"سعد زغلول پاشا"

❁❁❁

هغه څه چې زما خوښېږي، نورو ته یې هم خوښوم.

"کنفوشیوس"

❁❁❁

هغه چې اخلاق نه لري انسان نه دی.

"شامفور"

❁❁❁

له لېونې نه کرکه مه کوئ، د بد کولو لوښي تړې واخلئ.

"مهاتما ګاندي"

❁❁❁

حسود اختر نه لري.

"فرانسېس بیکن"

خپلې کوچنۍ نیمګړتیاوې د دې له پاره ښکاره کوو چې غټې مو پرې پټې وساتو.

"فنلون"

❁❁❁

په بشپړ ایمان کې یوه اور ته اړتیا ده چې د ناپاکۍ او بدګومانۍ خلې پرې وسېزو.

"بیکن"

❁❁❁

شپون غوبه څکه سنګدله وباله شي چې روز ګار کاندي له کانو د بېدیا

حمید مومند

د بد ژبې خوله په درنه چوپتیا ترل کېږي.

❁❁❁

ګره مه د ګناه کار نه ده، د هغه چا ده چې دی یې په ناپوهۍ او تیاره کې پرېښی دی.

لاروشفوکولد

په انساني ځانګړتياوو او اخلاقو کې هېڅ داسې نيمګړتيا او کورۍوالي نه شته چې په ښوونه او روزنه سم نه شي.

"بيکن"

❁❁❁

په نړۍ کې تر ټولو ښکلی افراط د حق پېژندنې افراط دی.

"لابرويز"

❁❁❁

هغوی چې د کار په پيل کې وړيا پند نه مني، په پای کې به په جګه بيه د پښېمانۍ رانيولو ته اړ شي.

"لرداوبري"

❁❁❁

همدا چې خپله نيمګړتيا مو وپېژنده او د بشپړلو له پاره يې لاس پرکار شو، د پرمختګ پر لار مو لومړی ګام واخيست.

❁❁❁

انسان هله ډېر تېروځي، چې فکر کوي نور يې تېريوستي دي.

"لاروشفوکولد"

❁❁❁

غټ اخيستل ښکلا نه لري.

"ناپليون"

❁❁❁

د لويۍ غوښتنې حس په ټولو خلکو کې يو شان دی، خو توپير يې د څرګندېدو په بڼه کې وي.

"لاروشفوکلد"

❁❁❁

که بد اخلاقي شاته هم وغورځول شي، د هغه ټپ غوندې وي چې تر رغېدو وروسته يې هم نښه پاتې کېږي.

❁❁❁

که د انسان لوښې د چاپېريال زېړنده وي ښايي چې چاپېريال انساني شي.

❁❁❁

د تېروتنې ښښنه پسته غټ اخيستنه ده.

"ديل کارنکي"

اخلاق تل يوه ټاکلې تله نه لري. اخلاقي ارزښتونه د بشري ټولنيزو او اقتصادي جوړښتونو زېږنده دي. خکه دېر شيان وو چې پرون مو چکې ورته وهلې خو نن مو کرکه تري راځي.

"فتحي الرملی"

❁❁❁

د دوو شيانو له امله خدای ته ساندې کوم: د سم چاريو له ساده ګی او بې پروايی، او د دروغجنو او ټکانو له ځيرکی او هوښياری.

(حضرت علي ع)

❁❁❁

سخاوت دېرې ورکړې ته نه، پر ځای ورکړې ته وايي.

"لابرويز"

❁❁❁

هرچا ته چې غواړي بريالي شي، وايم: "غوره اخلاق په ځان کې وروزئ"

"البرهوبرد"

❁❁❁

پرانسيان اخلاق نه پېژني، مود پېژني.

"ناپليون"

❁❁❁

د اخلاقو خاوندان د ټولنې اروا ده.

"امرسون"

❁❁❁

زه هره ورځ له ځانه درې پوښتنې کوم:

- هغه دندې چې زما پر غاړه دي، د وجدان له مخې يې سرته رسوم؟
- له نورو سره په اړيکيو کې انساني ارزښتونه په پام کې نيسم؟
- هغه څه چې نورو ته يې نښيم، په خپله يې منم او هماغسې کوم؟

کنفوشيوس

❁❁❁

غلا، يوازې د نورو د شتمنيو پټولو ته نه وايي، له هغه څه نه ګټه اخيستل چې مورِ په ربنتيا ارټيا ورته نه لرو؛ هم غلا ده.

مهاتما ګاندي

هغوی چې رښتيني ښه دي، هېڅکله به بدمرغه نه شي، هغوی چې رښتيني پوه دي هېڅکله به بېوزلي نه شي، او هغوی چې رښتيني زړور دي، هېڅکله به ماتې ونه خوري.

کنفوشيوس

نړۍ به هله سوکاله شي چې له هغه څه نه چې فطري او منطقي نه دي لاس واخلي.

تولستوی

تر ټولو ستره بد اخلاقي دا ده چې دنده تر سره کولی نه شو خو ځای مو نيولی وي.

ناپليون

دهرات واکمن خواجه عبدالله انصاري ته ووېل:
ماته لارښوونه وکړه يا داسې څوک راولېږه چې لارښوونه راته وکړي.
انصاري ځواب ورکړ:
هغه چې ژوند غواړي، تاته به لارښوونه ونه کړي او هغه چې اخرت غواړي له تا سره به ونه غږېږي. هغه چې ستا د کاله وره ته درځي، تاته لارښوونه نه شي کړای او هغه چې لارښوونه درته کړای شي، ستا د کاله وره ته نه درځي.

❁❁❁

وچ هډوکی د شپېلو نه دی.

"البانی متل"

❁❁❁

زه دې وچ هډوکي شپېلم خو ملت مې دې سلطان وي
دا زما د سخن سيوری په مانا کې همايون کړه

"حمزه شينواري"

❁❁❁

غل چې په غلا لاس بری نه شي، ځان ته ربښتين وايي.

"مراکشي متل"

❁❁❁

چې څه دې ورکړل چوپ اوسه، چې وادې خيستل غږېږه.

"اسپانيايي متل"

هغه چې د توتي غوندې د بل پېښې کوي، په سپين سترګې کې هم تر توتي کم نه دی.

"پوهاند ډاکټر زيار"

❁❁❁

ټول ښه دي، خو د هر کار له پاره نه.

"اسپانيايي متل"

❁❁❁

نيمګړتيا لټوونکي له نيمګړتياوو سره مخامخېږي، ځکه چې لټوي يې.

"سکاټلنډي متل"

❁❁❁

مچي چيچي، خو خپله هم مري.

"انګليسي متل"

❁❁❁

د رون وړی ځمکې ته ډېر راکوږ وي.

"ايرلنډي متل"

❁❁❁

که له لېوه کره مبلمه ياست، خپل سپی هم بوځئ.

"روسي متل."

❁❁❁

ژبې سپی د سور لنډي ورور دی.

"دري متل"

❁❁❁

پيشو که ړنده هم وي، مورګ نه پرېږدي.

"عربي متل"

❁❁❁

د مورګ د ډاړولو له پاره کورته اور مه اچوه.

"پرانسي متل"

❁❁❁

لېوه به پوستکی واړوي، خو فکر نه اړوي.

"يوګوسلاوي متل"

❁❁❁

پاکلمنې او بې وزلې نه جوړه کېږي.

"يوناني متل"

عمر. عادت. دندې او پوهې د ډېرو خلکو اخلاق سم کړي دي.

"ناپليون"

ستر مېړونه د ستوريو غوندې سبزي او نړۍ ته رڼا وربښي.

"ناپليون"

❁❁❁

که غواړې چې کنځل وانه وړې، څوک مه کنځه.

"آذر بدمارسپندان"

❁❁❁

تر ټولو ستره بداخلاقي دا ده چې د ژوندانه تر پايه خپل رازونه پټ وساتو.

❁❁❁

هرڅوک هغه څه ډېر يادوي چې نه يې لري.

"محمد مسعود"

❁❁❁

اخلاقي شاتک د تمدن مانی رنګوي.

"کاظم زاده ايرانشهر"

❁❁❁

د ځمکې د مخ او لاندې ټول سره زر ديوې اخلاقي ښېګڼې ارزښت نه لري.

"اپلاتون"

❁❁❁

انسان د هغې ټولنې او چاپېريال بچی دی چې وده په کې کوي.

"موپاسان"

❁❁❁

يو پاک زړه د نړۍ تر ټولو ښکلیو جوماتونو او معبدونو ښکلی دی.

"وېلتر"

❁❁❁

چې يوازېتوب خوښوي يا خدای دی يا ځناور.

"ارستو"

❁❁❁

يا هسې ځان وښيه چې يې، يا هسې واوسه چې ځان ښيې.

"بايزيد بسطامی"

★★★

ملګرتيا

دوه ملګري د دوو لاسو غوندې د يوه بل خيري مينځي.

"حضرت محمدﷺ"

❁❁❁

تولنيز ژوند بې ملګري نه کيږي او دا چې ملګرتيا خورا ارزښتمنه لوړينه ده، نو له پښتو او ګوانښ سره دېره مخامخ کيږي.

"حضرت علي ک"

❁❁❁

د ناپېژاندو ترمنځ د ملګرتيا څرګندېدل د ستونزو ښکلا ده.

"ويکتور هوګو"

❁❁❁

دېر خلک ډاکټر ته د ورتګ پرځای، يوه همراز و خوالګر ته ارتيا لري چې د دوی د زړه درد ته غوږ ونيسي.

"ديل کارنګي"

❁❁❁

لټون ملګرتيا او د زړه مينه مړاوې کوي، لکه څوک چې وغواړي د يوې ښکلې نجلۍ بدن د څېړلو له پاره وسپړي، نو دومره بدرنګي به ووينې چې ښکلا به يې هېره شي.

"محمد حجازي"

داسې خلک هم شته چې د دښمنۍ له پاره دوستي کوي.

❁❁❁

په ملګرتیا کې منځلاري اوسئ، کېدای شي چې پر دښمنۍ واورې.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

هغه چې په ملګرتیا کې دې بې ځایه ستایي، په دښمنۍ کې به دې هم بېځایه وغندي.

"داراب شهریار"

❁❁❁

ښه ملګري لویه شتمني ده.

"دري متل"

❁❁❁

مه په بیړه ملګري پیدا کوه او مه یې په بیړه له ځانه شړه.

"سولون"

❁❁❁

انسان ته ښایي چې نورو ته د ورونو په سترګو وګوري.

"کنفوشیوس"

❁❁❁

د ملګري موندلو له پاره، ځان د ملګرتیا وړ کړه.

"مورا"

❁❁❁

تر ټولو غوره ملګری هغه دی چې نیمګړتیاوې مودرپه ګوته کړي.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

زما تر ټولو ښه ملګری هغه دی چې وریـن تندی لري.

"ویکتور هوګو"

ومې پوښتـل چې ملـګری ښه دی کـه ورور؟ ویـې ویـــل: ملـــګری هغه ورور دی چې انسان یـې ځانتـه پـه خپلـه ټاکـي.

"امیل فاګو"

❁❁❁

ځان ترملـګري ځار کـړئ.

"اپلاتون"

❁❁❁

د کـور ښکـلا هغـه ملـګري دي چـې ورځي، راځي.

"امرسون"

❁❁❁

هغه ملګري چې په ســتونزو کـې راســره وو، نـه هـیرېږي.

❁❁❁

د ګټې له پـاره ملګرتیـا، ملګرتیـا نـه ده، ســوداګري ده.

❁❁❁

ملګري د ګاډی غوندې پـه بـارانې ورځ کـې لـږ مونـدل کـېږي.

❁❁❁

د خولې او زړه وینا چې یــوه شــي ځ یارانـه ټرې جـوړېږي.

"پښتو متل"

❁❁❁

د ګټې یار او سیوری، تر هغې چې لمرځلېږي، شاوخوا لیدل کېږي.

"بینامین فرانکلین"

❁❁❁

سوکالي ملــګري زېږوي، ناټـار یـې ازمېیـي.

❁❁❁

د دوســتی راز پـه دښمنـی کـې ویـل مېرانـه، لویـي او اخـــلاق نـــه دي.

❁❁❁

دېر د ملـګري نیمګړتیـاوې مـه ځېړه، کـه نـه تـل بـــه بـــې ملـــګري پاتې شې، ځکه چـې هـیڅوک بشـپړ نـه دی.

حضرت صادق ع

شتمني په سختي او ملګري يـه غـم کـې پـه کـاربړي

"مرزبان نامه"

❁❁❁

يو ربشتينی دوســت خومـره پـر زړه پـورې دی!

"لافونتن"

❁❁❁

هرڅه تــربړي، ان مرکـې، مچـې، پـه غـيږ کـې نيـول او داسـې نـور مينه ناک اړيکي، خــو د دوو اړواوو د مينـې تـار چـې يـو ځل يـې يـو بـل پېژندلی او په غيږ کې يـې نيـولی؛ هېڅکلـه نـه شـکېږي.

"رومن رولاند"

❁❁❁

په يارانه کـې بنـګړي مـاتېږي.

"پښتو متل"

❁❁❁

په دوزخ کې هم ملــګري مونـدل کـېدای شـي.

"اسپانيايي متل"

❁❁❁

که دوست نه شي مونـدلی، دښمنـي هـم مـه کـوه.

"يوناني متل"

❁❁❁

د ملـګري مونډلـو يوازينـی لار داده چــې لومــړی مــور د ملګرتيــا څرګندونه وکــړو.

"امرسن"

❁❁❁

ترناپوه ملګري، بله بده بــلا نـه شـته.

"پرانسی متل"

❁❁❁

د هرچا ملګری د هـيڅـا ملـګری نـه دی.

"بوردالو"

د رښتينې ملګرتيا ونه ورو، ورو جګيږي.

"رژواشنګتن"

❁❁❁

رښتينی ملګری د غرنی ونی غوندې دی، همدا چې جړپ يې پر تيږو پورې ونښتې، نور يې کلک بادونه او توپانونه راويستلی نه شي.

"اندرې توريه"

❁❁❁

ملګری د چتری غوندې په ورندی ورځ کې په درد خوري.

"پل برولا"

❁❁❁

ملګرتيا يوار وايي څرنګوالی دی چې دوه جسمونه سره پيوندوي.

"ارستو"

❁❁❁

د خوږ ژبي، ملګري ډېروي.

"دادبه پارسي"

❁❁❁

ښځې چې د مينې خوند وڅاکه بيا نو دوستي خوند نه ورکوي.

"لارشفوکو"

❁❁❁

که په چا ډاډ نه لرې، ډډه ترې کوه.

"ناپليون"

❁❁❁

لکه رښتينې مينې چې لږدي، رښتينې ملګرتياوې هم لږ دي.

"لارشفوکو"

❁❁❁

رښتيني ملګري که له سترګو لاړ شي، له زړه نه ځي.

"سيسرون"

چې زما ملګری وي، زما ارزښت به پـــېژنـي او درنـاوی بـه مـې کـوي.

"آلبرت هوبارد"

❁❁❁

زه خپل ملګري ته د خپـل زړه هـره خـبره کـولای شـم.

"تورو"

❁❁❁

ازمېلی مـه ازمېـه.

"پښتو متل"

❁❁❁

ملګرتیـاوې هـم د کورونـو، کـالیو او ماشـینونو غونـدې بیـا رغـــاونې ته اړتیا لـري.

"ډاکټر جانسن"

❁❁❁

کـه غـواړې چـې ملـګري دې د ژوندانـه تـرپایـه وسـاتې پـه خپلـــو ماغزو کې بـه دهغـوی د نیمګړتیـاوو او تېروتنـو د ښخولـو لـه پـاره هدیـره جـوړوې.

❁❁❁

د دوسـتانو ځورول د دښمنـانو د هیلـو بشـــپړول دي.

"سعدی"

❁❁❁

زما ربنتیني ملګري په ببوزلو کـې دي، شـتمن ملګرتیـا نـه پـېژنـي.

"موزارت"

❁❁❁

که د داســې ملـګري د مونډلـو هیلـه لـرئ چـې لـه هـره اړخـه دې بشپړ وي، تر مرګه به بـې ملـګري پـاتې شـئ.

❁❁❁

بې ملګرتیا هم ژونــد شـته؟

❁❁❁

کـه ټولـه نـړۍ پـر بـل مـخ واوړي او رنـګه شـي پروانـــه شـــته، پـــه ملګـرتيا به يې بيا ودانه کـړو، خـو کـه د ملګرتيـا نـړۍ رنـګه شـوه پـه څه به يې جـــوړوو؟

❁❁❁

آه. د نـــړۍ پرمـــخ څومـــره ډېر، نبه او پـــر زړه پـــورې انســـانان اوســـېږي چـې تراوسـه مـې پـېژنـدلي نـه دي او لايـې د ملګرتيـا پـه ويـاړ سرلوړی شـويم نـه يم.

❁❁❁

ترهغې چې د انسانيت په مانا ونـه پوهـېږو، ملـګري بـه ونـه لـرو.

❁❁❁

زه بد ملګری نـه پـېژنـم ځکـه چـې بدملـګری نـه شـته، زمـا ملـګري به هرو مـــرو نبه وي، هغـه چـې په دروغـو ماتـه ځان ملـګری نبيـي او پـه ناپوهی کې مـې پـر بـده لار بيـايي، زمـا ملـګری نـه دی، داهغـه نـاچلـه لوټ ته ورته دی چې سړی يې يـه تيـاره کـې لـه چـا نـه اخلـي او د سـم ځـای کومـان پـرې کـوي، خـو هېڅکلـه پيسـې کـېدای نـه شـي. تاسـې داسې ناچله لوټونو ته نبه يـا بـده شـتمني ويلـی شـئ؟

❁❁❁

ملګري تشبيه نـه لـري.

تیتال (غوړه مالي)

غوړه مال، یا ناپـوه دی چـې غـواړي سپک مـې کـړي او یـا چالاکـه دی چې غـواړي ومـې غولـوي.

"چيني متل"

❁❁❁

غوړه مالان د دوســتانو غونـدې ښکـاري، لکـه سـپي چـې لېوانـو تـه ورتـه دي.

"ناشناس"

❁❁❁

تیتال د نـاپوهـانو خـواړه دي.

"شکسپیر"

❁❁❁

لوړوني تر تیټ ونــو سـر تیـتی تـه ډېر اړ وځي.

"پوهاند ډاکټر زیار"

ډېر خلک د یوه هډوکي له پــاره لـه ځانـه سـپي جـوړوي.

"سویډي متل"

په کورنیو ځناورو کې له غــوړه مـال نـه وډار شـه.

"یوناني متل"

پوهان د غوړه مالانو ملګرتیــا نـه کـوي.

"ناپلیون"

غوړه مال سړی یـو پـټ دښمـن دی.

"مجاري متل"

❁❁❁

کـه د یـوه مقـام د لاس تـه راوړلـو لـه پـاره دې تیـتال تـه غـاړه کښښوده، له یوه غـوره مقامـه بـه راولـوبړې.

❁❁❁

هغه خلک ډبریالي شوي چـې خپلـه سـتاینه یـې لـږ اوربدلـي.

"میرمن امیل زولا"

پر خوله دې شـین پسـرلی، پـر زړه دې کړنـګ ژمـی.

"پښتو متل"

❁❁❁

غوړه مال پـټ دښمـن دی.

"هنګري متل"

❁❁❁

د غوړه مالانو ژوند پر هغوی پـورې تـړلی چـې غـوړه مـالي اخلـي.

"لافوتین"

❁❁❁

د غوړه مال خبره پـه زهـرو لـړلي شـات دي.

"لاتیني متل"

❁❁❁

یو سـړی پـه یـوه وخـت کـې هـم دوسـت و هـم غـوړه مـالبدی نـه شـي.

❁❁❁

تیتال هم ویونکـی نـاولی کـوي او هـم اوربدونکـی.

"دیل کارنګي"

❁❁❁

تیتال هغه ناچله روپـی ده چـې زمـوږ ځانځانـی دود کـړې.

"لاروشفوکو"

تیـتال د ایرانیـانو د خــوب رګ دی.

"محمد مسعود"

❁❁❁

وړ ستاینه تیــتال نــه دی.

★★★

شتمني

که د مـړي غونـدې ټول ژونـد پـه راټولولـو تـير شـي، نـو لګولـو تـه به څه وخت پـاتې شـي؟

"پوهاند ډاکټر زيار"

❁❁❁

بې پيسو سړی، بـې غشـي لينـدی ده.

"فوللر"

❁❁❁

وړستړکی په پيسـو نـه مـړيږي.

"سن دوبران"

❁❁❁

په خپله پيسې بدې نه دي، لـه پيسـو سـره مينـه بـده ده.

"مولوک"

❁❁❁

چې پيسه وزيږيده، د بشـر سـوکالي مـړه شـوه.

"سنګا"

❁❁❁

که پيسې نه واى، جـګړه بـه نـه وه.

"ادنا"

کـــه زه د تکـــزاس و دوزخ خـــاوند وای، تکـــزاس مـــې پـــه کرایـــه ورکاوه او په دوزخ کـــې بـــه اوسـېدم.

❁❁❁

وینا د پیسو غونـــدې لـــکوه.

"آلماني متل"

❁❁❁

که په جیب کې پیسې نه لرې، پـــه خولـــه کـــې شـــات ولـــره.

"یوناني متل"

❁❁❁

پیسه د جـــګړې پـــلار او د ســـولې مـــور ده.

❁❁❁

ګډور سړی د اتل غونـــدې خپـــل خـــواړه ســـاتي.

"ناپلیون"

❁❁❁

اوس د پرهېزکـــاری او پاکلمنـــی داســـې دېوال نـــه دی پـــاتې چـــې د پیسو په غشي ســـورى نـــه شـــي.

"محمد مسعود"

❁❁❁

هغـــه روپـــی چـــې پـــه جـــیب کـــې تـــر ډرېیـــو ورځ و ډېره وخنـــدېږي؛ خوسا او بدبویـــه کـــېږي.

"رالف بیکو"

❁❁❁

برېنـــد لـــه لارې اوړي، وړې نـــه.

"پښتو متل"

❁❁❁

د غلـــه او شـــتمن تـــوپیر دا دی چـــې غـــل لـــه شـــتمنو غـــلا کـــوي او شتمن له بېوزلـــو.

"برنارد شاو"

چاړه چې د سرو شـــي، خوک یـــې پـــر ګېډه نـــه منـــدي.

"پښتو متل"

وړي د خپلـــي ګډې د مړولـــو پـــه کـــړاو اختـــه دی او شـــــتمن د ګډې لـــــه درده ځوړېږي.

"بینیامین فرانکلین"

❁❁❁

هېندو پیســـې ګټي پښتـــون کیســـې.

"پښتو متل"

❁❁❁

نور نو یو بـــې مـــاغزو مـــردار ګډی چـــې د پـــلار و نیکـــه یـــا خپلـــې غـــلا او جنایت له کبله شتمن شـــوی؛ پـــر نـــورو ویاړنـــه شـــي پلـــورلای.

"فرانکلین"

❁❁❁

اړ ستړکې نـــه لـــري.

"پښتو متل"

❁❁❁

شـــتمني نـــاولی توکـــی دی او بـــې هـــنره دې تـــه هـــڅوي چـــې تـــر هـــنرمنو ځان لـــور وګڼي.

❁❁❁

سپما د شتمنی ســـرچینـــه ده.

"برتراندراسل"

❁❁❁

د میلیونر او غله د نومونـــو پـــه مانـــا کـــې تـــوپـــیر نـــه شـــته، یـــوازې یـــې توري ســـره بـــیل دي.

"فتحی الرملي"

❁❁❁

اغونده ګډله، خو له پـــوره ځنـــې ځغلـــه.

"پښتو متل"

❁❁❁

چې په لږ ګټه کـــې سپما ونـــه کـــړای شـــي، پـــه ډېره کـــې یـــې هـــم نـــه شـــي کـــړای.

"ډاکټر ماردن"

پردی سپی په دودی خپل دی.

"پښتو متل"

❁❁❁

خلک هغه سر کوزي (خوکان) دي چې سره زرخوري، زه يې هم مخې ته سره زر شيندم او هرې خوا ته مې چې زړه غواړي بيايم يې.

"ناپيليون"

❁❁❁

پيسې شپږم حس دی، بې له هغه نور پينځه حسونه کار نه کوي.

"سامرست موام"

❁❁❁

لوړه نه دار پيژني، نه قانون

"ناپيليون"

❁❁❁

شتمن دومره په کتې او بسپنه روږدي شوي چې يوازې يې خانپلورې کچنی پيسو لګولو ته اړويستلای شي.

"مونتسکيو"

❁❁❁

که د ورغوي په خارښت رښتيا پيسې راتلای، نو پيسه والا به يو مخيز پمن شوی وای.

"پوهاند ډاکتر زيار"

❁❁❁

لوړه د پاکلمنی تر تولو بد ساتونکی دی.

"ايتاليايي متل"

❁❁❁

که په خنګله کې دې هم کور وي، بې خايه لرګي مه سپزه.

"چيني متل"

❁❁❁

سره زر انسانې مقناطيس دی.

"پرانسي متل"

خپلـو ماشـومانو تـــه ســپېځلتيا ورزده کـړئ، ځکـــه چـــې يــوازې سپېځلتيا د ســوکالۍ لامـل دی، نـه پيسـې او شـتمني.

"بتهوون"

❁❁❁

شـتمنو تـه د پوهـې لاس تـه راوړل دومـره ګران دي، لکـــه پوهــانو تـه د شـــتمنۍ لاس ه راوړل.

"لارشفوکو"

❁❁❁

پيسې هېڅوک نه پـېژنـي، پيسـې غوږونـه نـه لـري، پيسـې سـترګې نـه لري، پيسې زړه نـــه لـري.

"بالزاک"

❁❁❁

که د ګېډې درد نه وای د بنکاري پـــه لومـه کـې بـه هـېڅ مرغۍ نـه ښته او بنکاري بـــه لومـه نـه ايښوده.

"سعدي"

❁❁❁

سپما، بـــېوزلۍ شـتمنوي او شـتمن هوښيـاروي.

"الکساندر دوما"

❁❁❁

پيسې هغه بـــوت دی چـې ټول يـې لمـانځي، خـو دا بـوت معبـد نـه لـري.

"روتچيلد"

❁❁❁

لوړه او بې وزلي نر جنـايت تـه او ښځه فحشـا تـه هـځوي.

"ويکتور هوګو"

❁❁❁

تشه لاسه ته مې دښمـــن يـې.

"پښتو متل"

چې خبره د پيسو شي، بيا ټول يو دين و قانون مني.

"وېلتر"

❁❁❁

چې يو يې خوري نور ورته ګوري، د اسمان کانې دې پرې ووري.

"پښتو متل"

❁❁❁

پيغمبران له شتمنو کورنيو څخه نه وو او ګڼ شمېر لويان و نومیالي له ويجارو جونګړو څخه راپاڅېدلي دي.

❁❁❁

پيسې د لاس خيرې دی.

"پښتو متل"

❁❁❁

وږې ګېډه زړه سوی نه لري.

"دري متل"

❁❁❁

شتمني وينه ده که په بدن کې وچه شوه زړه دربړي، که بيخې ډېره شوه زړه چوي، د دې له پاره چې نه ژوند وکړو تل د وينې يوې منځنۍ اندازې ته اړتيا لرو.

★★★

هېواد، ملت و ټولنه

کـه هېوادنـی مينـــه نـــه وای د بـــدې هـــوا او اوبـــو هېوادونـــه او ښارونه به رنـګ و تـش پـاتې وو.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

مـا د محـراب مصلـی وشـکوله ځکـه چـې د هېوادنيـو ټپونـو د ټرلـــو ارتيـا وه.

"ويکټور هوګو"

❁❁❁

د هـېواد ودانـي، د ببوزلـی او نـــاپوهـــی مخنيـــوی او د فرهنـــګ و روغتيا پراخول په خبرو نـه کـېږي، د دې لـه پـاره ښايـي کـار وکـړو، پرلـه پسې کـار.

❁❁❁

لومړنی هېواد چې روغتون پـــه کـې جـوړ شـو؛ ايـران و.

"روانسون"

❁❁❁

له ټولنيز ژوندانه سره مينه نه لرل، لـــه ژوندانـه سـره مينـه نـه لـرل دي.

"حجازي"

کـه غـواړي وپوهـيږي چـې هـيواد څومـره ګران دی، څه مـوده بهرلاړ شـه.

"رومي متل"

❁❁❁

څومره بده ده چې انسـان داسـې مـهال مـړ شـي چـې خپـل هـيواد ته يې هيڅ خدمـت نـه وکـړي.

"لينکلن"

❁❁❁

بنايي چې په بنوونځي کـې هـيواد وپـيژنـو.

"ميشله"

❁❁❁

ټول قومـي او ملـي بريالیتوبونـه د يـووالي زيږنـده دي، خـو يـووالي پسـرلنی بـاران نـه دی چـې پـه خپلـه وريږي، د هـر ملـت د يووالي تاداوونـه د هغـه ملـت خواخـوږي پوهـان و فلاسـفه ږدي.

"قيام الدين خادم"

❁❁❁

له هيواد سره مينه تـر ټولـو مينـو اوچتـه ده.

❁❁❁

هيوادنی مينه زمـا د ديـن و مذهـب اوچـت پـراو دی.

"مهاتما ګاندي"

❁❁❁

په نړۍ کې هـرڅه بنکلـي دي او تـر دا هـرڅه د هـيواد پـه لار کـې مړينـه ډېره بنکلـې ده.

"ابو مسلم خراساني"

❁❁❁

هرچا ته خپل هـيواد ګران دی، خـو د ګرانـښت لار نـه پـيژنـي.

❁❁❁

د روم امپراتـور "کالبـا" چـې تـر تـوره لانـدې ورمـړ کـښنوده، جـلاد تـه يـې مـخ ورواړاوه او ويـې ويـل: "ووهـه! کـه د روم و رومـــي ملـت د بنبګنې له پاره يـــې وهـې!"

هېڅوک حق نه لري چې ځان ووژني او که ويې واژه په دې توګه به يې خپل ځان له خپل هېواد نه غلا کړی وي.

"بهرام شاه رخ"

د ايران په سلطنتي دربار کې کلک حکم و چې د شاه پر مېز دې هېڅډول بهرني توکرو محصولات ونه لیدل شي.

"دنیون"

يو ستر ملت يو پاينده دولت ته اړتيا لري چې د يوه سړي په مړينه ونه نړېږي.

"ناپليون"

روزنه تر ډوډۍ وروسته د ملت لومړنۍ اړتيا ده.

"دانتون"

د خپلواکپالو غورځنګو ټول ګوزارونه پر تېريګرو لګېږي، نه پر تېري.

"مونتسکيو"

د ملتو وړتيا هغه مهال څرګندېږي چې له يوه تاريخي ناتار سره مخامخ شي.

د ملتونو پر مختګ و بشپړتيا د هغوی د ځمکو د ارتوالي له مخې نه تاکل کېږي.

"اسمايلز"

مانيز ځواک چې شاته ولويد، ملي ژوندون ورو، ورو د مرګ خواته ځي.

د هر ډېره کي خـبره د منلـو نـه وي.

"شیخ محمد خیابانی"

❁❁❁

هـر ملـت اړ دی چـې د بشـپړتیا د قـانون لـــه مخـــې یـــا پرمختـــګ وکړي یا مړ شـــي.

❁❁❁

چې ځواک ملي نه وي، ځانګړي ځواکونه په خلي هم نه ارزي.

❁❁❁

د ملتونو خپلواکـي پـه ښېګڼه او اوچتـو اخلاقـو ساتل کـېږي.

"شیخ محمد خیابانی"

❁❁❁

د یـوه ملـت راتلونکـې تـه بـل هـیڅ څه دومـره وژونکـــي نـــه دي، لکه د خپـل هـېواد لـه سیاسـت نـه چـې لاس واخلـي او لـه خپـل ځواک څخه یومخـیزې سـترګې وتـړي.

"سید ضیاالدین طباطبایي"

❁❁❁

یو ملت هغه مهال لوټېږي چې د کارونو په سرکې یې غله ناست وي.

"ډاکټر ارانی"

❁❁❁

په زورواکی کې د وګړیو سوکالي او امنیت د هوسی په ښکره کې وي.

"مونتسکیو"

❁❁❁

پـه راتلونکیـو ملـــي بریـــاوو ډاډ دی چـــې وګړي د انتظـــار ترخـــې شېبې تـــېروي.

❁❁❁

مـــاذي ځواک لـــرځېږي او اوړي، خـــو مـــانیز ځواک کلـــک او نـــه مـــاتېدونکی وي.

ګوستاولوبون

د نومیالیو نومونه او یادګارونه د یوه ملت میراث دی چې بېوزلي، شاتګ، بدمرغي او ان بنکېلاک یې هم تړي اخیستلای نه شي.

❁❁❁

پرکنې چې ویده شي، بشپړ ویدېږي خو چې راویښې شي بیا سور پر مخنګ نه مني.

"شیخ محمد خیابانې"

❁❁❁

په ننني تولنیزو جوړښتونو کې د روزنې پوښتنه د ژوندانه او مرګ پوښتنه ده.

"ارنست زمان"

هغه چا چې په تیاره کې ژوند کړی وي، د یوې ناڅاپي رنا پر وړاندې یې سترګې رندېږي.

❁❁❁

یو خاین دفاع وزیر د هېواد په کمزورتیا او شاتګ کې د دښمن تر سلو لښکرو ډېر اغېز لرلای شي، او یو ناپوه فرهنګ وزیر د تولنې په ناپوهۍ او تیاره ساتلوکې د دښمن تر سلو تبلیغاتي کانالونو ډېره وندې لرلای شي.

"محمد مسعود"

❁❁❁

د پیلوړې تولنې ستونې د بدمرغیو او بدو پېښو په زهرو نه ترخېږي.

❁❁❁

که یو نه شو، ورک به شو.

"باچا خان"

❁❁❁

یووالی بری دی.

"میرابو"

هغه چې خپلې ټولنـيزې دنـدې پـرځای نـه کـړي، لـه خپلـو حقونـو څخه بې برخـې کـيږي.

"شيخ محمد خيابانې"

❁❁❁

دېرې ټولنـې شـته چـې فکرونـو تـه نـــه ګورې، يـــوازې خـــبرو تـــه ګورې. کېدای شي چـې د داسـې ټولنـو غـړي پـه يـوه شـېبه کـې د يـوه ويـاند وينـا تـه کلکـې چکـې ووهـي، خـو تـر لـږ ځنـد وروســته د هغـه پرخـــلاف ودرېږي.

"ګوستاوبولان"


❁❁❁

دوه لاملونـه يـو هـېواد ويجـاړوي: لومـړی، چـې پوهـان ونـه لـــري، دويم، چې د چـارو واګې د پوهـانو پـه لاس کـې نـه وي.

"وېلتر"

❁❁❁

د هېوادونو ترمنځ بريدونـــه دولتونـو تاکلـي نـه ملتونـو.



خدایٔ

تر ټولو کلک پرې چې د ژوندانه د ستنو په لړځېدو کې یې نیسي؛ هغه اړیکي دی چې ستا او لوی خدای تر منځ ټینګ دی.

"حضرت علیؑ"

❁❁❁

یوه کوچنی مرغی چې تر پانو لاندې غاړه وهي، د خدای د شتوالي پېژندلو ته بس ده.

"ویکتور هوګو"

❁❁❁

هغه سینه چې د خدای یاد په کې نه وي، داسې محکمه ده چې قاضي نه لري.

"روسو"

❁❁❁

دا نه شي کېدای چې انسان په خدای ګروهمن نه وي، زه د کلیسا د ځینو مشرانو دې وینا ته ګوته پر غاښ یم چې وایي، میترلینګ خدای نه منې.

موریس میترلینک

یوازینی دعا چې د خدای لـه شـان سـره بنایـي دا ده چـې هغـه تـه ودرږو او ووایو: خدایه! مـورږ تـا نـه پـېژنولـه دې پرتـه کـه هـرڅه ووایـو، که کفر نه وي نو سـپکاوی خـو هـرو، مـرو دی.

"موریس میترلینک"

❁❁❁

آیا خـدای تـه دعـا کـول او لـه هغـه نـه بښنـه غوښتـل د خـدای پـر وړاندې سپین سترګي نه ده؟ ځکـه، کلـه چـې مـورږ لـه خـدای نـه غـواړو چې یوڅه راکړي، مانا یې دا ده چـې هغـه خپـل کـار نـه پـېژنـي، یـا پـه بله وینا په ارتیاوو مو نه پوهـېږي، چـې بشـپړ یـې کـړي. کلـه چـې مـورږ د یوه کار کول وریـادوو، دا مانـا لـري چـې هغـه پوهـو و چـې عـادل نـه دی، ظالـم دی او یـا ځیرتیـا او تینګښت نـه لـري.

"موریس میترلینک"

❁❁❁

انسـان بـه هېڅکلـه ونـه پوهـېږي چـې د خـدای پـر وړانـدې چـې هـرڅه مـو لـه هغـه دي؛ څه مسـؤولیت لـرو او هغـه بـه څه ډول پوښتنـه رانه وکـړي.

"موریس میترلینک"

❁❁❁

آیـا یـوازې لـه خـدای نـه خـیر و برکـت وغـواړو او بلاووتـه یـې سـر تیټ نه کـړو؟

"پیغمبر ایوب"

❁❁❁

د پوهې ډجوره دومره ارته ده چې "لوی خدای" په کې ځای. شي؟!

"توفیق الحکیم"

❁❁❁

هغـه خـدای چـې مـورږ یـې لمـانځو تـل زمـورږ غونـدې دی، ځکـه همدا زمـورږ پوهـه ده چـې د خـدای ځانګړنـې سـتایي. کـه ستاسـې اندولید تـر دا اوس زرواړې ستر شـي، خـدای بـه مـو هـم زر واړې ستر

شي او که اند ولید مو زر ځلې نور هـم پـاک شـو، خـدای بـه مـو زرځلـې نور هم پاک شـــي.

موریس میترلینک

❁❁❁

زه چمتـو یم ان خـورا لرغونـي خدایـان چـې زمـا عقـل یـــې ونـــه مني، ویې نه منـــم.

مهاتما ګاندي



بشر پالنه

ته پر هغوی چې د ځمکې پـر مـخ دي لوړينـه وکـړه، هغـه چـې پـه اسمان کې دی پرتا بـه لوړينـه وکـړي.

"حضرت محمدﷺ"

تر ټولو ښه هغه څوک دی چـې نـورو تـه يـې ګټه ورسـېږي.

"حضرت محمدﷺ"

که شتمن ياست مرسته وکـړئ. کـه نـه ياسـت داډ ورکـړئ.

"لفووه"

هغه چې د نورو ښېګڼه غـواړي، خپلـه بـه يـې هـم لاس تـه راوړي.

"اپلاتون"

د نـورو غمخـوري خونـدوره ده.

"محمد حجازي"

وکړي واړه کـارونـه خپل کـا مردان هغه دي چې کار د بل کا

چې څوک ارام کتي د نېکو نام کتي د خـــوږو زړونو دارو به تل کـا

"خوشال خان خټک"

❁❁❁

نـه هـر تـورپوسـتی تـور زړی دي او نـه هـر سـپين پوســتی سـپين زړی، که نـه ولـې بـه د تـورې غـوا پـې سـپيني وای او د سـپيني لمنـځې نانځړه تـور؟

"پوهاند ډاکټر زيار"

❁❁❁

کـېدای شـي چـې نـور زمـور د خواخـوږی او ښېګڼې لـه املـه مننـه رانه ونه کـړي، خـو د مننـې کمـی د ښېګنو ارزښت نـه راتيـتوي.

"بنيام"

❁❁❁

کله، کله يوه مړی تـر لويـې مېلمسـتيا غـوره وي.

"تونکي"

❁❁❁

که زړســواندي او مينـه نـاک نـه ياسـت، نـو په نـړی کـې مـو خپلـه دنده بشپړه کـړې نـه ده.

"شارل يوکستون"

❁❁❁

پلار مړي ته خواخـوږی پـلار شـه.

"حضرت محمدﷺ"

❁❁❁

په مينه ټوله نړی نيـول کـېدای شـي.

❁❁❁

بودا د ژوندانـه پـه پـای کـې خپلـه وينـا پـه دغـو دوو خـبرو را لنـډه کړه: مينـه، زړه سـوی.

"بودا"

❁❁❁

په نړی کې تر مينـې پورتـه څه نـه وينـم.

"بتهوون"

د انسان د سوکالی زړی په مینه کې دي.

"اپلاتون"

❁❁❁

د انسان زړه ترهنده (وحشي) دی، خو په مینه لاسته راځي.

"حضرت امیرع"

❁❁❁

مینه مه هېروئ او بې ارزښته یې مه کئ.

"اپلاتون"

❁❁❁


د خوارانو د موسکا لیدل د هغوی د اوښکو تر لیدلو دردوونکې ده.

"مادام وولیر"

❁❁❁

د بشر د زړه لاس ته راوړل څومره آسان دي؛ په څومره وړو شیانو خوښېږي! سربېره پردې هم د زړه ماتولو غږ، نړی نیولې ده.

"دشتي"



حق و قانون

حق ارزښتمنه او درنـــه کلمـه ده او کـه هرځومـره ترخـه هـم وي په خپله خـوره اومنلـي پايلـه ارزي.

"حضرت علیؑ"

هغـه قـانون چـي د تندخويـنی پـر بنســت ولاړوي، تــر يــوه مــوده پوري به وچلېږي، خو تلپـاتي کـېدی نـه شـي.

"کوستاولوبون"

يوه ناحقه پربکړه تر ځو جنايتونو، ډېر تاوان و ويجاړتيا رامنځته کــوي، ځکه جنايت د ژوندانه ويناله او ناحقه پربکړه د هغې چينه چټلوي.

"فرانسين بيکن"

ربښتيا وينا ترخه وي، خـو لـږ شـمېر خـوږې وينـاوې ربښتيـا وي.

حق و قـانون هغـه تـوره ده چـې لاسـتی يـې د زورور او تـېره ځوکـه يـې د کمـزوري پـه لاس کـې وي. پـه دې تـوکه واک لـه زورور ســره دی

او کـه کمـزوری هـر ډول تینـګار ورسـرغړاوی کـوي، بـې لـــه دې چـــې خپلې ګوتې پـرې کـړي، بلـه څه ګټه لـري؟

"محمد حجازي"

❁❁❁

داسې ټکلار ولره چې هغــه د ټولـو قـانون شـي.

"کانټ"

❁❁❁

یوازې هغـه چـا تـه ګیلـه کـوه چـې پـه سـتونزه کـې مرسـته درسـره کولای شـي.

"حضرت امیرؓ"

❁❁❁

یوازینـی قـانون چـې سـوکالي رابښلـی شـي، د اخلاقـو او انسـانیت قـانون دی.

❁❁❁

قانون چې پای ته ورسـېږي، تـېری پیـل شـي.

"ویلیام پیټ"

❁❁❁

هغـه چـې پـه دولتـي دنـده کـې بوخـت دی، ځان دې لـــه خلکـــو سره پیلـــي وکـني.

"توماس جفرسن"

❁❁❁

دولتـي کـارکوونکي د کتـابتون د کتـابونو غونـدې دي، هغـــه چـــې نه لوستل کـېږي پـه جـګ ځای کـې اېښودل شـوي وي.

❁❁❁

هـیڅ قـانون، مذهـب و تـکلار بـده نـه ده، ټکـی دا دي چـې د چـا په لاس کـې لوېدلـې ده؟

"تن"

❁❁❁

مینه تر قـانون اوچتـه ده.

"چیني متل"

قانون څه دی؟ دا بې سا الفاظ چې د ژوند یو لاس ته لوبړي کوم ارزښت نه لري. د کار و کړنې هغه ډول چې د دغو ژوندیو په لاس تر سره کېږي ارزښت لري.

"جان لاک"

❁❁❁

ډېر د دې له پاره پوستین چپه اغوندي چې ارځېره یې راخرګنده نه شي.

"پوهاند ډاکتر زیار"

❁❁❁

رینتیا وایئ.

"شیللر"

❁❁❁

مالیو ته د داسې قوانینو جوړول په کار دي چې د مالیې تولوني ډول تر مالیې درون نه وي.

"مونتسکیو"

❁❁❁

د دروغو ډیوه رڼا نه لري.

"دري متل"

❁❁❁

په خدای لوړه کوم، که حسن و حسین په ناحقه یو زړه وځوروي یا له چا نه یو دینار په زور واخلي، په هماغه توره مې چې بوت پرستان د ژوندانه له سپرلی نه را غورځولي، د پیغمبر لمسیو ته به هم ادب پرې وروښیم.

"حضرت علی ک"

❁❁❁

قانون ملت نه، ملت قانون جوړوي.

"بریتانوي پوه"

❁❁❁

ټول خلک د قانون پر وړاندې خپلواک و برابر دي، خو په دوی کې کټ شمېر یوازې خپلواک دي چې یا له لوړې مړه شي او یا د نورو د واکمنې زنځیر پر غاړه وزغمي.

"فردیناند بوتسیون"

رښتينې حق يو بې بنسټه او دروغجن تصور دی. هرچېرته کمزورې د ځواکمن تر پښو لاندې کېږي.

❁❁❁

د رښتيا او دروغو ترمنځ ځلور کوتې واټن دی. هېڅکله په خپل قضاوت کې دغه لنډ واټن له پامه مه غورځوئ.

"حضرت علی ک"

❁❁❁

د تاریخ په ژبه کې حق و زور په یوه مانا راغلي دي.

❁❁❁

هله چې څوک له چا نه غچ اخلي، ځان له خپل دښمن سره سیالوي، خو په تېرېدنه او ښنه کې ځان لوړ تري ښيي.

❁❁❁

کېدای شي چې هر حق د قانون په بڼه څرګند شي، خو هر قانون د حق په بڼه ښکاره کېدای نه شي.

❁❁❁

په دېر ارخیزو پښو کې بېرنۍ پرېکړه د لېونتوب نښه ده.

"مونتني"

❁❁❁

که رښتیا ترخه هم ښکاري، زغمل يې په کار دي.

❁❁❁

قوانین د وجدان کمزوري بشپړوي، که نه، کېدای شي چې قوانینو ته به ارتیا نه وه.

❁❁❁

که د غله کوتې پرې کېږي، د سیمې د مشر لاس دې په څنګل کې غوځ شي.

❁❁❁

هغه ټولنه چې له رټلو او ګره مولو نه دار، خپل ځای له قانون نه وېرې ته په کې پرېږدي، بدبخته ده او تر هغې لا بد بخته هغه ملت دی چې له قانونه يې هم ستړکه ونه سېزي.

هماغسې چې انډول ټېرۍ عدل (نیاو) دی، ځانګړی نیاو هم ټېرۍ دی.

"محمد مسعود"

❁❁❁

د جنایتونو له ارلاملونو سره دې مبارزه وشي، که نه د هغوی په بهرنیو بڼکارندو یوخت بدل کوم درد نه درملوي.

"فتحی الرملي"

❁❁❁

د بدیو وروستی پړاو، د ټېرې په لار کې د قانون کارول دي.

"وبلتر"

❁❁❁

د دې له پاره چې قانون سپه پلی شي، ښایي د وګړیو ارواوې یې منلو ته چمتو وي.

"مونتسکیو"

❁❁❁

ارسطو چې د اپلاتون فلسفه تر کره کتنه لاندې راوستله، ورته وویل شول چې ولې دې د خپل ښوونکي درناوی له پامه وغورځاوه؟ هغه ځواب ورکړ: "ښوونکی راته ګران دی، خو ربښتیا راته تر هغه هم ډېره ګرانه ده"

❁❁❁

د یوې ټولنې ویجاړي دوه ډوله ده: لومړی، هله چې وګړي قانون نه مني، چې دا درد چاره لري، او بل دا چې قانون وګړي بدوردوي چې دا درد درمل نه لري، ځکه درد د درملنې زېږنده وي.

"مونتسکیو"

❁❁❁

د پرانسې د اوږدو نومیالي یهودي افسر "دریفوس" چې د سزا ګاللو له پاره ته، خپلې مېرمنې "امېل زولا" ته یې وویل:

"محکمې او قضاوت زه محکوم کړم، نورو هم دا پریکړه سمه وکنله. خو ته پوهه شه چې زه بې کناه یم!"

❁❁❁

قانون و اخلاقي بسوونې هله اغیزناکیدای شي چې د کتابو له مخونو د زړه مخونو ته ولیږدیږي.

❁❁❁

بشر چې منونکی او سمچاری وي، قانون ته ارتیا نه لري، او که سرغړاو او بد چاری شو، بیا یې قانون مخه نیولی نه شي.

"دیسراییلي"

❁❁❁

چې باران ودربد، سیند به رون شي.

"ترکي متل"

❁❁❁

که محکمې ته دې خپله غوښتنه وړاندې کړه، پیشو به دې وکټې، خو غوا به بایلې.

"چیني متل"

❁❁❁

د سیند اوبه چې تیتې شي، تیږي یې رابنکاره کیږي.

"انګریزي متل"

❁❁❁

هرڅوک د سپینې وینا د اوربدو زغم نه لري.

"توفیق الحکیم"

❁❁❁

که زه د ربنتینولی په څرګندولو تاوان وکړاو ووینم، پروا نه شته خو چې زما په چوپتیا ربنتینولی ته تاوان ونه رسیږي.

"جان پیم"

❁❁❁

بدې چې پر وړه راننوځي، نپاو له کړکی تښتي.

"ترکي متل"

په هيڅا کې مې داسې ګناه نه ده ليدلې چې په خپله مې نه وي کړې.

"ګوټه"

❁❁❁

مور ته قانون تراندازې دېر ارزښت لري او انسان لږ.

"ديزراييلي"

❁❁❁

قانون ته بنايي چې تاوان راوګرځوي، نه دا چې د تاوان راګرځولو له پاره نوی تاوان پېښ کړي يا دا چې د رنګ شوي ښار په بدل کې ودان ښار رنګ کړي.

"مونتسکيو"

❁❁❁

رښتيا او سور ګل دواړه اغزن دي.

"اسپانيايي متل"

❁❁❁

غوا به توره وي، خو پې يې سپينې دي.

"روسي متل"

❁❁❁

په واوره کې د پښو پل نه پټېږي.

"جاپاني متل"

❁❁❁

زما په اند حق نه پېژندل ستره نيمګړتيا ده چې کېدای شي خوک يې ولري!

"ناپيليون"

❁❁❁

زه به رښتيا وايم که د هند ملت په تاوان هم وي.

"رابيند رانات تاګور"

❁❁❁

اوښ پر پر بډه نه وهل کېږي

"پښتو متل"

که شپه تياره ده، مـــني پـه شـمار دي

"پښتو متل"

❁❁❁

لمر په دوو ګوتو نـــه پـټيږي

"پښتو متل"

❁❁❁

د بېوزلو او بدمرغو ټولنو قـانون يـا رونـد دی يـا لېونـی



سیاست و واکمني

سیاست پوهه ده، او لـه اخلاقـو نـه بـیل دی.

"نیکولو – ماکیاولي"

پر زړونو پاچـاهي تـر تولـو ښه واکمنـي ده.

"ناپیلیون"

هر ملـت د هماغـه حکومـت وړ دی، چـې پـرې واکمـن دی.

"حضرت علي ک"

بریـالی لارښود هغـه دی چـې د پریکړې تـر کولـو او د هغـې تـر ځرګندولو د مخـه یـې په اړه پـوره او ژوره څېړنـه کـړې وي.

"نیکولو – ماکیاولي"

دیموکراسـي رژیم، د ټولنـې حکومـت، د ټولنـې پـه لاس، د ټولنې لـه پـاره دی.

"ابراهام لینکلن"

سیاست نـوې بدمرغـي ده.

"ناپیلیون"

سیاسـت د اقتصـاد نچـوړ دی.

د ټولنې بې وزلي او خوارۍ د بد سیاست نښه ده.

"ژیراردن"

❁❁❁

خلک په دوارو ولسواکو او زورواکو حکومتونو کې سره برابر دي، ځکه په لومړي کې هرڅوک هرڅه دي او په دویم کې هیڅوک هیڅ څه نه دي.

❁❁❁

په هغه ځای ځانښودنه چې زمور له واکه بهر دي؛ په دروغو د ملت غولول او د ټولنې پر وړاندې د ورځې په نرخ سیاست کول زمور تکلار نه ده.

"مصطفی کمال اتاتورک"

❁❁❁

زه نه وایم چې دیموکراسي نیمګړتیاوې نه لري، خو بنکلا یې داده چې دا نیمګړتیاوې د دیموکراسۍ په خپل لاس سمبدلی شي، خو د دیکتاتورۍ خپلې نیمګړتیاوې د هغې په لاس نه سمبږي.

"آدام سمیت"

❁❁❁

د پارلمان یو وکیل له هغو لومړیو کامو څخه چې د دریځ پر لوري یې اخلي؛ پښځندل کېږي، چې د وجدان سپارښتنه به پرځای کړي، که د واکمن.

❁❁❁

د سیاستوال زړه په سر کې وي.

"ناپلیون"

❁❁❁

د هرې خپلسرۍ په پای کې دیکتاتور حکومت راځي.

"ناپلیون"

❁❁❁

سیاست د ستړنج لوبه ده، هغوی چې پرې نه پوهېږي، سر یې پرې نه خلاسېږي.

"ژان ویولیس"

خینې سیاستوال سړي خواره ځناور دي. خو چې غابنونه یې پڅ شي بیا وانبه خواره شي.

❁❁❁

په سیاست کې انسان هله په اسانۍ غولېږي چې ګڼي نور یې غلولي دي.

"ژول کامبون"

❁❁❁

ښځنه غوره سیاست دی.

"انګرېزي متل"

❁❁❁

سیاست زړه نه لري، یوازې ماغزه لري.

"ناپلیون"

❁❁❁

په لوڅ لاس مارمه نیسه.

"یوګوسلاوي متل"

❁❁❁

که خپلو نیمګړتیاوو ته مو پام وي، د نورو به رانه هېرې شي.

"عربي متل"

❁❁❁

د لاس ګنده په غابنو مه رنځه.

"پښتو متل"

❁❁❁

د سیاست هنر د وار لټول نه، د وار کارول دي.

"فریدریک"

❁❁❁

هغه مشر خپل ملت ته رښتینې خدمت کړای شي چې په ماتې کې نهیلی او په بري کې مست نه شي.

❁❁❁

هغه دولت چې له ملت نه ډارېږي، تل بې خوار واسکېرلی ساتي.

"فتحی الرملي"

په استبدادي حکومت کې روزنه دا ده چې په زړونو کې دا کيږدي او څو ساده مذهبي لارښوونې زده شي. هلته له پوهې نه کرکه کيږي، څکه چې بيدې پايلې ورته لري.

"مونتسکيو"

٭٭٭

نړۍ به هله سوکاله شي چې يو رژيم حکومت پرې وکړي.

"محمد مسعود"

٭٭٭

تر ټولو ښه حکومت هغه دی چې د ټولنې تر ټولو وروستي غړي ته سپکاوی، کردې ټولنې ته سپکاوی وکړي.

"يوناني فيلسوف"

٭٭٭

اوس څه د برخليک پوښتنه کوئ؟ سياست برخليک دی.

"ناپليون".

٭٭٭

پر اوبو کرښه نه راکښل کيږي.

"دري متل"

٭٭٭

د سياست په نړۍ کې دعقل و منطق خبرې تل د هغو موخو د پټولو له پاره کيږي چې له منطق و عقل سره هيڅ اړيکي نه لري.

"کوستاولوبون"

٭٭٭

زما دېر وزيران د دې ور دي چې کادی والا وای. او دېر کادی والا شته چې د پرانسې د وزارت بشپړه ورتيا لري.

"ناپليون"

٭٭٭

په زور واکو هيوادو کې تر ټولو خوار هيواد هغه دی چې پاچا يې سوداګر وي.

"مونتسکيو"

٭٭٭

د واکمنې تر ټولو ستر هنر دا دی چې کارکوونکي د خپل کار له لاسه زاړه نه شي.

"ناپليون"

د یونان له اووو پوهانو څخه یې وپوښتل چې بشپړ حکومت کوم دی؟

آتني قانونپوه سولون وویل: "هغه چې د یوه کنځا پر ټولو اغیز وکړي."

بیاس وویل: "هغه چې قانون د واکمن پرځای کار وکړي."

فیلسوف سالیس میلوسي وویل: "هغه حکومت چې د شتمنی برابري په کې وي."

پتیاکوس وویل: "هغه چې سم چاري په کې واکمن وي، نه بدچاري."

کلیوبوس وویل: "هغه چې قانون د ویاند پر ځای وغږېږي."

سرمامدرس پورتنی خبرې داسې راټولې کړې: بنایي چې سپېڅلي پوهان حکومت وکړي."

وحشي لویزیان چې غواړي مېوه لاس ته راوړي، ونه له بیخه باسي. استبدادي حکومت هم داسې کوي.

"مونتسکیو"

د نړۍ نیمایي بدمرغي د رښتینولی له پټولو نه سرچینه مومي.

"سرآرتور هیلپس"

مختار وزیر هغه څوک دی چې یوه هېواد ته د یو څه دروغ ویلو او دروغ اوریدلو له پاره لېږل کېږي.

که مشران وواکمن په هغو ښکنځو وستایل شي چې نه یې لري، دا به هغه کنځاوې وي چې د جزا له وېرې پرته ورته کېږي.

"لاروشفوکلد"

لوړه د ټولو جنایتو مور ده، سربېره پر دې هم وینو چې دولتونه د دې پرځای چې له لوړې او بې وزلی سره جګړه وکړي، له جنایت او جنایتکار سره دغړې وهي.

"فتحی الرملي"

سړه وينه لرل تر تولو سترە خانکړتيا دە چې د واکمنۍ لە پارە تاکل شوې

"ناپيليون"

❁❁❁

د استبدادي حکومت بنسټ دار او د دغه دار موخه آرامي دە، خو بنايي پوه شو چې دا آرامي سوله نه دە او د هغو بنارونو چوپتيا ته ورته دە چې پته وبرە په کې دە، نو ژر به د دښمن لاس ته ورشي.

"مونتسکيو"

❁❁❁

خپلسري پاچاهان دهغه اورغوندې دي چې خپل بلوونکی هم سپزي.

"هندي متل"

❁❁❁

سياسي اتلان چاپېريال نه بدلوي، خو له هغه بدلون سره چې چاپېريال يې ورې دی؛ مرسته کوي.

"دشتي"

❁❁❁

د سياست په باريکيو کې چل روا دی او لويوالی نه ژوبلوي.

"مونتسکيو"

❁❁❁

هغه چې پر خپلو ماغزو حکومت نه شي کړای، د دې وړ نه دی چې د سياست د زينې پر لومړي پاړکي هم ودرېږي.

"کوستاولوبون"

❁❁❁

د ټولنيز پرمختګ و سوکالۍ په لار کې د ناپوهو او کمزورو خبرو ته غوږمه نيسۍ.

"ناپيليون"

❁❁❁

ډېره بده ده چې په سياست کې د چارو واګي داسې څوک په لاس کې ونيسي چې نه پوهېږي او په سرته رسولو يې نه بريالي کېږي.

کوستاولوبون

چې کومه پېښه منحته راڼه شـــي لپونـــی هـــم واکمنـــي کـــولای شـــي
"آلماني متل"

❁❁❁

پاچاهان و پرکنـــي نـــه خپـــلا کېدونکـــي دښمنـــان دي.
"ناپيليون"

❁❁❁

سياســـت د زړه درد تـــه وايـــي.
"اجمل ختک"

❁❁❁

هغه چې پر يـــوه تيـــره ده واړې لـــوېږي، پـــښې يـــې د مـــاتېدو دي.
"بېکن"

❁❁❁

واکمنـــي هغـــه غـــر دی چـــې څوکـــې تـــه يـــې ورختـــل ګران او تـــرې رالـــوېدل آســـان دي.

❁❁❁

سياستوال ته نه ښايي چـــې غـــل وي، خـــو پـــه غـــلا دې پـــوه وي.

❁❁❁

د سياســـتپوه او سياســـتوال ترمنـــځ تـــوپـــير دی، لومـــړی پـــرې پوهـــېږي نه يې کوي، دويم پرې نـــه پوهـــېږي خـــو کـــوي يـــې.

❁❁❁

سياست يوازې د انساني ژوندانه د سمون و سوکالۍ له پاره هـــڅه او د پرمختګ کيلي ده، که چا بله مانا ترې واخيسته نو جنايت دی.

❁❁❁

لـــه يساســـت نـــه دروغ بـــېل کـــړئ د هـــر رنـــځ لـــه پـــاره درمـــل تـــرې جوړولای شـــئ.

❁❁❁

هغـــه چـــې سياســـت تـــه راغلـــي وي، ورپســـې مـــه ځئ، چـــې راوســـتي مووي، ورپســـې لاړ شـــئ.



ځوانی

ځواني د لېونتوب يوه څانګه ده.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

ځوانی د لېونتوب، مینې او زړورتیا پراو او د بشري اروا زړه راکښونکې بڼه ده.

"ایرانشهر"

❁❁❁

په زړو دېر کارونه کېدای شي، خو ځوانی پرې نه پېرودل کېږي.

"رایموند"

❁❁❁

د ځوانی او زړښت ستر توپیر دا دی چې د لومړی موخه ژوند او د وروستی هغه مرګ دی.

"شوپنهاور"

❁❁❁

ځواني مستي او د عقل تبه ده.

"لارشفوکولد"

❁❁❁

ځواني د ماشوم توب و زړښت تر منځ ده او د ژوندانه د پاچاهی او بري ورځې په کې تېرېږي.

❁❁❁

ځواني هم د سپېځلي مینې غوندې یو پای لري.

که د يوه زلمي د مينې مخنيـوی کـوی. لکـه نـاروغ چـې پـه سسـتی کړد مـوی

"دوکلوس"

❁❁❁

ځواني هغه ستوری دی چې د ژوندانه پر اسمان يو ځل راخيژي.

❁❁❁

د هغـه څه د زده کـړې لـه پـاره چـې غوښتـل مـې، زړښت تـه اړوم. او اوس دهغه څه د ويلـو لـه پـاره چـې زده مـې دي، ځوانـی تـه اړ يم

"ژوبرت"

❁❁❁

ناپوهي، خوښي او نا خبري چې يوځای شي، ځواني ترې جوړيږي

❁❁❁

د ځوانـی افـراط هغـه پـور دی چـې پـه زړښت کـې بـه يـې ببرتـه ورکـوئ، اوهغـه څه مـو چـې لـه وجـود نـه پـه ځوانـی کـې لـه لاسـه ورکړي په زړښت کې يـې هيلـه مـه لـرئ.

"فرانسيس بيکن"

❁❁❁

ځواني څپې وهي او د ژوندانه سمندر پـه اېشـپډو راځي، يـه زلميـو! مخکې تر دې چې اروا مو تياره او سړه شي، پاځئ او هڅه وکړئ.

"شيللر"

❁❁❁

بودا کان د مينې رنـګ او زلميـان يـې خونـد سـتايي.

"يوناني متل"

❁❁❁

زړښت د ښځې دوزخ دی.

"لارشفوکو"

❁❁❁

زلمی د ځوانی پـه نښـه مسـت وي، د چـا نـه اوري.

"پښتو متل"

❁❁❁

که ځوانانو پوهـه او زړو ځواک لـرلای، هـرڅه بـه سـم وو.

"ايټاليايي متل"

د مشرانو درناوي وکړئ چې کشران ستاسې درناوی وکړي.

"حضرت محمد ص"

خوانې د هیلو پسرلی دی.

"دیکنز"

هرڅوک غواړي چې اورد ژوند ولري، خوهیڅوک نه غواړي چې زوړ شي.

"سویفت"

هرڅوک د خپل زړه په اندازه زوړ دی.

زړورتيا او سرتيري

د وګړيو پر وړانـدې د در، کمـزورى او نهيلـى خـبرې مـه کـوه.

"حضرت محمدﷺ"

❁❁❁

زړورتيا او مېړانـه پـه دروغـو پـه چـا پـورې نـه نښلـي، دا هغـه لـوښه ده چـې تکي او دروغ نـه منـي.

"ناپليون"

❁❁❁

دروه او تکي تـر ډېره د کمزوريـو کـار دى.

"لاروشفوکولد"

❁❁❁

زمرى چې مړ شي، ګيدړ يـې هـم لکـى راکـاږي.

"اسپانيايي متل"

❁❁❁

پـه نـړۍ کـې دوه ځواکونـه دي: تـوره او تدبـير، خـو تدبـير تـل توره مـاتوي.

"ناپليون"

❁❁❁

مېړانـه او زړورتيـا د بشـر ښه لـوښه نـه ده، دا لـوښه دهغـو بـدوردو خلکو ځانګړتيا ده چې تـاريخ يـې "لـوى مېړونـه" بـولي.

"وېلتر"

د بې زړو ملګري ته زړورتیا ناشوني ده.

"آلماني متل"

❁❁❁

زړورتیا د انسانیت ستره پېژندویي ده.

"دانیل وېبستر"

❁❁❁

هغه څوک زړور دی چې ډار وپېژني او بری پرې وموميي.

"نیچه"

❁❁❁

ربنتینی اتل هغه دی چې د نورو د خوښۍ لامل شي.

"مونتولان"

❁❁❁

د نړۍ نومیالي، زړور وګړي وو.

"ستون"

❁❁❁

مېرانه د بري لومړی آړ دی.

"کامپ پل"

❁❁❁

هغه چې دخپلې کورنۍ د ساتنې په لار کې مړ شي؛ شهید دی.

"حضرت محمدﷺ"

❁❁❁

د یوه درناوی او د بل سپکاوی د مېرانې نښه نه ده.

"اسپانوي متل"

❁❁❁

زړور یوه ورځ مري، بې زړه هره ورځ.

"پښتو متل"

❁❁❁

زړورتیا ګوانښ ته تر مخامخ ورتګ بل څه نه دي.

"پي یروبر"

❁❁❁

لږ ځانځاني او یوځه ځناورتوب له ډېرې خپلسرۍ او ناپوهۍ سره ګډ کړئ، هغه څه چې ترې جوړېږي نوم یې "زړورتیا" ده.

"سن اکسوپري"

کله چې ما خوروي. هغه کوم خپله اروا دومره لوړه کړم چې کړاو يې راونه رسېږي

"ژيراردن"

د يوه غښتلي او پياوړي زړه له پاره هېڅ کار ناشونی نه دی.

"ديروزک"

پياوړي مېړونه په مبارزه کې روزل کېږي، نه د هوسايني تر سيوري لاندې.

"پ. ژي. اسا"

د باز له خالې باز الوزي.

"پښتو متل"

هغه سرتېري چې د هېوادنی دندې په لار کې په خپلو وينو رنګېدلي، په دې نړۍ کې نوم و ويار ګټي او په هاغه کې جنتي کور.

"حضرت علي ک"

له ماتې نه ډار، ماتې راولي.

"ناپيليون"

د ګيدړو اوردو چې مشر يې زمری وي، د زمريو تر اوردو چې مشر يې ګيدړ وي، غوره دی.

"څلورم شاپور"

بری د کلکو دی.

"ناپيليون"

سرتېري ته هر هغه ځای چې تر خپل بيرغ لاندې په کې ولاړ وي؛ پردی نه ښکاري، ځکه په هر ځای کې چې خپل بيرغ رپېږي هماغه ټاټوبی دی.

"ناپيليون"

که انسان یود ورځ هرو. مرو مري. نو په خدای چې د تورې مرګ دېر ویارلی دی.

حضرت حسین رضه

د سرتېرې خت پولادینه زغره ده چې د سپرانې او بلهارې په لاس تکړه سپرنیو ته وراغوستل شوی. دا ویارلی خت په ژوندانه کې د سر لوړې او تر مرینې وروسته جنتي کالي دي

"حضرت علي ک"

هخامنشي شاهنشاه "خشایارشا" چې یونان ته لښکر ولېږه. چا د سپارت پاچا "لیونیداس" ته چې د یونانیانو مرستې ته راغلی و؛ وویل: د ایراني جګړه مارو شمېر دومره ګڼ دی چې غشي یې والوزول لمر به پټ کړي. لیونیداس ځواب ورکړ: دا خو لا نه ده، په سیوري کې به وجنګېږو!

یوه غوندې مشر د برید بولنه ورکړه، یوه ټولي مشر وویل: "که وړاندې لاړ شو، په مخ کې مرګ دی" غوندې مشر وویل: "رښتیا ده چې په مخ کې مرګ دی، خو که ښېرته وګرځو شاته ننګ دی."

نومیالی سکندر چې جګړې ته راووت، سلاکار یې ورته وویل چې د ایران پر شاهنشاه د شپې برید وکړي، ده ځواب ورکړ: غواړو چې بری راغلا کړو؟

دېر د دې له پاره برېتونه پرېږدي چې څوک یې د دار په وخت کې د شوندو رپا ونه وینې.

"پوهاند داکټر زیار"

یوه غوندې مشر ته یې وویل: "دښمن دېر دی، وبه یې څارو چې ویې شمېرو" هغه ځواب ورکړ: "چې ماتې مو ورکړه بیا به یې وشمېرو".

يـود سـرلښکر وليـدل چـې لښکـر يـې لـه جـګړې نـــه مـــخ ګرځوي، لامـل يـې وپوښتـه، ورتـه وويـل شـول: "مرمـي او بـاروت نـه لـرو!" هغـــه وويل: "توري او نوکان هـــم نـه لـرئ؟"

د پرانسـې پـاچـا ځلـورم هـانري پـه يـوه جـګړه کـې تـر ځلـورو زرو ډېر جنګيـالي نـه لـرل او دښمـن يـې دېرش زره تنـه وو، چـا ورتـه وويـل: "لـه دغـه واړه لښکـر سـره بـه ځرنګـه پردغـه ځواکمـن دښمـــن بريـــالی شـې؟" هغـه ځواب ورکـړ: "تـه مـې ټول لښکـر نـه وينـې، زمـا خـــدای او رښتينولي ورسـره نـه شـمېرې!"

که اتل کېدای نه شي لږ تـر لـږه مـېړه اوسـه.

"کوښته"

په مروچل کې خوب نارينه او په بستره کې دمه ښځينه خوند لري.

زړور هغه دی چې ډار وپـېژنـي او پـرې لاسـبري شـي.

"نيچه"

د لښکر د بري تـر ټولـو غـوره وسـله ډاډ دی.

"کيخسرو"

په جګړه کـې جنګيـالي تـه تـاوده خـواړه او تـاوده کـالي ورکـړه پـه تاوده زړه بـه وجنـګېږي.

هغه ملت چې لـه شـهادته وېرېږي، ښکـېل پـاتې کـېږي.

د سـپېځلي جـګړې پـه ډګر کـې تويـه شـوې وينـه، تـر هغـې وينـــې چـې لا پـه رګونـو کـې چلـېږي د يـــوه ملـــت د ژوندانـــه لـــه پـــاره ډېر ارزښت لـري.

خپلواکي

خپلواکي ورکول کښوي نه، ويې غواړئ.

"سید جمال الدین افغان"

❁❁❁

ازادي تر پادشاهیه لاتپری کا چې د بل ترحم لاندې شي زندان شي.

"خوشال ختک"

❁❁❁

ژان ژاک روسو! زه ستا د وینا یو تکی هم نه منم، خو د ژوندانه ترپایه به هڅه کوم چې ته د ویلو واک ولرې.

"وېلتر"

❁❁❁

هغه چې د ځانساتنې له پاره خپلواکي پرېږدي، د خپلواکښدو ور نه دی.

"فرانکلن"

❁❁❁

د خپلواکی تر شرابو خواږه او خوندور شراب نه شته، خو د دې له پاره چې انسان یې په ځښلو مست نه شي او کوکي ونه وهي، ښایي منځلاری اوسي.

"لافر"

ټول دې هڅه وکړي چې په خپل ژوندانه کې د خپلواکۍ د مانۍ بنسټ ته کلکه تیږه کېږدي.

"ابرت سیسیل"

❁❁❁

کله، کله ښایي د خپلواکۍ وړه د بېکپلاکګرو په وینه خړوب شي.

❁❁❁

هرڅومره چې د یوه ملت تمدن اوچت وي، هماغومره د ګروهو (عقیدو) مخنیوی په کې لږ وي.

"ډاکټر ارانې"

❁❁❁

هغه انسان چې خپل فکر و ګروهه نه شي څرګندولی، په ژوندیو کې نه شمېرل کېږي.

❁❁❁

هغه چې د نورو په کړولو کې خپله خوښي لټوي، هېڅکله به خوښي وړه وینې.

"بودا"

❁❁❁

ربښتینې آزادي دا ده چې هرچا ته د هر ډول پرمختیا او بشپړتیا لارپرانیستې وي.

"ډاکټر شفق"

❁❁❁

د تاریخ یوازېنی تلپاتې ارزښت خپلواکي ده.

"البرکامو"

❁❁❁

سکندر، یوه "دیوژن" ولید چې د انسان هډوکیو ته ځیر و، ترې وپې پوښتل چې څه لټوې؟ دیوژن وویل: ستا د پلار او د هغه د مریانو د هډوکیو تر منځ توپیر لټوم چې هېڅ یې موندلی نه شم.

"پلوتارک"

❁❁❁

که یوه ملت تر خپلواکۍ بل څه غوره وګڼل، هرڅه به له لاسه ورکړي.

"ساموست موام"

❁❁❁

ماته یا خپلواکي راکړئ یا مرګ.

"پل هانري"

زوروا کي بـې حايـه هـڅه کـوي چـې د بنديـخ لـه لارې د بدمرغيـو مخـه ونيسـي. لـه دې نـاخبره چـې همـدا بنديخونـه بلـه وسـله ده چـې زوروا کي نـوره هـم کرکجنـوي.

"مونتسکيو"

خپلواکـي هيڅکلـه زمـور انتظـار نـه کـوي، مـور تـه بنايـي چـې لـه زړه نـه يـې پـه لـټه کـې شـو، د تـاريخ د کـوم ګوټ پـه کـرښه کـې مـو لوستلي چـې خپلواکـي او ديموکراسـي وړيـا لاس تـه راغلـې وي؟

"امرسون"

خپلواکـي دې تـه نـه وايـي چـې هـرڅوک هـرڅه وغـواړي، هماغسـې وکـړي، ربنتينـې خپلواکـي هغـه ځواک دی چـې هـرڅوک د خپلو دندو سرته رسـولو تـه اړ باسـي.

"جورج ماکدونالد"

خپلواکـي او ديموکراسـي فطـري ده، يـو ملـت د ډانـګ پـه زور خپلواک و ديموکرات کـېدی نـه شـي.

"مونتسکيو"

د ځوروونکيـو او سـړي وژونکيـو قوانـين او چلـن زمـور د بـاطني خپلواکـی غوښتنـې پـر وړانـدې چـې زمـور انسـانيت تـرې جـور دی؛ هيڅ نه شـي کـړی.

"ژول سيمون"

د لنـډې مـودې لـه پـاره دې خپلواکـي لـه لاسـه ووځـي چـې د تـل له پاره وسـاتل شـي.

"مونتسکيو"

په هغه هـيواد کـې چـې د دنـدې پـر ځای کولـو حـس شـاته ولـوېد او ډېر غوښتنه او هوس پالنـه رامخـې تـه شـوه، هلتـه خپلواکـي نـه شـي تينـګېدلی.

"لاکو"

که غواړئ چې خپلواک اوسئ، "ربنتيا" ونمانځئ

"شیخ محمد خیابانی"

❁❁❁

د خپلواکي هیله د بنکېلاک و تېري همزولې ده. خپلواکي غوښتونکي غورځنګونه تل د زور واکي د نادودو او د تېرېرو د کړاوونو له امله منځته راغلي دي.

"ویلیام دوګلاس"

❁❁❁

دیموکراسي هله ربنتینې کېدای شي چې د یوه ملت غړي د خپلو متو له زور یا کار نه ګته واخیستلای شي او هم د ګروهې څرګندولو له لارې خپل ارواپي ځواک پرکار واچولای شي.

❁❁❁

خپلواکي د یوه سړي له پاره نه ځانګړې کېږي، د هرچا خپلواکي د نورو له خپلواکي سره تړلې ده.

"پول لانژون"

❁❁❁

که دین نه لرئ، لږ تر لږه خپلواک اوسئ.

"حضرت حسین رضی"

❁❁❁

بل هېڅه پوه ملت دومره تېټ و رتلی نه ساتي، لکه دیني زورواکي چې یې ساتي.

"ناپلیون"

❁❁❁

خپلواک پلوې تولنې، قانون پلویو واکمنو ته سپېڅلي (د امن ځایونه) دي نه خندي.

"تالیران"

❁❁❁

دېر چې سره راټول شي، مریتوب دې نه منې.

"تیت نیو"

د خپلواکۍ سپېڅلی نوم چې د توپیر و زوروا کۍ پر وړاندې د بري پربښته ده: تر خپلسرۍ نارامۍ او بدمرغۍ زړکونه ګامه واټن لري.

"ویلیام دوګلاس"

❁❁❁

هلته چې بل خپلواکۍ پرې. خانګړې خپلواکي پای ته رسېږي.

"د بشر د حقوقو اعلامیه"

❁❁❁

هو! ځینو ته خپلواکي بل ډول ښکاري او منلی یې نه شي، کله کله پاکه هوا هم هغه چا ته چې په ناپاکو ځایو کې اوسېږي، تاوان پېښوي.

"مونتسکیو"

❁❁❁

راته ښکاري چې زور به څه ونه کړی شي.

د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیر "بوین"

❁❁❁

ژوندی دې وي هغه ملت چې د خپلواکۍ د ژوندۍ ساتلو له پاره ژوند ورته ګران دی.

"شیخ محمد خیابانې"

❁❁❁

ټول واکمن دې دا پند نه هېروي چې خپل مخالفین دې په زور له ډګره نه شړي.

❁❁❁

یه خپلواکۍ! په ډېره خواشینۍ وایم: "بشر ستا د لرلو وړ نه دی!"

"تورګر"

❁❁❁

خپلواکي یوه ملت ته نه راکښته کېږي، ملت دې هغه لاس ته راوړي، ځکه خپلواکي هغه نعمت دی چې یوازې په هاندوهڅو لاس ته راځي.

"ګولنن"

❁❁❁

د ګروهې خپلواکي د هر سیاست په سر کې ولاړه ده.

"شیخ محمد خیابانې"

حق (ربنتيا) بنى خوا. زور كيني خوا. رنا پر تنده او وينه زمور تر پښو لاندې ده مړه دې وي هغوی چې خواري ژوندي پاتې شي او خپلواکي مړه ووينې

"ماکسيم ګورکي"

❁❁❁

هره پرېکړه چې خپواکي له ګوابښ سره مخامخوي. د منلو نه ده، که څه هم چې جګو او زورورو واکمنو کړې وي.

"سعدزغلول پاشا"

❁❁❁

خپلواکي تر ټولو ستره ډالۍ ده چې انسان ته ورکړل شوې، د هغې پر وړاندې ټولې ورکړې بې مانا او بې ارزښته دي.

"اپيکتتوس"

❁❁❁

خپلواکي دې ته وايي چې څوک له قانون نه سرغړونې ته اړ نه شي.

"مونتسکيو"

❁❁❁

په زړو اخيستل شوی مړی هم د خپلواکو لويانو او واکمنو غوندې ژوندلاس ته راوړلای شي.

"اپيکتتوس"

❁❁❁

د نړۍ پر مخ د انسان ټولې هڅې او درد زغمنې که له عقل سره سمون لري پايې نه لري؛ د خپلواکۍ له پاره دي.

"توماس کارلايل"

❁❁❁

په خپلواکۍ کې ترلې اوسه.

"شيخ محمد خيابانې"

❁❁❁

د خپلواکۍ مې يوازې څلى ولید.

"ژانژاکروسو"

❁❁❁

څومره چې پنجره تنګېږي، آزادي خوږېږي.

"آلماني متل"

یه خپلواکی! څه جنایتونه نه دي چې ستا په نامه یې نه کوي.

"میرمن رولاند"

❁❁❁

چې د نورو مریتوب منې، رانده به وي.

"علامه اقبال"

❁❁❁

خپلواکي د یوه نه ده، د ټولو ده.

"هربرت سپنسر"

❁❁❁

خپلواکي نوی مذهب دی، زمور د مهال مذهب!

"هاینه"

❁❁❁

چې د نورو خپلواکي نه مني، په خپله هم د خپلواکۍ وړ نه دی.

"لینکن"

❁❁❁

انسان هماغه شیبه چې د خپلواکیدو پربکړه کوي، خپلواک دی.

"وېلتر"

❁❁❁

هرڅومره چې تمدن مخ ته ځي، ځانګړی ځواک کمیږي.

"ارتل هلیشر"

❁❁❁

که مریتوب بد نه وي، نو "بد" هیڅ ته شته.

"لینکن"

❁❁❁

د خپلواکۍ نیالګی چې ولې ونیسي په بیړه وده کوي.

"جورج واشنګتن"

❁❁❁

انسان خپلواک زېږېدلی خو هرځای په بند و زنځیر کې دی.

"ژان ژاک روسو"

❁❁❁

هغه چې پر ځپل ځان واکمن نه وي، د نورو تر واکمنۍ لاندې راځي.

"علامه اقبال"

جګړه او سوله

جګړه چل دی.

حضرت محمدﷺ"

❁❁❁

په جګړه کې داسې شیبې راځي چې تر ټولو زړور سړتیری هم تبښتې ته په کې چمتو کیږي.

"ناپلیون"

❁❁❁

جنګیالی د خپل حق له پاره جنګیږي او جګړمار د جنایت له پاره.

"پوهاند ډاکټر زیار"

❁❁❁

جګړه د ژوندانه تلپاتې قانون او سوله د دوو جګړو تر منځ "ارام شئ" ده.

"نیچه"

❁❁❁

که د وسلې پرځای له ښوونکي سره د نړۍ جګړې ته لاړوای، ټول دښمنان به له منځه تللي وو.

"بیسمارک"

❁❁❁

ټولې جګړې درې سرچینې لري: پیسه، ښځه، ځمکه.

"هندي متل"

بشري وګړي دې ته نه چمتو کېږي چې په ګډه له لوړې مړه شي، په دې توګه به د ډوډۍ د وروستي کپ پر سر چې ښايي ووېشل شي؛ جګړه ونښلي.

"چرچېل"

⁂

د سولې په بې کې د سوداګرۍ ونه وده کوي.

⁂

جګړه، قانون وژني.

"سيسرون"

⁂

دويمې نړيوالې جګړې وښوده چې د هېوادونو تر منځ پولې او بريدونه کومه مانا نه لري او د نړۍ د ملتونو برخليک يوټرېلۀ تړلی دی.

⁂

سړی په جګړه کې ژر زړېږي.

"ناپيليون"

⁂

د اوښکو په وچولو کې ويار دی، نه په بهولو کې.

"بايرون"

⁂

له دښمن سره پرله پسې جګړه مه کوئ، ځکه چې بيا به ستاسې په ټولو جنګي رازونو پوه شي.

"ناپيليون"

⁂

په سوله ويلو نړۍ ته امن نه راځي.

"ناپيليون"

⁂

کړه خوله په سوک سمېږي.

"پښتو متل"

⁂

کلک مورچلونه د کوماندان په وړتيا او زړورتيا ساتل کېږي، نه د مورچل په کلکوالي.

"فريدريک"

چې مرګ دې ومانـه بـرې بـه وکـتې.

"ویکتور هوګو"

د نړیوالـې سـولې د پـایښت لـه پـاره د ملتونـو نـېژدېوالي تـه اړتیـا ده، نه د دولتونـو

"د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیر "ایدن"

هغومـره پیسـې چـې پـر جـګړو لـګېږي کـه ځمکـه پـرې وپـېرودل شـي، ترهغـو ځمکـو چـې پـه جـګړو او وینـو تویولـو یـې لاس تـه راوړي؛ ارزانه پـربوځي.

"بنیامین فرانکلین"

ترنیولـو وروسـته نیوونکـی د وژلـو حـق نـه لـري، ځکـه نیـول شـوي خو نوره ځانساتنه نـه شـي کـړای.

"مونتسکیو"

یـوازې پـه سـوله کـې د یـوه هـېواد وګړي د جـګړې درون بـار احساسولی شـي.

"ګوستاولوبون"

سوله هم د جګړې غونـدې ستراتیژي تـه اړتیـا لـري.

"ستدهانکاک"

کـه یـوه ورځ دې لـه نیـژدې نـه د جـګړې ډګر او پـه هغـه کـې د وینـو تـوېدو نـدارہ ولیـده، خدای‌تـه بـه زاری کـوې چـې بیـا داسـې ورځ درونه نښـي.

"انګرېز سرلښکر ولینګټون"

دویمه نړیواله جـګړه روانـه وه، همـدا مهال پـه یـوه غونـډه کـې لـه ادولف هیټلر نه پوښتنـه وشـوه چـې د جـګړې پـه پـای کـې بـه د دومـره

ورانیـو او ویجـاړیو تـاوان د چـا پـر غـاړه وي؟ هغـه خواب ورکـړ: بنکـاره ده، د هغه چا پر غـاړه چـې جـګړه وبـایلي.

همـاغسـې چـې "بنه" "بـد" پـتوي، بـرې هـم نـه پـرېږدي چـې د جګړې کرغېړنې پـېښې بنکـاره شـي.

"انګرېز سمندر مشر "ناپیر"

د جګړې په زیانونو په سوله کې پوهـېږو او لـه نـاچـاری یـې زغمـو.

"فرانکلن"

که د پېښو بېلابېل ارخونه مو پېژندلای شوای، کېدای شي چې د ګټې او تاوان تر تللو وروسته پوهېدلی وای چـې جـګړه ګټوره نـه ده، ځکـه تـر دومره تاوانونو وروسته نیونې او پرانیستنې ارزښت نه لري.

"بایرون"

په تـاریخ کـې د ســولې تــر ټولــو بنکلــې ژمنــه د "کارتــاژ" لــه اوسپدونکیو سره د "ژېلن" تــرون و. ژېلـن لـه هغـوی نـه وغوښتـل چـې د خپلـو بچیـانو د بلـهاری (قربـاني) دود خوشــې کــړي. ځومــره بنکلــی کار! وروسته له هغـې چـې درې سـوه زره کارتـاژیـان مـات شـول، داسـې غوښتنـه تـرې کـېده چـې نـه یـوازې دوی تـه، لا چـې ټول بشـریت تــه ګټوره وه.

"مونتسکیو"

جګړه په پیــل کـې هېښنـده نـوم دی، خـو هغـوی چـې خپـل ځای او حق پېژني له کــراوه یـې نـه وېرېږي.

"فریدریک"

دا سوله چې ټول یـې خـبرې کـوي تلپـاتې نـه ده، د دمـې لـه پـاره ده چـې پـه تـرخ کـې یـې جګړمـاران د راتلونکیـو جــګړو لارې چـارې ولـټوي.

د جګړې ترماتې وروسته د وګړيو مرګ ژوبلې ارزښت نه لري،
ستره بدمرغي د پاتې شويو وګړيو مات زړونه او ناهيلي ده.
"فريدريک"

❁❁❁

په جګړه کې يو ګام د سلو کلو لار ده.
"پښتو متل"

❁❁❁

هغه څه چې په وسله لاس ته راغلي، کېدای شي چې په ټرون له لاسه ووځي.
"ونتسکيو"

❁❁❁

هغه چې په جګړه کې پر بخت ډډه نه لګوي تر ټولو پياوړی دی.
"فريدريک"

❁❁❁

جګړه جواري ده، کېدای شي چې تکړه لوبغاړی يې هم بايلي.
"مصطفی کمال اتاتورک"

❁❁❁

جګړه د نورو لوښيو په ډاډ د سياست غځول دي.
"کلوزوايتس"

❁❁❁

په هره جګړه کې بريالی هغه څوک دی چې يوه شيبه نور هم ټينګ شي.
"ولينکتن"

❁❁❁

د بې ګوابنه (بې خطره) جګړې بری بې ويارې دی.
"کودني"

❁❁❁

د سولې پر سبا ورځ د ملتونو رښتينې جګړه پيلېږي او د اقتصادي، صنعتي او ټولنيزو جګړو په بڼه ځان څرګندوي چې د ملتونو په برخليک کې تر پوځي جګړو ډېرې اغېزناکې دي.
"ګوستاولوبون"

د جګړې ستر لامل له جګړې نه وېره او د هغې د پیلېدو اټکل دی.



اروپا به د خپلو واکمنو او پوځي مشرانو له لاسه ږنګه شي.

"مونتسکیو"



زما په اټکل، خدای، جګړه د سولې په خوند د پوهېدو له پاره جوړه کړې ده.

"کاورانې"




جګړه که هر څومره پیاوړې وي، بې غولولو نه کېږي.

"بوذرجمهر"



جګړه د پرمختګ مور ده.

"تریشکه"



لویوالی او ویاړ

ژوندی ځان پر ځمکـه ښخ کـړه لکـه تخـم
که لویي غواړې د خاورو په مقام شه
رحمان بابا

هغه څوک چې مشر کـېدلی نـه شـي، کشري دې ومنـي.

"نیچه"

هېڅکله نه غـواړم چـې څوک رانـه ویړار شـي، زمـا هیلـه دا ده چـې د ربښتینولی لـه مخـې د درنـاوي وړ شـم.

"زغلول پاشا"

مـور ټول یوشـان لـه مینـدو زېږېدلي یـو، یـوازې ښه والی او پرهېزکاري مو تر منـځ بریـد ټاکـي.

"وېلتر"

سـتر و ویـاړلي مېړونـه هېڅکلـه نـه مـري، ځکـه دوی د راتلونکیـو کولونو (نسـلونو) پـه زړونـو کـې ښخ دي.

"نوسیدید"

کرکه ښښل کېږي خـو سـپکاوی نـه.

"نروال"

❁❁❁

شرافت هغه غښی دی چـې يـو ځل والـوت بيـا نـه راسـتنېږي.

❁❁❁

پـاکلمني او ويـار د نـرۍ تـر شـتمنيو غـوره دي، ځکـه چـې تـوی شوی ويار په زرګونـو پرتمينـو مـانيو او د سـرو او سـپينو پـه همېـانيو ښېرتـه لاس ته نه راځي او ويجار شـوی ديـن پـرې نـه رغـېږي.

"حضرت علي ع"

❁❁❁

درنښدل، په ټول ژوندانه کې د غوره وړتياوو لاس ته راوړل دي.

"مېرمن دلامبر"

❁❁❁

هغه څه چې زمور په دننـه کـې نـه شـته، پـه بـهر کـې يـې ليـدی نـه شو کـه پـه زړه کـې مـو ټويـوالی و، هغـه بـه پـه پنـدي او جـاروکړ کـې هم سترګو تـه درشـي.

"امرسون"

❁❁❁

بېرنـی د ځان دښمـن دی.

"ايتاليايي متل"

❁❁❁

که شتمني مو له لاسه ورکـړه پـروا نـه ښـته، خـو چـې زغـم لـه لاسـه ورنه کـړئ.

❁❁❁

هغه ته چـې ورو او پرلـه پسـې لار وهـي، هـېڅ لار اوړده نـه ده.

"لابرويز"

❁❁❁

چې يوه انسـان تـه وار ورنـه کـړل شـي، يـوازې وړتيـا بـه د هغـه پـه پرمختګ کې اغېزونـه لـري

"ناپليون"

هغه چې په بري کې خپل واکي را ټينګ کړي، يو نوی بری
يې موندلی دی.

❁❁❁

نه پوهېږم چې نيکه مې څوک و، خو دا ټکي راته ارزښتناک
دي چې کړوسی به يې څنګه سړی شي.

"لينکن"

چې له پښو ولوېدې، هرڅوک به کرکه درنه کوي.

"ختيز متل"

هغه چې هرڅه وينې او اوري خو اغېز پرې نه کوي، زه به له
ده سره هيڅ کار ونه لرم.

"پرسيس"

تاريخ

د وګړيو له پرېکړې پرته، د سبا ورځې تاريخ اټکلولای نه شو، که يو ملت د فاشيزم نړۍ ليد ته غاړه کېږدي، ګانده (راتلونکې) به يې له فاشيزم پرته بل څه نه وي.

"ژان پل سارتر"

❁❁❁

په تاريخ کې داسې پاچاهان لږ تېر شوي چې د پرځولو وړ نه وو.

"ناپليون"

❁❁❁

تاريخ د پاچاهانو سلاکار دی.

"دموستنس"

❁❁❁

د تاريخ يو کتاب د پېښو د ربنتينې څېړنې پرځای د هغه د ليکوال نړۍ ليد رابنيي.

"ګوستاولوبون"

❁❁❁

تاريخ نه غولېږي او د مهال ګرندی بهير نه دربږي.

"شيخ محمد خيابانې"

تکړه نومیاي او ستر اندوال تاریخ جوړوي. څکه تاریخ د بشریت ژوند څېړي چې د نومیالیو مېړونو، لارښوونکیو، پاچاهانو. روحانیونو، فلاسفه وو او سیاستوالو تر واک و اغیز لاندې یې کار کړی دی.

"اسمایلز"

❁❁❁

د طبقاتي مبارزو پایله تاریخ دی.

❁❁❁

د یوه ملت تاریخ ګلبڼ ته ورته دی او هنرمن و حساس وګړي یې ښکلي ګلان دي.

❁❁❁

تېر مهال د ګاندي ډېوه ده.

❁❁❁

د نړۍ تېرو ستړو پېښو ته ځیر شئ، بیا به زما غوندې وپوهېږئ چې ټول لوی جنایتونه په کوچنیو لاسونو سرته رسېدلي دي.

"اګارادو"

❁❁❁

هغه هېواد چې تاریخ نه لري، مړ دی.

"سن لولی"

❁❁❁

د تاریخ لوستل مو له راتلونکیو تېروتنو نه ژغوري.

❁❁❁

مطبوعات د نوي تاریخ بنسټ دی.

"پوانکاره"

❁❁❁

هغه کولونه (نسلونه) چې په خپله په یوه مهال کې ژوند کوي، د هماغه مهال یا پراو په اړه قضاوت نه شي کړای، ځکه، که ژوندي هرځومره ناپلوي هم شي، نو ناپلوي به یې د مړیو په اړه وي.

"ګوستاولوبون"

❁❁❁

دتېرو شویو دکړنو ارزښت دې دتولنې دګټې او تاوان په تله وتلل شي.

اوسنی پېښې د تېر مهال زېرنده او د راتلونکې زېرندويې دي.

تاریخ رښتینې فلسفه ده.

"ناپلیون"

د تاریخ بهیر په هېڅډول تېر ویستنه او ځانګړیو موخو نه بېلارې کېږي. هغوی چې غواړي د تاریخ د سپېڅلتیا پر وړاندې خندې شي او لمر په ګوتو پټ کړي؛ بې ځایه هڅې کوي.

"سید ضیا الدین طباطبایي"

هرتاریخي پړاو چې د یوې ټولنې د ژوندانه په جوړښت کې منځته راځي، د یوه تاریخپوه په قلم یا د یوه واکمن په فرمان برید ورته نه شي ټاکل کېدی.

"شیخ محمد خیابانی"

له امریکایي تاریخپوه "چارلز برد" نه پوښتنه وشوه چې د بشریت د تاریخ لنډیځ څه دی؟ ویې ویل:

۱- خدای هغه څوک چې غواړي ورک یې کړي؛ د مشرۍ په لېونتوب یې اخته کوي.

۲- د خدای ژرنده وروګرځي خو سم وړه کوي.

۳- مچی هماغه ګل بلاربوي چې شیره یې تړې اخیستې وي.

۴- تیاره چې خپره شي، ستوري ځلېږي.

په تاریخ کې د یوه هېواد لویوالی د جګړې او بري په ډګر کې د هغه د زامنو د زړورتیا له املې نه دی، لوړوالی دا دی چې د ستونزو او سختیو پر وړاندې ټینګ پاتې شي.

"ډاکټر ستریزمان"

څومره چې تېرمهال زانه لرې کېږي، هماغومره ښکلی کېږي.

مورِ لاتراوسه تـاريخي پـراو تـه ورننوتـي نـه يـو. د بشـريت تـاريخ بـه هله پيل شي چې بشر له ټولــو رنځونــو او کړاوونــو نــه خـلاس شـي.

"فتحی الرملی"

❁❁❁

د تېرو ويـاړنو تـاريخ چـې د وګړيـو پـه فکـر کـې د پخوانيـو نوميـاليو او اتلانـو د کـړو، وړو يادونـــه ژونـــدي کـــوي، د ملـــت اروا راپـــاروي او لويوالي او لوړتيا تــه يــې هـڅوي.

"اسمايلز"

❁❁❁

تاريخ د ستړو مېړونو له ژوندانــه نــه سـرچينـه مومـي.

"کارلايل"

❁❁❁

تـاريخ، د بشـر د جنـايتونو او بدبختيـو انـځور دی.

"وېلتر"

❁❁❁

تـاريخ د تـېر بشـريت د ژوندانــه لويــه هېنـداره ده، چـې د ملتونــو د بدمرغيو، مـــاتيو، بريـاوو او بريـاليتوبونو لاملونـه څرګنـدوي.

❁❁❁

تاريخ د ژوندانـــه ســتر ازمېښتــون (لابراتــوار) دی.

❁❁❁

زويه! ســره لـه دې چـې زه د پخوانيـو ملتونـو هممـهالی نـه يم، خـو د هغـوی تـاريخ مـې پـه ځير لوسـتلی او د بشـر لـوړې ژورې او د ملتونــو قوانين مـې پـېژنـدلي دي. مـا د هغـوی تـاريخ داسـې هراړخـيز ولوسـت او پـرې پـوه شـوم، لکـه لـه هغـوی سـره مـې چـې ژونـد کـړی وي او د ژوندانه په پېښو کـې چـې ورسـره همـګام وم.

"حضرت علي ع"

سوکالي

د نورو اوښکې وچول او هغوی ته خوښي وربښل غوره سوکالي ده.

"بودا"

❁❁❁

انسان د خپلو غوښتنو د ترسره کولو له لارې، خوښي نه شي موندلی، هغه مهال دې بریا ته رسېدلی شي چې پر دغو غوښتنو پښه کېږدي.

"اندرې ګید"

❁❁❁

سوکالي هغه چا ته راځي چې د نورو د سوکالۍ هڅه کوي.

"آبه دولیل"

❁❁❁

سوکاله انسان هغه دی چې پېښو ته په موسکا او لږ څه ځیرتیا وګوري.

"میترلینک"

❁❁❁

هوښیار سړی هرې ترخې پېښې ته چمتو وي.

"محمد حجازي"

❁❁❁

له ربښتینې سوکالۍ نه سوکالي زېږي، دالۍ به تل روانه وي.

❁❁❁

انسان به تر هغې سوکاله نه شي چې د نورو د سوکالۍ هڅه ونه کړي.

"دوسن پیر"

❁❁❁

تر فکري آرامۍ سترې سوکالي نه شته.

"بودا"

تر هغې چې ناتار و جنایت شته، هیڅ نه لیدل او نه اوربدل زما له پاره لویه سوکالي ده.

"میکلانژ"

مرګ کوچنی ګنل د سوکالی غوره لار ده.

"مونتن"

سوکالي دا ده چې د هرڅه برید وپیژنو او درناوی یې وکړو.

"رومن رولان"

د خپل ځان او سوکالی تر منځ مو په خپل لاس دیوال جوړ کړی دی.

د سوکالي دري لاري دي: بدي نه کول، بدي نه لیدل او بدي نه اوربدل.

"چیني متل"

ما ولیدل چې د انسان سوکالي د هغه په خپل لاس کې ده.

"لینکن"

د انسان خوښي او سوکالي دوه سرونه لري: یو یې پرده پورې تړلی او بل یې پر ټولنه پورې.

"ډاکټر رضا زاده شفق"

سوکالي هغه ګل دی چې د یوه کمزوري باد په راالوتلو رژبدای شي.

سوکالېدل بس نه دي، هغه څه چې ارزښت لري دا دي چې په شو چې سوکاله یو.

"موریس میترلینک"

همدا چې یو ګټور کار سرته رسوئ سوکاله یاست، ګټور کار و ور و غټ نه لري.

لرد آویبوري

سوکالي هغه ده چې ورکړل شي.

"ف. کوپه"

❁❁❁

خوښي هغه درمل دي چې طبيعت ورپا رابښلي.

"باريس ساخالوف"

❁❁❁

د پوهې او سوکالۍ تر منځ دا تـوپـير دی چـې ځانتـه سـوکاله ويـل سوکالي ده خو ځانته پـوه ويـل نـاپوهـي.

"کولتون"

❁❁❁

پوهه سوکالي راولي.

"سپينوزا"

❁❁❁

د ځمکې پر مخ د سوکالۍ د ډېرولو لار دا ده چې ووېشل شي.

"پول شرر"

❁❁❁

سوکاله ژوند ساده ژوند دی.

"شانفور"

❁❁❁

سوکالي هغه مرغۍ ده چې د مينې ځالې ته راشي او بېرته ژر والوزي.

❁❁❁

سوکالي دا ده چې انسان هغسې نړۍ چې غواړي يې ويې وينې.

"کورنر"

❁❁❁

زه به خپل هــنر يـوازې د خوارانـو او بېوزلـو د سـوکالۍ پـه لار کـې وکـاروم.

"بتهوون"

بدمرغي

انسان ترکاني کلک تر کل نازک دی.

"پښتو متل"

❁❁❁

په بدمرغۍ کې دا ښېګڼه شته چې رښتيني دوستان راپېژني.

"بالزاک"

❁❁❁

بدمرغي اروا روزي.

"ويکتور هوګو"

❁❁❁

انسان په بدمرغۍ او بې وزلۍ کې ځان پېژني.

"آلفرډوموسه"

❁❁❁

بدمرغي ورتيا روزي.

"ويکتور هوګو"

❁❁❁

ستره بدمرغي داده چې د زغملو نه وي.

"باس"

❁❁❁

بدمرغي د سوکالۍ ترځنګ ولاړه ده.

"يوګوسلاوي متل"

بدمرغي له هغې کرکی نه راننوځي چې پرانيستې مو پرېښې ده.

"چکي متل"

❁❁❁

يوازې بدمرغي ده چې بشپړه وي.

"بالزاک"

❁❁❁

خوندونه سرسري او دردونه ژور وي.

"چيني متل"

❁❁❁

يوه بدمرغي بله زېږوي.

"دنمارکي متل"

❁❁❁

ترهغه چې له خپل مهال نه وروسته پاتې وي، بل بدمرغه نه شته.

"سعيد نفيسي"

❁❁❁

په هره بدمرغی کې يوه ښېګڼه هم شته.

"پرانسي متل"

❁❁❁

که منل کې‌دای، ما به دعا کړې وای چې په دېرو سختيو او ستونزو اخته شم چې په پای کې مې دېره هوساينه او سوکالي په برخه شي.

"يونيان"

❁❁❁

د بدمرغی پياوړی لاس د سوکالی اوهوساينې تر کوتو انسان ته هره تېروتنه او نيمګړتيا ښه ځرکندوي، ځکه بخت و سوکالي هېڅکله د شيانو رښتينی ځرنګوالی د انسان سترګو ته نه ښکاره کوي او ددې نړۍ په پټو چارو يې نه خبروي.

"دانيال"

❁❁❁

د بشر ټولې بدمرغی د طبقاتي توپيرونو زېږنده دی.

"پي يرلورو"

❁❁❁

که د ګاونډي خوښي مې نه ليدلای، خپل غمونه مې زغملای شول.

"پرودونک"

❁❁❁

د نورو په هوساینه رخه کول، ځانته په خپله سزا تاکل دي.

"پترن"

❁❁❁

چې بدمرغي نه پيژني، هغه به د سوکالۍ لاس ته راوړل او ساتل هم زده نه کړای شي.

"داويدوايټ"

❁❁❁

که د بدمرغۍ څپه هرځومره لويه او جګه وي، خوښي هرومرو د ځان له پاره يوه وچه ځنده موندلی شي، او که ويې نه مونده لامبو به زده کړي.

"سپوژرون"

❁❁❁

د زړښت د ورځو سوکالي او بدمرغي د تيرو کړنو نچوړ دي.

"بنت بود"

❁❁❁

د بدمرغې شيبې ژړا د سپرې ببديا باران دی.

"فرانسواکوپه"

❁❁❁

که رانه ستوري په تيـاره کـې ځلـېږي، د اتلانـو ربښتينـې کـړه وړه او اخلاق هم د هغوی په ناڅاپي غمونو او بدمرغيو کې ځان خرګندوي.

"اسمايلز"

❁❁❁

اسمان لرې، ځمکه سخته.

"پښتو متل"

❁❁❁

سختي او غمونه د انسان عقل و پوهه بډايوي.

"ناپليون"

❁❁❁

مېرني د بدمرغۍ او سوکالۍ په دواړو شيبو کې ځان نه هېروي.

"ارستو"

خپل دردونه د خپلو کالیو غوندې په بې پروایی وزغمئ.

"شیکسپیر"

❁❁❁

ماته د انساني دردونو لویوالی ګران دی.

"مارتین"

❁❁❁

اوبواخیستی څک ته لاس اچوي.

"پښتو متل"

❁❁❁

بدمرغي دا نه ده چې انسان سوکاله او بریالی نه وي، غم دا نه دی چې خوک په بېوزلی او درد اخته وي، همدا دردوونکې او غمجنې پېښې دي چې انسان کلکوي او لرلید ورپېژني.

"دانیال"

❁❁❁

دردوکړاو د بدمرغیو سرچینه ده، خو ما په خپله سوکالی کې رنا ترې اخیستې، هوا! دردوونکې پېښې هغه کوره ده چې زما د وجود سره زر ابشوي او په سوچه زړو یې بدلوي.

"راسکین"

❁❁❁

سختی او ستونزې هغه استاد دی چې د نړۍ ستر نومیالي یې شاګردی ته ملاتړي.

"اسمایلز"

❁❁❁

تر هغه به بل بدمرغه نه وي چې هېڅکله په بلا او بدمرغی نه دی اخته شوی.

"جرمی تیلور"

❁❁❁

د نړۍ بدیو ته یوازې د عقل و پوهې له کړکۍ مه ګورئ، د احساساتو، بښنې او تېرېدنې په سترګو هم ورته ګورئ.

"موریس مترلینک"

❁❁❁

هغه څه دي چې ژورو بشري افکارو ته وده او پراختيا ورکوي؟ پوهه نه ده! ورتيا نه ده! زوک عواطف و احساسات هم نه دي! يوازې درد و رنځ دی چې د انسان تل ته ورننوځي او کېدای شي همدا لامل وي چې درد و رنځ په نړۍ کې دېر هم دی.

"هبز"

❁❁❁

هغه سترګې چې له اوښکو نه ډکې دي په پيل کې ښه نه ويني، خو داسې سترګې د مهال له تېرېدو سره تر هغو چې هېڅکله يې غم و درد نه دی ليدلی ښې رڼې او دلريو ځايونو دليدو ورتيا مومي.

"تماس براون"

❁❁❁

بدبختي او ناچاري يو لوی ککړون (ډره بين) دی چې انساني تېروتنې او نيمګړتياوې سل وزر ځله لويې ښيي.

"دشتي"

❁❁❁

په دې نړۍ کې د پورته تګ له پاره هر مخلوق يوې زينې ته اړ دی، دا زينه همدا درد و غم دی.

"اناتول فرانس"

❁❁❁

ځلور شيان ستړيا راولي: لټ تازي، سورآس، ناپوه مشر، شنډه ښځه.

"آيرلنډي متل"

❁❁❁

په ښديا کې له داړې سره مخامخېدل ښه دي، نه له ناپوه سره په ښکلې مانۍ کې.

"سنسکريت متل"

❁❁❁

انسان تر هغې ځان نه پېژني چې بدمرغه شوی نه وي.

"آلفرد دوموسه"

❁❁❁

دومره ماتې مې وخوړله چې د ماتولو لار مې ويړنده.

دردونه او ستونزې د انسان پوهه دېروي او د پېښو توپانونه اروا ته پياورتيا وربښي.

❁❁❁

بدمرغي عقل و پوهه روزي.

"ويکتورهوګو"

❁❁❁

اوبه چې تر سر تېرې شي څه يوه نېزه څه سل.

"پښتو متل"



بنکلا

بنکلا بناغلي مېلمنه ده، چې هرځای ته لاړه شي په درناوي يې هرکلی کېږي.

"کوبته"

❁❁❁

که دبدرنګی خبره نه وي، پیته پزه هم خپله دنده پرځای کولای شي.

"پوهاند ډاکټر زیار"

❁❁❁

بنکلا له بنکاره کېدو سره اړه لري.

❁❁❁

بنکلا هغه ده چې انسان پرې بناغلی شي.

"مېرمن ستاهل"

❁❁❁

خوږ ختګی د مورګ خوراک شي.

"دری متل"

❁❁❁

بنکلا، بنکلا راکاږي.

"هانت"

❁❁❁

بنکلا مه پتوئ.

میلتون

چې کلان يې وښل. سور ګل اغزي ته ورسېد.

"تورکي متل"

ژوند چې ښکلی نه وي، ښه ورته نه شو ويلای.

❁❁❁

نه هر ښه ښکلی دی، نه هر ښکلی ښه.

❁❁❁

ښکلا تاريخ بدلوی، که د کليو پاتراپزه کړه وي، تاريخ به بل خوا مخه کړې وه.

❁❁❁

بې ښېګڼې ښکلا بې بويه ګل دی.

"ويکتور هوګو"

❁❁❁

ښکلا د نورو له پاره شتمني ده.

"بيسيون"

❁❁❁

هماغسې چې سخته لوړه هر خواړه خوندوروي، په ځوانانو کې د غربزې سرغړونه هم هره ښځه هغوی ته ښکلې ښکاروي.

"ذشتي"

❁❁❁

ښکلا انسان لـه لانجمنې نړۍ نـه راباسـي او د خپلواکـی او سوکالۍ جنت ته يـې بيايي. ښکلـي صنايع او هنرونـه د نړۍ لـه تنـګي نـه د اروا د تېښتـې لار ده.

"محمد حجازي"

❁❁❁

ښکـلا يـوه بـې پايـه بېديـا ده چـې لـه ګرځنـدوی نـه لار پـه کـې ورکېږي، خو چې هرې خـوا تـه مـخ وارې جنـت بـه ووينـي.

"هالينډي شاعر"

❁❁❁

د ښکلا يادګار چې په اروا کې ځای ونيو، بيا هېڅکله له منځه نه ځي، بوازې يوه ورچاپېريال ته اړتيا ده چې ياد يې بيا راژوندي کړي.

نارٛينه د مېرمنو مخ ګوري نه کالي.

"ديل کارنګي"

❁❁❁

شاعران، انځورګر او د موسيقۍ لويان د بنګلا غنې دي، خپله په اورسېزي او مورِ چې له دغه تناره نه لرې يو په بنګلي تودوخه يې تودېږو.

❁❁❁

د پيمخي کوربه شراب خوارِه وي.

"روسي متل"

❁❁❁

چې لمر ځليږي، سپورِمۍ ته ارتيا نه شته.

"روسي متل"

❁❁❁

بدرنګي د بنځې ساتندويه ده.

"عربي متل"

❁❁❁

ناپليون د نومیالي ستور پوهاند "لالند" بنځې ته داسې ليکلي وو: "زما په اند لوی خوند په دې کې دی چې سړی له يوې بنګلې بنځې سره تر ستوريو ډک آسمان لاندې شپه تېره کړي.

❁❁❁

يو بنګلی مخ مې دومره پاروي چې په نړۍ کې تر هغه بل اوچت خوند نه پېژنم.

"ميکلانژ"

❁❁❁

بنګلا د مينې مور ده.

"انګرېزي متل"

❁❁❁

بنګلا د ليدونکي په سترګو کې ده.

"انګرېزي متل"

❁❁❁

بنګلا د زوايدو تورِل دي.

"ميکلانژ"

بنکلا تر ټولو ښه لارښوونه ده چې د ښځې پر تنده لیکل شوې.

"ارسطو"

❁❁❁


خره ته یې ګل ونیو، هغه وخوړ.

"پښتو متل"

❁❁❁

بنکلی د خدای هم خوښ دی.

"پښتو متل"



منه

مينه سترګې رڼدوي او غوږونه کنوي.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

خوږبدل د مينې لومړني خواړه دي.

"موريس مترلينک"

❁❁❁

ژوند خوب و مينه خوب ليدل دي.

"موسه"

❁❁❁

د دو مينـــو يـــوځای کـــېدل او بېرتـــه بېلـــېدل د ژوندانـــه دوې ارزښتمنې شـــېبې دي.

"وېلتر"

❁❁❁

مينه تر هرې ربښتيا ربښتينې ده.

"بارلبي"

❁❁❁

نړۍ له خپل مين نه تښتي.

"ايتاليايي متل"

❁❁❁

په يوه مينه کې په زرګونو بدمرغي شته.

"عربي متل"

یوازښی ناروغي چې ناروغ خوند ګړي اخلي مینه ده.

"اپلاتون"

❁❁❁

مینه یو کړاو دی، خو هغه چې نه یې لري مړ دی.

"شکسپیر"

❁❁❁

مینه د جګړې غوندې ده، پیل یې اسان خو پای یې ګران وي.

"هـ . ل . مېکن"

❁❁❁

مینـه پیـاوړی اوردو دی، پـه یـوه شـیبه کـې زړه او مـاغزه تـر بریـد لاندې نیسـي.

"وېلتر"

❁❁❁

زوړ چې مین شي، ببرته زلمی شي.

"برناردشاو"

❁❁❁

چې زما پر زړه لیکلي، څه پاچا څه لنګ وهلی.

"پښتو متل"

❁❁❁

د دوو مینو په بېلتانه تیرې هم ژاړي.

❁❁❁

د بشر تر ټولو ستره قرباني د مین له لاسه ورکول دي.

"شوپنهاور"

❁❁❁

انسان کله، کله دومره مینه کوي چې مینه هم تر پښو لاندې شي.

"پل ادم"

❁❁❁

مین نر و ښځه هرومرو یو بل ته رسېږي که د ډلې په منځ کې هم وي.

"اتبانوي"

❁❁❁

ښځه تل د نر مینې ته ګوري، ځکه نو چې کله نر ښځې ته د مینې خبرې کوي، کوم نوي څه نه ورته وایي.

"اندرې پونیه"

ترهغې چې نر بې پروا وي، بنځې ته ستر و بناغلي بنکاري او پوره هڅه کوي چې لاس ته يې راولي، خو همدا چې له نر نه يې مينه وليده، کلکزړې او بې مينې شي؛ جګ لوکوي او په نر پورې خاندي.

"دشتي"

❁❁❁

مينه په خندونو او ربړو کلکېږي.

"رومان رولان"

❁❁❁

د مينو زړونه ډبرنري وي، په يوه وړه نغوته (اشاره) يا خوښ شي يا غمجن.

"ژوزوف بلاوان"

❁❁❁

مينه د نړۍ جوړوونکې ده.

❁❁❁

د مينې پيوند په ببلتانه څه چې په مرګ هم نه شلېږي.

"وبلتر"

❁❁❁

هرڅوک د بل مينې ته لې‌ونتوب وايي، خو په خپله هم له يوځه نسره مينه لري.

"محمد حجازي"

❁❁❁

مينه له تولو وړو سردردیو نه يوه لويه سردردي جوړوي.

❁❁❁

مينه تر واده خوږه ده، لکه رومان چې تر تاريخ خوږ دی.

"يولتر"

❁❁❁

کېدای شي نارينه په لومړي ځل ليدو په يوه بنځه سر تر پايه مين شي، خو بنځې چې د نارينه شتمني ونه ځېړي نه مينېږي.

❁❁❁

مين د هېچا په عقل و پوهه خپل لېونتوب نه ورکوي.

محمد حجازی

هره بنځه چې ماته ګرانه وه، زه يې نه خوښېدم او د هرې بنځې چې زه خوښېدم زما نه خوښېده. په رښتيا چې زما زړه د نورو غوندې نه دی.

"ناپليون"

❁❁❁

مينه چې په اوښکو ولمبول شي، تل به پاکه او بنکلې وي.

"شيکسپير"

❁❁❁

د بنځې مينه هغه پانګه ده چې سل پر سلو ګټه ونه کړي؛ چا ته يې نه ورکوي.

❁❁❁

اندېښنې، خوبونه، آهونه، هيلې او اوښکې له مينې نه ، نه بېلېدونکي توکي دي.

"شيکسپير"

❁❁❁

خدای بختورو ته داسې زړه وربښي چې د مينې او سوي وړوي. هغه چې د ژوندانه پېښې او انساني زړه يې د مينې او درد په دوه مخې هنداره کې ليدلي نه وي، رښتينولي يې نه ده ليدلې او له نړۍ نه ناخبره دی.

"ويکتور هوګو"

❁❁❁

په لومړنۍ مينې! ستا ياد دېر ځواکمن دی چې تر کلونو ببوزلی او خواری وروسته لاهم زما زاړه، زړه په غورځنګ راولي.

"شاتوبېريان"

❁❁❁

که نن يوې بنځې درته وويل چې "نه" دادې اوسه، سبا به درته ووايي چې "هو" اودهمدغو دوو تکيو تر منځ بنکلې شپې "مينه" ده.

❁❁❁

په مينه کې تينګار زمور کمزوري نښيي، نه ځواک.

لاروشفوکلا

❁❁❁

مينه او ساړه نه پټېږي.

"بنيامين فرانکلين"

خـدای انسـان تـه د مینـې پـه نامـه وازره ورکـړي چـې ده تـه پـرې وروالـوزي.

"میکل آنژ"

❁❁❁

مینه هغه پیری دی چې ټول یې خبرې کوي خو هیڅوا ونه لید.

"شوپنهاور"

❁❁❁

په خوب و مینه کې هرڅه پیښیږي.

"هنکري متل"

❁❁❁

د مینې کتاب مـې پـه ځیر ولوسـت، د خـوښۍ مخونـه پـه کـې لـږ وو نورې ټولې پـانې یـې غملړلـې وې.

"کوبته"

❁❁❁

انسان ته ښایي چې تل مین وي، همدا ده چې نر دې واده نه کوي.

"سکاروایلډ"

❁❁❁

ژوند خوب دی او مینه خوب لیدل.

"الفرد دوموسه"

❁❁❁

مینه اړواړیږې کوي او زړه ژوندی ساتي.

"توماس مان"

❁❁❁

د مینې درومان لیکوال نر او اتله یې ښځه ده.

"هـ – ج ویلز"

❁❁❁

د مینې کروندګر د اوښکو لوګری دی.

"پلینې"

❁❁❁

مینه نړۍ جوړوونکې ده.

"هزید"

هیله د مینې امسا ده.

"ناشناس"

❁❁❁

په بې مینې واده کې بې واده مینه ورننوځي.

"بینامین فرانکلین"

❁❁❁

مینه، درد و توخی نه پتېږي.

"پرانسی متل"

❁❁❁

د هیلې یوه کوچنۍ سپرغی د مینې غټ اور بلوي.

"ستاندأل"

❁❁❁

مینه د ژوند لارې دېوه ده.

"رابیندرانات تاګور"

❁❁❁

که ځان غواړې مینه ګرانه ده، که له ځانه تېر شوې اسانېږي.

"جامي"

❁❁❁

د مینې لارې ببلې، خو موخه یې یوه ده.

"آبل آرمان"

❁❁❁

د خپل زړه پر وړه مې ولیکل: "ننوتل بند دي" خو مینه په خندا رانننوته او ویې ویل: "زه نالوستې یم!"

"هربرت شیپ من"

❁❁❁

مینه د ښځې او نر تر منځ اوږده جګړه دی.

"کلودفادو"

❁❁❁

مینه د ښځې او نر تر منځ جوړښت ده.

"مېرمن دواشتال"

❁❁❁

یوازې مینه د انسان برخلیک ټاکي.

"مایسون"

د مينې په لار کې د عقل پښې ماتېږي.

"ميترلينک"

❁❁❁

مينه تلپاتې سوکالي ده.

"ژرژساند"

❁❁❁

هغه چې مينې ته برید تاکي، په مينه نه پوهېږي.

"الکساندر پوشکين"

❁❁❁

بې مينې ژوند نه کېږي.

"اپلاتون"

❁❁❁

مينه داسې بلا ده چې ټول يې غواړي.

"اپلاتون"

❁❁❁


مينه او مينبدل له هر چا نه شاعر جوړوي.

"اپلاتون"

❁❁❁

په مينه او جګړه کې هرڅه پېښېږي.

"اروپايي متل"



مور

چې مۆر دې نه وي په پلرکنی، هورې ولې ځې لېونی.

"پښتو متل"

❁❁❁

په مورنی مینې! چې تر ټولو مینو سپېڅلې یې، زمونږ ځمکنی ژبه ستا د آسماني لویوالي د ستاینې ور نه ده.

"و. هاروف"

❁❁❁

چې مور یې درخانی وي، لور به یې ښاپیرۍ وي.

"پښتو متل"

❁❁❁

د ملت پر مخټک او د هېواد ودانی ته ترکنې شمېر نورو لوښیو، ښو او روزونکیو میندو ته ډېر اړ یو.

"ناپلیون"

❁❁❁

هغه چې د زانګو پرې یې په لاس کې وي، تر هغو چې د حکومت واکي ورسره دي، خورا اغېزناک دي.

"اسمایلز"

❁❁❁

د ايران پاچا به په رسمي يا نارسمي غوندو کې چې دودی به يې خوړله، د خپلې مور تر لاس لاندې کېناسته.

"پلوتارک"

❁❁❁

چې مور فاسده شي تولنه فاسدېږي.

"اسمايلز"

❁❁❁

ګرانې موړې! کله چې د يادونو په ګوتو د ژوندانه د کتاب پاڼې اړوم او شاته ځم، ستا نوم دېر مخې ته راځي، کله داسې ځای ته هم ورسېږم چې ستا له نامه پرته بل هېڅ نه وي.

❁❁❁

مور د حق څرګندېدل دي، د هغې خوښي د خدای خوښي ده، ښايي خدای خوښ وساتو.

❁❁❁

نبه مور د طبيعت شاه کار دی.

"کرتوي"

❁❁❁

چې سل يې نوروي، يو به يې د مور وي.

"پښتو متل"

❁❁❁

مور اسماني پرښته ده چې خدای د انسان په بڼه رالېږلې.

"دومیستر"

❁❁❁

هغه ښکلکه چې تل د ماشوم په سترګو کې وي، مور ده.

"اسمايلز"

❁❁❁

ماشوم هرڅه له مور نه زده کوي.

"ناپليون"

❁❁❁

موړې! ته به پر تلپاتې اسمان د سپېځلي ستوري غوندې تل ځلېږې.

ايمرمان

یوازې یوه مور د ګرانښت و سوکالۍ په مانا پوهېږي. په نارینه ېې دېر زړه سېزي چې مورنۍ سوکالي پېژندلای نه شي.

"شامپسو"

❁❁❁

مور په یوه لاس زانګو او په بل نړۍ خوځوي.

"ناپلیون"

❁❁❁

چې مور میره شي، پلار پلندر شي.

"پښتو متل"

❁❁❁

یوه ښه مور تر سلو ښوونکیو او استادانو غوره ده.

"ژرژهربرت"

❁❁❁


زه پېنځه دېرش کلن شوی وم، خو مور مې هېڅکله کور نه زما تر رائګ دمخه ویده شوې نه ده.

"اناتول فرانس"

❁❁❁

ارمان به کړې هلکه، بیا به نه مومې ادکه.

"پښتو متل"



موسکا

هغه ورځ چې خندلي مو نه دي ئې ځايه تېره شوې ده.

"شانفور"

❁❁❁

له ژوندانه سره په جګړه کې تر ټولو ښه وسله موسکا ده.

"اناتول فرانس"

❁❁❁

موسکا تريوې شېبې دېره نه پايي خو ياد يې ټول عمر پاتې وي.

"ديل کارنګي"

❁❁❁

د خوارانو موسکا د شوندو او غاښونو له دايرې نه تېرې نه کوي.

"اميل زولا"

❁❁❁

هغه پټه موسکا چې د يوې پيمخې ښځې پر ښکليو شوندو خپرېږي د شعر تر يوه ديوانه دېر، اعصاب لړځوي.

"دشتي"

❁❁❁

د انسان پرمخ به هر ور په يوه موسکا پرانيستل شي.

"فرانکلين بټکر"

ځینې موسکاوې تر ژړا اغېزناکې دي.

❁❁❁

موسکا لکښت نه لري خو ګټه يې ډېره ده.

❁❁❁

موسکا داسې روپۍ ده چې د خپل وپردي زړه پرې رانیول کېږي، خو ډېر يې ارزښت نه پېژني.

❁❁❁

زړه د وجود تر ټولو ښکلې همیانۍ ده، هغه ډالۍ چې له دې همیانۍ نه نورو ته ورکول کېږي "موسکا" نومېږي.

❁❁❁

څومره چې د وګړيو اړتياوې لرې کېږي، هماغومره يې پر شوندو او خوله مالګينې موسکاوې او د خندا څپې خپرېږي.

❁❁❁

خندا په روغ زړه کېږي.

پښتو متل

نر ته نړۍ يوه مسوکا ده او يوه موسکا ښځې ته ټوله نړۍ.

❁❁❁

چې پر شوندو مو موسکا راشي، لکه د انسايت کالي چې اغوندئ.

ويليام شتين

يوه ورځ امريکايي هنرمن "چارلي چاپلين" د خپل زړه د ناروغۍ له کبله ډاکټر ته ورغی. ډاکټر د هغه تر کتلو وروسته ورته وويل: ته يوازې په خندا او خوښۍ روغېدای شې، نو که زما منې د چارلي چاپلين خندنۍ (کومېډي ننداري) وګوره چې ودې خندوي.

چارلي وويل: وبښئ، چارلي چاپلين زه په خپله يم!

❁❁❁

د پاچاهانو ځائ (غوسه) او د ښځو موسکا د تورې تر تېرو تېره دي.

اسپانيايي متل

ښځه او کورنی ژوند

هغه په خپله ښځه ډېر بې باوره وي چې په خپل ځان باور نه لري.

"ناپلیون"

❁❁❁

ناوړه ودونه له وربښمینو توتو سره دوړینو توتو د کندلو غوندې دي، چې په پای کې به وربښم وړی غوځې کړي.

"بالزاک"

❁❁❁

که ښځه نه وی، اتلان به چا روزلي وو؟!

"ناپلیون"

❁❁❁

که نر و ښځه یو ډول روزل کېدای ځواک به یې یوشان و.

"مونتسکیو"

❁❁❁

که ښځې د ټولنې قوانین تر پښو لاندې کوي، پروا نه شته، ځکه چې دا قوانین نرانو لیکلي دي.

"مونتن"

❁❁❁

ماته هغه ښځه ګرانه ده چې مینه ناکه او خواخوږې وي.

"شیکسپیر"

❁❁❁

په نړۍ کې دوه شیان ښکلي دي: ښځه او ګل.

"مالرب"

که د بنځې بنکلا نه وی، هېڅه به بنکلي نه وو.

❁❁❁

بنځه د کاله ډېوه ده.

"حضرت محمدﷺ"

❁❁❁

بنځه تر هرڅه اغلې او بناغلې ده.

"کنفوشیوس"

❁❁❁

ولې د واده خوندونه پرېږدئ او په هغه لېونتوب کې ډوبېږئ چې ځوانې یې "مینه" بولي.

"شاتوبریان"

❁❁❁

نېه بنځه هغه کلکه امسا ده چې مېړه د ژوندانه په کړلیچونو کې تکیا پرې وکړي او په بدمرغۍ او بېوزلۍ کې یې له مینې او غمخورۍ نه ډډ تر لاسه کړي.

"اسمایلز"

❁❁❁

هرڅومره چې د جوړې د تاکلو موده لنډه وي، د پاتې ژوندانه خواشینې به اوږده وي.

❁❁❁

بده ماندینه کړه لښته ده، ماته به شي، سمه به نه شي.

"پښتو متل"

❁❁❁

دوې ورځې د نارینه د خوښۍ وي: هغه ورځ چې واده کوي او هغه ورځ چې خپله مېرمن خاورو ته سپاري.

"ویکتور هوګو"

❁❁❁

د واده له پاره هغه بنځه وتاکئ چې که نارینه وای په دوستۍ به مو منلې وای.

"برودن"

❁❁❁

وادہ د بادام زړی دی، چې ویې نه خورې، پوه به نه شې چې خوږ دی که تریخ.

❁❁❁

مورِ نارینه کـه هرڅومـره ګران، پاخـه، پـوه او تینګ اوسـو، بیـا هـم ښځې او د هغـوی دوه مخـې اروا لوبـې راباندې کـوي.

"دشتي"

❁❁❁

واده یو پیوند دی یا به ښه مېوه ونیسي یا بده.

"ویکتور هوګو"

❁❁❁

د ښځې توپیر له نر سره دا دی چې یا ډېره ښه وي یا ډېره بده.

"ناپلیون"

❁❁❁

کونډه چې ځان سینګاروي، زړه یې مېړه غواړي.

"خوشال خان خټک"

❁❁❁

ښځه د مېړه نېکتایي ده، ښه ښکاري خو سا بندوي.

❁❁❁

هغـه ښځه چـې لـه بـې مینـې مـېړه سـره واده وکـړي، د بداخلاقـی نیمه لار یـې وهلـې ده.

❁❁❁

نـاوړه زوی شـپږمه ګوتـه ده کـه پـرې کـوې یـې درد کـــوي او کـــه ساتې یې بـــده ښکـاري.

"نوذرشهریار"

❁❁❁

ښځې خپلې نیمګړتیاوې په تیلیسکوپ او د مېړه په مایکروسکوپ وینې.

❁❁❁

د واده ګوته د ښکپلاک د زنځیر لومړی کړی ده.

❁❁❁

واده له مینې او سرکه له انګورو جوړېږي.

❁❁❁

بچـي د ســولې د تــړون غونــدې دی، ســره لــه دې چــې دواړه ارخه ترې ناخوښه وي، خو هـرو، مـرو بـه یـې درنـاوی کـوي.

مخکې تر واده پوره سترګې پرانیزئ، خو وروسته تر هغه نیمې.

❁❁❁

له میړه سره د ښځې تاوتریخوالی تل د یوې نوې غوښتنې سریزه وي.

❁❁❁

عیسی علیه السلام یې وپوښته: ولې نه غواړې چې بچي ولرې؟ ویې ویل: زه هغه چا ته څه ارتیا لرم چې: "ان عاش کدني وان مات هدني"

❁❁❁

هغه چې لـه واده نـه ډډه کـوي، ژونـد یـې د چـوپتیـا او سـرګرځون پـه نـړۍ کـې تـیرېږي. داسـې سړی نـه پوهـېږي چـې کـېدای شـي لـه همدې املـه یوه نجلـی بدلمنـی تـه اړشـي.

"برناردن"

❁❁❁

هغـه واده تـه چـې د بـل پـه سـترګو او خـــونبه ترســره شـــوی وي؛ غـــاړه ایښودل دوزخ دی.

"شکسپیر"

❁❁❁

هغه ښځې چې بې مینې واده کوي، وروسته مینېږي او طلاق اخلي.

❁❁❁

زوی تـه چـې دې کلـه وغوښتـل ښځه وکـړه، خـو لـور تـه دې چـې کله وکړای شول مـــړه کـوه.

"بنیامین فرانکلین"

❁❁❁

د ښځې ستره ښېګڼه له خپل میړه سره مینه او رښتینولي ده.

"سه کور"

❁❁❁

سـختی او سـتونزې د کورنـــي ژوندانـــه د ازمـــېښت تـــر تولـــو ښه وسیله ده، څکـه رنـځ و کـړاو د نـر و ښځې رښتینـي اخـلاق رابرسـېروي.

"اسمایلز"

❁❁❁

داسې ښځه مې ده چې خوښي رابښي او له مېوو ډکه ونه مې ده.

"هاردر"

ناپليون په رووستی ليدنه کې خپلې مېرمنې ته وويل: ژوزفين! ما د ځمکې پر مخ هماغومره واک و ځواک لاره چې يو انسان يې لرلای شي، سره له دې هم، دا شپه يوازې همدا ته يې چې زړه مې تکيا درباندې کړای شي او بس.

❁❁❁

بڼځه تر تولو وروستی او بنکلې آسماني ډالی ده.

"ميلتون"

که نيم اسمان د نرو وي، نيم د بڼځو دی.

"ماووخوتونګ"

بڼځه لکه سمندر خورا کوچني او سپک فشار ته نه ټينګېږي، خو دېر درانه بارونه پورته کوي.

"رايموس"

بڼځه هغه پرېښته ده چې په ماشومتوب کې مو پالنه کوي، په ځوانی کې مو هيلو ته رسوي او په زړښت کې ډاډ رابښي.

"آره تسن"

بڼځه هغه لرم دی چې چيچل يې بد نه دي.

"حضرت علی ک"

بڼځه د نر امېل دی، پام کوه چې غاړې ته څه اچوې!

"حضرت صادق ع"

چې بڼځه نه وي او د موسکا رڼا يې د ژوندانه تيارې روښانه نه کړي، تولې خوښۍ به مراوې او بنکلاوې به يې خونده شي.

"دشي"

بڼځه سيوري ته ورته ده، که ورپسې شې تښتي، که تــرې روان شې درپسې شــي.

❁❁❁

بڼځه هغه کتاب دی چې يې مينې نه لوستل کېږي.

❁❁❁

بڼځه هغه هېنداره ده چې مــرور مخونــه موسـکي او زړې څېرې ځواني ښيــي.

ښځه د اوبو غوندې ده چې له دې پوستوالي کـــه پـــه هـــرچـــا پېرېال کې ولـــوېږي د لـــونبي بـنه غـوره کـويۍ، هـر مـېړه چـې لـه خپلـې ښځې مرور دی، نیمګړتیـــا دې په خپـل ځان کـې ولـتوي.

❁❁❁

ښځه تاج دی.

"هرود"

❁❁❁

یه ځمکنی پربښتې! یه زړه وړونکې اسمانې دالی! ته یوازینی لمر یې چې زمورِ ژوند روښانولای شې.

"لامارتین"

❁❁❁

ښځې! غواړم خپل تول شته ستا پښو ته وشیندم.

"شکسپیر"

❁❁❁

ښځې ! ته د سپېڅلتیا له پاره رالېږل شوې یې.

"جونسون"

❁❁❁

ښځې! ته پربښته یې خو خپلواکه نه یې، ځکه چې تر پربښتې پورته ځای لرې.

"رایترج"

❁❁❁

ښځه د خلقت (زېږندویی) د رازونو خزانه ده.

"کارل کوتزکو"

❁❁❁

یوازې همدا ښځه ده چې د سپېڅلې مینې رښتینولې پېژني.

"شیکلر"

❁❁❁

ښځه ژور وینې او نر لرې، نړۍ د نر له پاره یو زړه دی، او زړه د ښځې له پاره ټوله نړۍ.

"کرابه"

❁❁❁

ښځه له رازونو داسې ډک زړه لرې چې هېڅ ژبه یې سپړلای نه شي.

"ستوري"

په ښځه کې داسې راکښون دی چې نیمګړی عقل پرې نه پوهېږي.

"اسیون"

❁❁❁

ښځه سپوږمی ده چې په اسمان کې زمونږ پر سر خپلواکه ګرځي او هر ځای ته چې ځي نړۍ ته رنا وربښي.

"الکساندر پوشکین"

❁❁❁

ښځه که منلې وي د خدای پېرزوینه ده او که نه آسماني بلا.

❁❁❁

ښځه اور دی چې نر له لرې تودوي او له نژدې یې سږي.

❁❁❁

ترځینې ښځې تود پیتاوی ښه وي.

"پښتو متل"

❁❁❁

ښځې د کب غوندې هوسا لاس ته راځي خو په سختۍ ساتل کېږي.

❁❁❁

هغه ښځه چې په زړښت کې سپېځلتیا غوره کړي، خدای ته هغه څه وړاندې کوي چې شیطان ته یې له ښکلو شرمېږي.

❁❁❁

ښځې د ماتې په شیبه کې هم د جګړې تاوان غواړي.

❁❁❁

مېرمنې یوازې د دې له پاره غوښتنه نه مني چې بیا په کلکه غوښتنه ترې وشي.

❁❁❁

ښځه داسې متروکه ده چې خورا بېلارې نارینه هم لارې ته راولي.

❁❁❁

که غواړئ چې د یوې ښځې اخلاقي زوړرتیا و ازمېئ، پر وړاندې یې یوه ښکلې مېرمن وستایئ.

❁❁❁

ټولې ښځې ځند باورې دۍ، پرته له هغې شیبې چې د چا له خولې نه خپله ستاینه واوري.

❁❁❁

که یوې ښځې درته وویل چې: "نه بابا! اوس له مانه تېره ده" پوه شئ چې زړه یې غواړي، نو سملاسي د اعتراض په لټه کې شئ.

د ښځې زړه داسې ګرنګ دی چې هېڅوک ې تل پېژاندلای نه شي.

❁❁❁

د ښځې تر ټولو ځواکمن ساتندوی بدرنګي ده.

❁❁❁

د ښځې کاته تر قوانینو زورور او اوښکې یې تر شرعي ځواکونو اغېزناکې دي،

"وېلتر"

ځینې ښځې د کاغذي ګلانو غوندې دي، چې ورنېژدې شې او بوی یې کړې هېڅ مو نه خوښېږي.

❁❁❁

د کب لکۍ او د ښځې زړه ساتل ګران کار دی.

❁❁❁

یوې بودۍ مېرمنې د نارینه وو لېونتوب ته درې ځله داسې ګوته ړنیوه:

لومړی- پر مرګ پسې جګړې ته ځي او یو بل وژني، خو که تم شي ټولو ته به مرګ په خپله راشي.

دویم- پر مېوه پسې ونې ته خېژي یا یې پرځمکه راغورځوي خو که ډیل وکړي مېوه به په خپله راولوېږي.

دریم- چې تر پورتنیو دوو، ستر لېونتوب دی او هغه دا چې پر ښځو پسې مندې وهي خو که ځان ټینګ کړي ښځې به پر دوی پسې راوځغلي.

❁❁❁

که د ښځې زړه د سینې د پټو پردو تر شا ټوپونه ونه وهي او دا زړه زاکښونکې په خپل مخ، سترګو او کتلو کې ښکلا ونه ښیي، د نر فکر به خپلواک، سوکاله او آرام وي.

❁❁❁

ښځه هغه ژوی دی چې اوږده وېښته او لنډ فکر لري.

"شوپنهاور"

❁❁❁

د ښځو نه عقل خوښېږي او نه پخه مېوه.

"بالزاک"

ښځه د سره ګل غوندې ده، چې مړاوی شي ژر رژېږي.

"شکسپیر"

کېدای شي بې ښځې ژوندي پاتې شو خو ژوند نه شو کړای.

"فریدریک رینولد"

❁❁❁

ښځه هېڅکله نه وایي چې راته ګران یې! خو که له تانه یې وپوښتل چې زه درته نه یم ګرانه؟ پوه شه چې د هغې په زړه کې دې ځای نیولی دی.

❁❁❁

د ښځې بې پروایي د هغې ښکلا دېروي.

"لاروشفوکولد"

❁❁❁

دوې ښځې د دې له پاره ملګرتیا کوي چې له دربیمې سره دښمني وکړي.

"آلفونس کار"

❁❁❁

دا لا ښځه کمزورې ده چې نر یې پر دې ورځ اخته کړی، که زوروره وای څه به یې کېول؟

❁❁❁

د ښځې وهل که د ګل په څانګه هم وي؛ ښه نه دي.

"مانو"

❁❁❁

هېندوانه او ښځه له لرې نه نه پېژندل کېږي.

"پرانسي متل"

❁❁❁

د ښځو پرمخ داسې پورې دی چې څو ګیلاسه شراب به یې ترې وغورځوي.

"پرانسي متل"

❁❁❁

د ګرانښت ور او پر زړه پورې ښځه هغه ده چې تول یې وینې، له همدې امله ده چې هنرمنې ښځې هرچا ته ګرانې دي.

"بالزاک"

❁❁❁

ښځه د ګل غوندې ده چې په بویولو څه ترې نه کمېږي.

"سعید نفیسي"

ښځه هماغه ښاشوم دی. خو لږ څه ښځ.

"کلیویول"

❁❁❁

که لـه شـتمن پـاتکي څخـه دې ښځه وکـړه، د خپلوانـو پـر ځای بـه بادارن ولـړې.

"کلیویول"

❁❁❁

که غواړئ چې د یوه ملت د تمدن و پرمختګ جاج واخلئ، ښځو ته یې وګورئ.

"ناپیلیون"

❁❁❁

د ښځې ښکلا تر هرې ښکلا اوچته ده.

"فونتنل"

❁❁❁

نارینه قانون جوړوي، ښځې اخلاق.

"کوندورسیه"

❁❁❁

د ښځو دنده د نارینه وو اخلاقي روزنه ده.

"وېلتر"

❁❁❁

دېره خوښه یم چې نر نه یم، که نه ار به وم چې له یوې ښځې سره واده وکړم.

"میرمن دواشنال"

❁❁❁

ښځه خپله مینه تر څلوېښتو کلو پورې پټولی شي، خو کرکه یې یوه شېبه هم نه پټېږي.

"ناشناس"

❁❁❁

مینه هغه ناروغي ده چې ښځه یې زېږوي.

"میرمن دواشتال"

❁❁❁

زما د ټول ژوندانه بریاوې، هڅې، پوهه او ویاړونه له ښځې سره په یوه شېبه مینه نه ارزي.

"وېلتر"

ښځه او هندارې ژړ ماتېږي.

"ايتاليايي متل"

❁❁❁

د ښځو غوښتنې برېد نه پېژني.

"بوالو"

❁❁❁

چوپتيا د ښځې غوره ښکلا ده.

"ساپوکل"

❁❁❁

ښځو ته هغه نارينه ګران وي چې پوره مينه ورسره کوي، کــه څه هــم چې د نارينه سر د پنبې غوندې سپين او مخ يې له ګونځو ډک وي.

"ګوري"

❁❁❁

د نر ستونزې تر ښځو ډېرې دي او سترې ستونزې يې له ښځو سره چال چلن دی.

"پرانسواز ساګان"

❁❁❁

تر ټولو بختور نارينه "آدم" و چې خوابنې يې نه وه.

"پل پاريي"

❁❁❁

ښځه هم منه ده، هم مار.

"هاينه"

❁❁❁

ښځه په نارينه او شيطان په ښځه لوبې کوي.

"ويکتور هوګو"

❁❁❁

ښکلي ګلان شته چې د بويولو نه دي او ښکلې ښځې هم شته چې د ګرانښت نه دي.

"هويل"

❁❁❁

ښځه له هوښيار نه لېونی او له لېوني نه هوښيار جوړوي.

"محمد علي جمالزاده"

هو! دغه دي ښځې. چې درته ګراني وي ورته نه يې ګران. چې درته نه وي ګراني ورته ګران يې.

"سروانت"

❁❁❁

يوه وويل: زه له خپلې ښځې دومره وېرېږم چې هرڅه وايي هغه کوم.
بل وويل: زه يې ويلو هم د هغې په خوښه کار کوم.
دريم غږ کړ: زه هېڅکله يې له څه ډالۍ کور ته نه شم تللی.
څلورم وويل: ما له ډاره بيخي ښځه نه ده کړې.

"کل پاچا الفت"



هنر

يوازې هنر و ادب دی چې د تحت الشعور ناسپړلې خزانه راسپړي او له شعور سره پيوند ورکوي.

"پوهاند ډاکټر زيار"

❁❁❁

چې ژوند لاس تر زنې شي، هنر لاسونه رابډوهي.

"واکنر"

❁❁❁

هنر هم د ژوندانه غوندې بې له خپلواکۍ او پرمختګه بله موخه نه لري.

"بتهوون"

❁❁❁

هنر د قانون له چوکاټه وباسئ او په خپله بنکلې او طبيعي بڼه يې بنکاره کړئ.

"بيزه"

❁❁❁

ترهغې چې د پوهې او هنر په زده کړه کې سيالي ونه کړئ. لوی به نه شئ.

❁❁❁

هنر من په رياضي نه پوهېږي.

"شوپنهاور"

❁❁❁

خدايه! هنر څومره اوچت او ژوند څومره لنډ دی.

"ګوټه"

پوهه او هنر که په هر ځای او هر ملت کې راوپنځېږي، ټوله نړۍ ترې برخمنېږي.

"پوشکین"

❁❁❁

په هنر کې هم د ژوندانه غوندې خپلواکي او پرمختګ دی.

"بتهوون"

❁❁❁

هنر یو دښمن لري چې جهالت نومېږي.

"بن جانسن"

❁❁❁

هنر ځواک دی.

"انګرېزي متل"

❁❁❁

هنر یوازې ځان څرګندوي.

"سکاروایلد"

❁❁❁

هنرونه ټول سره ورونه دي، هریو پر بل وړانګې اچوي.

"وېلتر"

❁❁❁

پنځ (طبیعت) د خدای هنر دی.

"دانته"

❁❁❁

هنرمن ته ښایي چې هنر څرګند او ځان پټ ګړي، همدا ده د هنر موخه.

"سکاروایلد"

❁❁❁

هنر د ربستینې نړۍ تر څنګ د ایدیالي نړۍ جوړول دي.

"اپلاتون"

هنر د ژوندانه دودۍ نه ده. خو د ژوندانه شراب دي.

"ريشتر"

❁❁❁

هنر د ژوندانه نچور دی.

"پل والري"

❁❁❁

هنر د ژوند پوهنې کيلي ده.

"سکاروايلد"



شعر و موسيکي

خپلو بچيانو ته شعر ورزده کړئ، ځکه چې شعر يې ذهن پراخوي او زړورتيا وربښي.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

ادبيات د تمدن او شعر د هيلو پټ راز دی.

"ويکتور هوګو"

❁❁❁

د سترو شاعرانو په شعرونو ستر شاعران پوهېږي.

"تورو"

خوشال په ټوله مانا شاعر دی، خو رحمان تر شاعر پورته مقام لري.

"قيام الدين خادم"

❁❁❁

رښتينی شاعر د بشر ښوونکی دی.

❁❁❁

شاعري اوچت هنر دی.

"کانت"

❁❁❁

شعر ويده اروا راويښوي او فکر، رښتيا پيژندلو ته چمتو کوي.

"شلی"

شعر د بشري پوهې يوه برخه ده.

"بيکن"

شاعر د ژوندانه له زهر لړليو شونډو نه شات ځڅوي.

"ويليام روزبنت"

❁❁❁

موسيکي خوندور هنر دی، خو څه نه رازده کوي، هغه څه چې د انسان اروا ته خواړه ورکوي او زده کېدونکي دي: شعر نومېږي.

"شللي"

❁❁❁

شعر چې له موسيکی نه بېل شي، وچېږي.

"ازراپاوند"

❁❁❁

شعر يوا نځور دی چې غږېږي او انځور يو چوپ شعر دی چې شونډه به يې ونه خوځېږي.

"سامونيد"

❁❁❁

شعر د اوچت هنر يو ډول دی، له همدغه کبله تلپاتې ښکلا ښه څرګندوي.

"کوزن"

❁❁❁

شاعران د نړۍ ناپېژندل شوي قانون جوړوونکي دي.

"شلي"

❁❁❁

لمر ختيځ د شعر د الهي ملګری دی.

"اناتول فرانس"

❁❁❁

هغه چې په شعر نه پوهېږي په ماغزو کې يې ژمی دی.

"محمد ـ جازی"

❁❁❁

بدمرغي به وي که وغواړو چې په اقتصاد و سياست کې هم شاعر واوسو.

خداى شاعر رالپړلى دى.

"چارلز وسلي ابرسن"

❁❁❁

بدمرغه او خوږدلي خلک په خواری او ماتې کې شعر ته مخه کوي او هغه څه چې له غم وکړاوه يې زده کوي، په خپلو شعرونو کې يې نوروته ښيي.

"شللي"

❁❁❁

"دوما" له "روپول" نه وپوښتل چې کومې پېښې شاعر کړي؟ هغه بې ډيله خواب ورکړ: "کړاو او بدبختي".

❁❁❁

د انسان په ارواکې د موسيکی وزن و نغمه لوی اغيز لري او که سم وکارول شي د بنکلا مانا ورپېژندلای شي.

"اپلاتون"

❁❁❁

هلته چې وينا دربړي موسيکي پيل شي.

"واګنر"

❁❁❁

په تولو هنرونو کې موسيکي د انسان مينه ډېره راپاروي، د يوه استاد له لاسه يوه بنکلې پارچه پر زړه باندې د اخلاقو تر يوه کتابه ډېر اغيز لرلای شي.

"ناپليون"

❁❁❁

د موسيکی پوهېدنه او پېژندنه تر هرې پوهې او فلسفې اوچته ده. که چا زما د موسيکی ژوره مانا وپېژنده له تولو هغو بدمرغيو څخه به چې خلک پرې اخته دي؛ وژغورزل شي.

"بتهون"

❁❁❁

موسيکي درانه خو بې خونده غږونه دي، زما، تر خورا زړه راکښونکيو نغمو هم چوپتيا خوښږي.

"ګوبته"

موسيکي هغه هېواد دی چې زما زړه په کې اوسېږي. دلته له هرڅه نه بنکلي کلان راتوکېږي او هېڅ ناکاره بوتي په کې نه شته. خو داسې خلک لږ دي چې د موسيکی په هره توته کې پراته شور ته خير شي.

"بتهون"

❁❁❁

په هر شي کې موسيکي شته. خو هغه يې اوري چې تېز غوږونه لري.

"لرد بايرون"

❁❁❁

موسيکي د ژبې پيل و پای دی، لکه احساسات چې د پوهې او کيسه چې د تاريخ سر و پای دی.

"واګنر"

❁❁❁

موسيکي د غږونو کورواليی دی، په هغې کې نېغه کرښه د يوه غږ له جوړېدو پرته مانا نه لري.

"علي دشتي"

❁❁❁

موسيکي په خپله له خورا پراخ لمنو بنکليو هنرونو څخه ده چې ټول طبيعت په کې ځايېږي او که يوازې هنر ورته وويل شي ارزښت يې کمېږي.

"نيکولايويچ سروف"

❁❁❁

موسيکي اوچت هنر دی چې کې شمېر ناپېژندوی او ناڅرګند تکي راسپړلی شي او هغې نړۍ ته مو بيايي چې انسان تراوسه نه ده لېدلې.

"واګنر"

❁❁❁

بشر په ژوندانه کې موسيکی ته اړتيا لري. موسيکي د انسان د ځېرنې، ځيرتيا، پوهې، حس، لېدلو، ارزونې او په پای کې د مينې خواک پياوړی کوي. تاسې يوه شېبه اروا زما لاس ته راکړئ، زه به د موسيکی په مرسته شېلتوب وتيارې ترې لرې کړم او ببرته به يو پوه او مېرنی سړی دروسپارم.

"اپلاتون"

❁❁❁

ليکوالي

جرمنان نور څه غواړي، آيا "ما" نه لري؟

"کوښته"

❁❁❁

کېدی شي چې نور کارونه په زور وچلېږي، خو قلم نازک شی دی، پر ده چې زور راشي ماتېږي.

"قيام الدين"

❁❁❁

تر هغې چې دا دب قلم زما په لاس کې دی، داغم نه راځي چې د پاچاهی تاج مې پر سر نه شته.

"وېلتر"

❁❁❁

مطبوعات د نوي تاريخ بنسټ دی، هغه چې د مطبوعاتو د آزادی مخه نيسي، د خپل هېواد و ملت تاريخ ته خيانت کوي.

"پوانکاره"

❁❁❁

هغه چې غواړي ليکوال شي، لومړی دې دېر څه زده کړي.

"داربدن"

د هر چالیکنه هغه په خپله دی.

"بوفن"

❁❁❁

د لیکلو له پاره ژوند وکړه، د ژوند کولو له پاره مه لیکه.

"ژول رنارد"

❁❁❁

د دې له پاره چې ښه ولیکو، یوه ازاد هېواد ته اړتیا لرو.

"وېلتر"

❁❁❁

هماغه څه ولیکه چې ستا خوښېږي.

"کوستاوفلویر"

❁❁❁

د ورځپاڼې لیکوال د تولنې څارندوی دی، د دندې مخه یې مه نیسئ.

"میرمن امیل زولا"

❁❁❁

دېر فکر وکړه، لږ وغږېږه، ښه ولیکه.

❁❁❁

هره پوهه چې ونه لیکل شي له منځه ځي.

"حضرت امیرع"

لیکوال هغه دی چې تیت خلک پورته بوځي.

"عمر خیام"

❁❁❁

ننني زوښانه ژوند وسمه روزنه د پرونیو لیکوالو د فکرونو زېږنده دی.

"حافظ عفیفی پاشا"

❁❁❁

پخواني لیکوال غښتلي پاچاهان دي چې لا د خپلو قبرونو له منځه پر مور پاچاهي او واکمني کوي.

"پرانسي شاعر"

❁❁❁

ورځپاڼه د فرهنګ د خپرونې تر ټولو اسانه لار او د پرګنو د راویښولو تر ټولو ستره وسیله ده.

د هـر هـېواد د وړځپـانو د يـــوې کنې پـــه لوســـتلو د وکړيـــو خپلواکـي. د حکومـت د بنسټونو کلکـوالی، ملـي وده، فرهنـکي روزنـــه. فکري ځواک وارواېي پياوړتيـا پـېژنـدلای شـو.

❁❁❁

له يوه خونړي لښکر نه چې له زرګونو تکړه سرتېريو څخه جوړ شوی وي، دومره نه ډاريږم، لکه له څلورو ورځپانو څخه چې زما مخالفې وي.

"ناپليون"

❁❁❁

په هرځای کې چې ورځپانې چوپ شي، د اوښتون (انقلاب) و جګړې اور بلېږي.

❁❁❁

هرځوک په ځانګړي ډول د پرانسې د ويارونو، برم، پرتم و خپلواکی د ساتلو دنده لري، يو يې په توره، بل يې په قلم.

"مېرمن اميل زولا"

❁❁❁

په زور واکـو هېوادونـو کـې د توکـــو ليکـــل دومـــره دود نـــه دي، ځکه چوپتيا او ناپوهـي نـه د ليکلـو وړتيـا روزي، نـه يـې اراده.

"مونتسکيو"

❁❁❁

د هـر تـېرې او زورواکـی سـريزه د فکرونـو مـرورل او د مطبوعـــاتو د آزادی مخنيـوی دی، لکـه د هـرې غـلا او جنـايت ســريزه چـــې هـــم د خولو تـــرل او د مرسـتبولو چېغـو مخنيـوی وي.

❁❁❁

هرځوک له خپلې ليکنې نه پېژندل کېږي.

❁❁❁

که ما وپوښتي چې زمور په هېواد کې دې بې ورځپانې دولت که بـــې دولته ورځپانه کوم يو خوښ دي؟ زه به وروستی خبره غوره کړم.

"جفرسن"

❁❁❁

زه د خپل ټاټوبي بده ورځ د مصر د ليکوالو او تبليغاتو په سترګو وينم.

"توفيق الحکيم"

د نومیالیو لیکوالو ارزښت دا دی چې هغه څه چې نورو لیدلي دوی څرګند کړای شوي دي.

ژوبرت

❁❁❁

مطبوعات مو ښوونځی، جومات و فکري زېرنـدوی دی. زمـوږ د تمدن په ټولـو نـښو کـې مطبوعـات يـوه لوړښـت جـګ ولاړ دي او تـر هـر بل څواکه مـو د ژوندانـه ډېره ساتنه کـوي.

❁❁❁

هېڅ لیکوال نه شي ویلی چې تېر به نه وځي، یوازې هغوی چې هـېڅ کله يې لیکوالي نه وي کړې داسې ګڼي چې لیکوال له تېروتنې بچ دی.

❁❁❁

زما لیکنې به ستاسې خوښې نه شي، خـو زه هـڅه کـوم چـې د خپلـو فکرونو په ناولي بوی د بشریت د بویولو حس راوینې و پیاوړی کړم.

"میرمن امیل زولا"

❁❁❁

لیکوال د خپلې لیکنې د اغېز مسؤول دی، دخوږو او زهرجنو کرښو پرځای دې ترخې او ګټورې خبرې ولیکي.

❁❁❁

کنځل د تباه کار دلیل دی.

"ژان ژاک روسو"

❁❁❁

سره لـه دې چـې زه د وینـا پـه سیاسـت ګروهمـن نـه یم او یـوازې وسـپنه او اور منـم، خـو سـربېره پـر دې هـم وایم چـې دغـو شـیطانانو (لیکوال) مې ډېرې شـپې لـه سترګو نـه خـوب تښتـولی دی.

"بیسمارک"

❁❁❁

هغه قلم چې په ربړتینواله او نیـاو چلـېږي، تـر هـرې وسـلې او تـورې پیاوړی او تېره وي.

"امیل زولا"

❁❁❁

انګرېزان وایي: سروزیر کېدل د "تایمز" ورځپاڼې تر سرمشری آسان دي.

هغه ليکوال چې په خپله ليکنه کې داسې څه راولي چې د ده اروايې نه مني: دېر ورکلاری دی.

"اناتول فرانس"

❁❁❁

هر مهال چې زما د پلاز (تخت) پښې ورپېږي، زه وايم چې بيا يوه خپلواک ليکوال قلم راواخيست.

"د پرانسې پاچا"

❁❁❁

ليکوال د تولنې څارندوی دی او هر څارندوی چې جنايت وينې او سترګې پرې پټوي له تولنې سره خيانت کوي.

❁❁❁

د بريتانيا په سياسي کړيو کې ويل کېږي چې بريتانيا په هېواد کې دوه استازي لري: د حکومت استازی او د "تايمز" خبريال، دېر کله حکومت د تايمز د خبريال وينا د خپل استازي تر هغې دادمنه بولي.

❁❁❁

د نبو مطبوعاتو خاوند نبار څارندوی او زندان ته اړتيا نه لري.

❁❁❁

هغه ليکوال ته چې خلک ګران نه وي، لوستونکي به هم د هغه ليکنې خوښې نه کړي.

"کولېه"

❁❁❁

وينا

د نر ښکلا ژبنی فصاحت دی.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

ځينې ويناوې جادو دی.

"حضرت محمدص"

❁❁❁

چوپتيا د تفکر بڼ دی.

"حضرت علیع"

❁❁❁

يا داسې وينا ولره چې زړه يې ومني، يا داسې زړه ولره چې وينا ومني.

"محمد حجازي"

❁❁❁

چوپتيا نه تېروځي.

"هندي متل"

❁❁❁

يوه اوږده وينا کارونو ته پرمختګ نه وربښي، لکه يو اوږد کوټ چې په ټګ کې مرسته نه کوي.

"تاليران"

له شخړې نه داسې تښته لکه له زلزلې او مار نه چې تښتې.

"ديل کارنګي"

❁❁❁

اوربدل زده کړئ او غږېدونکی وهڅوئ چې د ځان په اړه وغږېږي.

"ديل کارنګي"

❁❁❁

سوچ کوه بيا غږېږه چې تېر نه وځې.

"حضرت محمدﷺ"

❁❁❁

د يوې سوچه خبرې ارزښت تر دوو سوګندونو ډېر دی.

"امريکايي متل"

❁❁❁

انسان د خپلې ژبې تر شا پټ دی.

"تازی متل"

❁❁❁

ژبه مه پرېږده چې تر فکر له مخه ګام کېږدي.

"شيلون"

❁❁❁

بنګلې خبره وسپنيز ورپرانيزي.

"يوګوسلاوي متل"

❁❁❁

د خبرې خوړل د ګېډې درد نه پيدا کوي.

"چرچيل"

❁❁❁

ياسم وغږېږه يا د هوښيارۍ په دود چوپ پاتې شه.

"ژرژهربرت"

❁❁❁

دناوړه وينا اوږدول په ويونکي کې د سړيتوب د کمي څرګنده نښه ده.

"ګوستاولوبون"

❁❁❁

ترخه خوره، خو ترخه مه وايه.

"پښتو متل"

بد اند يوازې د هغه خاوند ته تاوان رسوي، خو ناوړه خبرې ټولو اوربدونکيو ته.

❁❁❁

که ټول خلک ښه نه شي غړېدای، چوپ خو پاتې کېدی شي.

❁❁❁

هره وينا چې د ځانځانی له مخې وي، غړ به يې يوازې د ويونکي په تېر کې خپور شي.

❁❁❁

غړېدونکي يې کري، اوربدونکي يې ربيي.

"حضرت علي ک"

بې فکره وينا بې موخې غشی ويشتل دي.

❁❁❁

چې ډېر پوهېږي لږ غړېږي، چې لږ پوهېږي ډېر غړېږي.

"ژان ژاک روسو"

❁❁❁

له زړه نه راوتلې وينا پر زړه کښې او له ژبې نه راوتلې هغه له غوږ نه تېری نه کوي.

❁❁❁

لږ پوهېدل او ډېر غړېدل، روپی نه لرل او ډېر لګول دي.

❁❁❁

داسې څه ووايه چې ارزښت يې تر چوپتيا ډېر وي.

❁❁❁

ډېر ويل د پوهې او تفکر مخه نيسي.

❁❁❁

هرڅه چې وايئ، پوه شئ چې چا ته يې وايئ.

"پاسکال"

❁❁❁

ګره م هغه دی چې د ښو خبرو پر ځای د خوښی خبرې کوي.

"دموستنس"

❁❁❁

که وګړي د يوه بل د زړونو په ژبه پوهېدلی، کړکېچونه به نه وو.

❁❁❁

هغوی چې اوچت آند و واند (فکر و خيال) نه لري هڅه کوي چې خپله نيمګړتيا په ښکليو او غولوونکيو خبرو پټه کړي.

ګوښته

د هرڅه په اړه چې غږږې فکر کوه، خو هرڅه چې فکر کوې. مه يې وايه.

"هندي فيلسوف"

❁❁❁

که پوه شو چې له خولې مو هره وتونکې وينا د يوې تيرې په ځېر د دوست و دښمن په ودانۍ کې کارول کېږي، نو هڅه به وکړو چې بې ځايه او بې ارزښته ونه غږږو.

"ډاکټر ماردن"

❁❁❁

چوپتيا پېژندګلوي رابښي.

"راماکريشنا"

❁❁❁

د يوه هوډمن وروزلي ځوان په برې کې چې لوړې موخې او غوښتنې ولري؛ پوره ډاډ لرم، خو چې نښه ويايد وي.

"جالوشا. ا. ګرو"

❁❁❁

يا چوپ اوسه يا داسې څه ووايه چې تر چوپتيا غوره وي.

"فيساغورس"

❁❁❁

غږږدل اړتيا ده، اوږدل هنر.

"ګوپته"

❁❁❁

تر وينا وروسته چوپتيا ستر ځواک دی.

"پرانسي پوه"

❁❁❁

ربنتيا وايه او سم غږږه، د تريخوالي پروا مه کوه.

"انوشيروان"

❁❁❁

د يوې ګروهې (عقيدې) ارزښت ټاکنه د هغې د ربنتينولي پر ځای د ويونکې په هغه پوهه پورې تړلې چې د هغې په ځرګندولو کې يې کاروي.

"ګوستاولوبون"

❁❁❁

چوپتيا تر ډېر ويلو غوره ده.

فاتهوب

په وينا کې د بل پېښې مه کوئ.

❁❁❁

ساده او روانه وينا ښه ده، خو د کوڅې او بازار په ژبه نه

❁❁❁

سوړ چای او سړې وريجې زغمل کېږي، خو ساړه کاته او سړه وينا د زغملو نه دي.

"چيني متل"

❁❁❁

تيږه په اوبو کې نه ورستېږي او د ښې وينا اغېز له منځه نه ځي.

"هندي متل"


❁❁❁

خپله خوله هم کلا ده هم بلا.

"پښتو متل"

❁❁❁

ژبه د تمدنونو تر منځ پول دی.



مرګ

چې څوک مړ شي، خلک وايي: "شاته يې څه پرېښودل؟" او پرښتې وايي: "مخکې يې څه ولېږل؟"

"حضرت محمدﷺ"

مرګ مه غواړئ.

"حضرت محمدﷺ"

بې مرګه به ژوند ارزښت نه لاره، ځکه له مرګ نه وېره ده چې دومره يې ژوند غوښتی او خوندور کړی دی.

"موريس ميترلينک"

مرګ و خوب يو شی دی.

"پښتو متل"

هره زانګو يو ګور دی.

"ويکتور هوګو"

مرګ په ډول و سورنې نه راځي

"پښتو متل"

په ولاړه مرګ تر پلتنې وهلې ژوند غوره دی.

"دولورس اباروري"

❁❁❁

مرګ څه خبره نه ده، ژوند نه کېدل ډېر بد دي.

"ویکتور هوګو"

❁❁❁

د هیلې مړینه ربستینې مرګ دی.

"ناپیلیون"

❁❁❁

تر مړینې بد څه دي؟ هغه څه چې تر راتلو وروسته یې مرګ غواړې.

"ویکتور هوګو"

❁❁❁

وروستی غړی چې د ښځې په وجود کې مري، هغه ژبه ده.

"هندي متل"

❁❁❁

ژوند مو چېرته وپېژاند چې مرګ وپېژنو.

"کنفوسیوس"

❁❁❁

له مرګه مه وېرېږئ، ځکه چې تریخوالی یې په همدې وېره کې دی.

"سوکرات"

❁❁❁

که خپلواک ژوند مو ونه موند، ښه ده چې مرګ ته غېږ پرانیزئ.

"مهاتما ګاندي"

❁❁❁

که مرګ نه وی، ژوند به خوږ و خوندور نه و.

"مینترلینک"

❁❁❁

پر هغه کال چې انسان له کاره ولوېږي، ښه ده چې پر بل کال مړ شي.

اډېسن

انسان ټول ژوند زده کړه کوي، خو بیا هم ناپوه مري.

یوګوسلاوي متل

چې هڅه دې پرېښوده، ژوند دې هم پرېښود.

"چيني متل"

❁❁❁

مرګ ته زوړ و ځوان يو دی.

"پښتو متل"

❁❁❁

د مرګ پر وړاندې بې پروايي ستره اخلاقي ښېګڼه ده.

"مونتني"

❁❁❁

ژوند هېڅا ته دومره خوږ نه ښکاري، لکه هغه ته چې د مرګ وېره يې له زړه نه ويستلې وي.

"ژورژويلسون"

❁❁❁

مرګ تر زېږېدو سخت نه دی.

"اناتول فرانس"

❁❁❁

که مېړنی ژوند نه وي، مېړنی مرګ خو شته.

"علامه اقبال"

❁❁❁

مرګ په ماړه نس ښه دی.

"پښتو متل"

❁❁❁

تر ټولو بې زړه او ډارن سړی وژل کوي.

❁❁❁

د غټ زړه خاوند ځناور هم نه وژني.

❁❁❁

هغه چې بل وژني هرو، مرو ډېر ترې وېرېږي.

❁❁❁

وژونکي تر وژل شوي بې زړه وي.



اخځ

۱- سیری در بزرگ ترین کتابهای جهان، حسن شهباز، لومړی توک، ۱۳۵۳ کال.

۲- سیر حکمت در اروپا، ویل دورانت، د فروغي ژباړه.

۳- یأس فلسفی، مصطفی رحیمی، ۱۳۵۳ کال.

۴- رسالت روشنفکر در ساختن جامعه، ډاکټر علی شریعتي.

۵- نگارش و تفکر ، د نکهت سعیدي ژباړه.

٦- پوهه او ګروهه، پوهاند ډاکټر زیار

۷- افکار جاوید، غلام رضا واحدي.

۸- څه لیکل یا لیکپوهه، ګل پاچا الفت.

۹- رمز پیروزي مردان بزرګ، جعفر سبحاني ۱۳۴۷ کال.

۱۰- د خوشال خان خټک دیوان.

۱۱- اندیشه های مردان بزرګ، مهر داد مهرین، درییم چاپ ۱۳۴۴ کال دنیل خپروني.

۱۲- پښتو متلونه، محمد دین ژواک، پښتو ټولنه، ۱۳۴۴کال.

۱۳- رهنمون، غلام حسین ذوالفقاري، انتشارات سخن.

۱۴- ضرب الامثال و کنایات، ډاکټر عبدالغنی برزین مهر، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور ، ۱۳۷۸ کال.

۱۵- خیالي دنیا، قیام الدین خادم، پښتو ټولنه - کابل.

PROPERTY OF ACKU 8636

PROPERTY OF ARIC Established

دانش خیرندویه
+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳: